# زه د چالور نه یم

ناول



Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: 0093779815770
Facebook: آرمان پښتو کتابتون

لیکوال: عنایت الله
ژباړن: مبارک شاه داودزی

Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: 0093779815770
Facebook: آرمان پښتو کتابتون

# زه د چا لور نه یم

ناول

لیکوال: عنایت الله
ژباړن: مبارک شاه داودزی

بسم الله الرحمن الرحیم

Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: 0093779815770
Facebook: آرمان پښتو کتابتون

**کتاب پېژندنه:**

د کتاب نوم: زه د چا لور نه یم (ناول)

لیکوال: عنایت الله

ژباړن: مبارک شاه داودزی

د ډیزاین چارې: ثناء الله خواب

خپرندوی: مازیگر کتاب پلورځی

چاپ شمېر: ۱۱۰۰

چاپ کال: ۱۳۹۷المریز / 2018م

د چاپ حقوق خوندي دي.

# ډالۍ

خپل ګران او قدرمن تره حاجي سلطان ته، چې د
زوی په ځېر مینه یې راکړې.

داودزی

Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: 0093779815770
Facebook: آرمان پښتو کتابتون

# د خپروندوی یادښت

( زه د چا لور نه یم) ناول پر نورو سړو تودو سربېره دا قوت او زور لري، چې د انسان په جامه کې د نغښتي ځناور له مخې د فریب او دوکو پردې لیرې کړي، نورو مظلومو نجونو ته پکې دا ښوونه شوې، چې څنګه وکولای شي د دغسې فریب کارو په جالونو کې ښکېلې نه شي.

په پیل کې د ناول د ژباړن او لیکوونکي یادښتونه راغلي او ورپسې د کیسې د مرکزي کرکټرې د خولې خبرې د هغې د کیسې په اړه راغلي، ناول په کتابي بڼه له چاپه مخکې یو ځل لیکوال په ( حکایت) نومې اردو مجله کې خپور کړی، چې د لیکوال په وینا یې ډېر لوستونکو د لیکلونو له لارې بې کوره شوې جونو ته د مرستې او لاسنیوي سینې وهلې وې، په لیکونو کې ځینو خلکو ورته د توبې ایستلو خبرې کړې وې، ځینو ورسره پکې د نکاح ژمنه کړې وه او ډېرو ځوانانو د هغو خلکو د وژنې فتوې ورکړې وې، چې په ټولنه کې کورنی نظام د ګواښ لاندې راولي، د لیکوال په وینا هغه ټول خطونه یې یوه ورځ د دې نجلۍ مخې ته واچول، هغې به هر یو خط په غور لیدو، یو ته به موسکۍ شوه، بل ته به یې اوښکې په سترګو کې ډنډ شوې او په ځینو لیکونو کې ، خو به داسې ورکه شوه چې د ساه اخیستو غږ به یې هم نه اورېدل کېده، هغې د خپلې کیسې د ژر خپرېدو غوښتنه کوله چې هدف یې ترېنه نورو نجونو ته د حیا او پردې د ژوند ارزښت ورښودل و.

د مینې ملګري مبارک شاه داودزي دا ناول په ساده کلیواله پېښوري لهجه ژباړلی، چې پکې د ناول رانښکون او کشش ته زیان نه دی رسېدلی، کله چې موږ د دې ناول لومړۍ برخې د مینې په پرلپسې څلورو ګڼو کې خپرې کړې، نو د لوستونکو له دومره تاوده هرکلي سره مخ شو، چې په لیکونو او برېښلیکونو سربېره یو شمېر مینه وال ( ګودر) ته راغلل او په کتابي شکل یې د دې ناول ژر چاپېدل وغوښتل، دا ناول څو ځل ګودر خپرندوی ټولنې چاپ او تر خپلو مینه والو ورساوه، اوس یې مازیګر کتاب پلورځی چاپوي.

مازیګر ټولنه مبارک شاه داودزي ته نورې بریاوې غواړي او تاسې د دې په زړه پورې داستان لوستو ته رابولي.

## د ژباړن یادښت

کله کله چې کوم ژباړل شوی اثر گورم، نو کوم درانه لیکوال پرې سریزه لیکلي وي او په دې خبره یې ټینگار کړی وي چې ژباړې ته زیاته اړتیا شته او باید د نړۍ له ادبیاتو سره ځان اشنا کړو ما هم د دغو سریزه لیکونکو او د خپل شوق او پښتو ژبې خدمت لپاره دغه ستاسو په لاس کې ناول راوژباړه؛ نه پوهېږم چې تر څومره به په ژباړه کې بریالی یم، خو دا چې زه لیکوال نه یم، نو ځان راته تر ډېره بریالی نه ښکاري، خو په هر حال انسان تر خپله وسه پړ دی ما هم خپل وسه کړې او کتاب مې پښتو کړی.

یوه خبره ضروري ده چې تاسو ته یې وکړم، نه پوهېږم چې نور لیکوالان به یې کوي کنه، خو ما دا کار کړی چې د ناول په کوم ځای کې به د پاکستان بې دربغه صفت شوی، نو سرسري ترې تېر شوی یم او بل به چې کوم ځای کې په هسې خبرو کیسه اوږده شوې وه له هغې هم تېر شوی یم ستاسو په نظر که زما دې کار کومه نیمگړتیا رامینځته کړې وي، نو بښنه غواړم، ځکه نه پوهېږم او دا زما اولنۍ تجربه ده.

په پای کې له گودر خپرندوی ټولنې او په ځانگې توگه له ښاغلي قاري قدرت الله تائب څخه مننه کوم، چې په ډېر اخلاص یې کتاب خپور او ستاسو تر لاسو در ورساوه، همدارنگه گران ملگری ایاز محمود میشوانی هم د مننې وړ دی چې زه یې تاسو ته در وپېژندم.

مبارک شاه داودزی

سراچه - کرش ماشین، ۱۶/۰۹/۲۰۰۷

# د ليکوال يادښت

هغې ما ته خپل نوم راونه ښوده، او نه هغې د اوسېدو ځای وښود.

په جوالای ۱۹۷۰ م کې يو ملګري په مري کې دا ښځه راوپېژندله په اول وار ليدو سره مې دومره اهميت ورکړ، چې دا اوچتې درجې پلورنکي ده.

زما ملګري غوښتل، چې د هغې کيسه ورته وليکم هغه پوهېده چې د جرم او سزا کيسې زما د خوښې موضوع ده ما له جرم سره تړلي خلکو سره چې هغه کې قاچاقبر، عصمت پلورونکي او ډاګون هم راځي او د دوی دنيا ته مې سر ورښکاره کړی، خبرې او مرکې مې ورسره کړي او نفسياتي تجربې مې کړي، جيل خانو ته ورغلی يم دغه ټول مې په دوو کتابو کې او په بې شمېره پاڼو کې ځای په ځای کړي وو، چې په مختلفو مجلو او اخبارو کې تيت شوي دي.

له دغې ښځې سره په ليدو مې هاغه ښځې رايادې شوې، چې د دې په شان ښايسته او زړه راښکوونکې وې، چې شکلونه يې مختلف، خو کيسې يې يو شان دي.

ماته دغه ښځه د کيسې يو کردار ويسېده ما په دغه وخت کې د حکايت مجلې لپاره، چې نوې مې راويستله منډې تررړې کولې د دې کيسه ډېره اوږده وه ما ته يې د اورېدو او ليکو = وخت نه و ما ورته وويل، چې اوله ګڼه به د ډسمبر د جنګ په اړه وي د هغې لپاره مرکې کوم هغې وويل نو ته بسم الله د شهيدانو په نوم کوې که په دغه ګڼو کې زما دغه کيسه راشي نو بې کراره روح به مې لږ کرار پيدا کړي.

زما اميدوار هم شهيد شوی او له سترګو يې اوښکې روانې شوې.

اميد واره...... او شهيد د يوې بدکارې او رنډۍ اميدوار شهيد شوی؟ تلوسه مې زياته شوه او ليکلو ته يې کېناستم، مګر هغه دومره اوږده وه چې د يوې ګڼې ټوله برخه يې ونيوله، په ما د فتوا د صادرولو نه مخکې هغه ټول ځايونه

وګورئ، چې ما په نښه کړي زما کیسه به ښه وي یا نه، خو ستاسو ټولنه له دغسې کیسو ډکه ده! فرق صرف دغه دی چې ما خپله کیسه په خپله وکړه.

په حکایت کې دغه کیسه دوه ځلې چاپ شوه، د مجلې په پته په سلګونه خطونه د دې په نوم راغلل په هغو کې څلورو کسانو دغه خبره کړې وه چې توبه دې وباسي او پینځه وخته لمونځ دې کوي او دغه زړي یې پرې کړې و، چې خدای ج به یې ګناه ورته وبښي.

دوو له جوشه ډکو ځوانانو دغه غوښتنه کړې وه، چې هغه ټول دې ووژل شي، چې دې ته یې دوکې ورکړې وې پاتې کسانو د واده غوښتنه ترې کړې وه.

ما ټول خطونه هغې ته وروښودل هر خط یې په ډېر غور سره لوست، ځینو ته به موسکۍ شوه ځینو ته به یې ټنډه ګونځې شوه او ځینې داسې خطونه وو چې د دې اوښکې یې توئې کړې.

هغې وویل دغه ټولو ته زما ځواب ورکول ناممکنه خبره ده کله دې چې کتاب چاپ کړ، نو زما له طرفه ټولو ته مننه ولیکه، هغې ما ته د خپل شهید اخیرنی خط راکړ، ما ترې عکس واخیسته او د دې په خوښه چې ویل یې دغه خط به زما سره تر ګوره ملګری وي او زیاته یې کړه، چې د هغې نوم چاپ نه کړم، چې په اخیرني پاڼو کې به یې خط وګورئ، د هغې په خوښه مې نوم باندې تور رنګ واچوه او کتاب مې د هغې شهید روح ته ډالۍ کړ.

عنایت الله

د حکایت مجلې مسوول مدیر، لاهور

# یادونه:

هغې تر اخره خپل نوم ماته ونه ښووده، د هغې د اوسېدو ځای هم یو نه و؛ خو یوه ورځ مې ورسره د خپل ملګري په مرسته په مري کې کاته وشو، ما په ړومبي ځل هغې ته ډېر اهمیت ورکړ او داسې مې ورته وښووده، چې ته یوه ښکلي عصمت پلورونکې ښځه یې.

هغې سره ډېرې کیسې وې؛ خو ټولې یې ماته په یو ځل ونه کړې، د هغې خپله کیسه مې ترې ولیکله، د شهید کیسه یې پاتې شوه او هغه ورکه شوه، بیا مې دوه کاله وروسته ولیده او په څو ځلې ورتلو مې ترې پاتې کیسه مکمله کړه.

د هغې د ژوند کیسه ډېره حیرانونکې وه او خپرېدو ته یې هغه له مانه ډېره لېواله وه، دا چې د هغې یې له چاپه څه هدف و راځئ د هغې له خولې یې واورو:

ما دا کیسه ددې لپاره نه ده اورولې، چې تاسې په ما باندې لعنت ووایې او یا یې له اورېدو وروسته له ماسره څه مرسته وکړئ، ددې نه مې مطلب دا دی، چې تاسې په خپلو اولادونو رحم وکړئ او د نن سبا د پرمختللې زمانې له ګواښه یې و ساتئ، تاسې زما له حاله عبرت واخلې، زما د ژوند کیسه ولولئ او بیا په ګرېوان کې سرونه ښکته کړئ او...په... ریښتیا له ځانونو سره فیصله وکړئ، چې زه ملامته یم او که تاسې ړانده انسانان زما په حق کې ګرم یاستئ، ماته د عزت پلورونکې په ویلو باندې ستاسې ټولنه نه پاکېږي، تاسې لړ وګورئ کفري هېوادونه ستاسې بچې په کومو لارو له ګړنګونو غورځوي، په ما باندې د بې رحمه فیصلې نه وړاندې تاسې هغه ځایونه و ګورئ، چې پکې دا ناپاکه نشانونه لګېدلي، زما کیسه، چې هرډول وي؛ خو ستاسې ټولنه د داسې ډېرو کیسو نه ډکه ده، مګر توپیر دا دی، چې زه خپله کیسه خپله کوم او یواځې ددې په خاطر، چې د نجونو مظلومه طبقه د وحشي- انسانانو له منګلو نه په امان شي.

# زه څوک یم...!!

زه یو فریب یم، چې له تاسو ټولو فریبکارو ښځه زېږېدلې یم، زما عمر له دېرشو کلو اووښتی، په څېره کې مې هغه ښکلا اوس نشته کومه چې څوکاله د مخه وه، شوګیرو او بدکاریو زما هغه ښایست نه دی پرېښی، لیکن زما په تېرایستونکي ښایست کې اوس هم دومره راښکون شته اوکوم بدلون پکې نه دی راغلی، خلک، چې اوس هم ما وګوري حیرانېږي، ودرېږي او قدمونه یې سستېږي، مخکې ځي او ځان پسې شا شاته ګوري.

ښځه چې څومره پټه وي هغومره ښه ښکاري، ښځې ډېرې کم عقلې دي، چې دسر نه لوپټې لرې کوي، ویښته خلاصوي، متې لوڅوي او د سرکونو په غاړو ګرځي، دوی خپل راښکون له لاسه ورکوي، ځکه راښکون په راز کې وي، دتورې بورقې په راز کې، چې له سرې نه احمق جوړوي او ددې راز لوڅولو ته زاری کوي، ستا په خوښه قیمت ادا کوي، اګرکه تاسو په کوم باغ، یاد بسونو په تمځای، یا د مري په مال روډ، یا لاهور او یا کراچۍ په شان درناګانو ښار کې کومه داسې ښځه په داسې انداز ولاړه ولیده، چې په توره بورقه کې نغښتې وي او دوه سترګې یې تاسوته اشارې کوي؛ نو مه ورخواته کېږئ، مه ورګورئ! ځکه تاسې ته به هېڅ درپرېښږدي په هغه توره بورقه کې به ښایسته شیشکه وي او یا به زما په شان څوک لار ورکې وي، ما و ګورئ، ما خپل ژوند تبا کړ او اوس... اوس په تباکړي ژوند کې اوسم.

زه د رنډي خانې رنډی نه یم، زه د بازار له رنډیو ښځه نه یم او د افسانې فاحشه هم نه یم، زه دهاغې ښځې یو روح یم، چې خدای ورته دلور معصوم شکل ورکړی او ځمکې ته یې راښکته کړې، جنت یې ترپښو ورلاندې کړی، زما طلبګاران ماته د زمکې حوره وایي؛ مګر زه په توره بورقه کې نغښتی جهنم یم، زه د پاکې ښځې ناکراره روح یم؟ او...!

زه څوک یم؟... زما نوم څه دی؟

زه دکوم ځای اوسېدونکې یم، د چا لور یم، د چا خور او د چا ښځه!؟

زما په کیسه کې به ددې یوې پو ښتنې خواب هم وانه ورئ، ددې پوښتنو خوابونه ضرور هم نه بولم، تاسې به دا فکرکوئ چې زه به دیو ځای اوسېدونکې ضرور وم،

خواوس دیو ځای هم نه یمه، د چالور به  وم، د چا خوربه وم، زه د یو چاښځه هم ومه؛ خو دهېچا مېرمن هم نه شوم، زما اوس هره شپه د واده شپه وي، مگر  په سهار يې  بیا هېڅ هم نه وي، زه دمور پلار ورونو او خاوند لپاره په ژوندوني مړې یم، خاوند نه  چې جدا شوم ما ترې میاشتینی خرڅ هم وغوښته، ځکه دخلافرزۍ دمه واره زه وم، زه دیو شریف سړي د مېرمن کېدو لایقه نه شوم.

زما نوم څه و؟

کله،  چې زه پیدا شوم نو مور اوپلار په مانوم کېښود،  زما دګاونډ خلکو په هغه نوم لاړې توکړې،  ماخپله هم خپل نوم دیادونو له تختې پاک کړ، اوس زما نوم نشته، زما خوښوونکي ماته دخپلې خوښې نوم اخلي، له گرمو سیمونه  زمیندار خانان د گرمۍ په موسم کې مري ته راځي او مالس شل ورځې له ځانه سره ساتي، په دې زمیندارو خانانو کې یو خان و هغه  به ماته پیشوگۍ ویله،  دغسې ډېر دي، چې دخپلې خوښې نومونه راته اخلي، دتېر عمر خاوندان هم ماته عجیبه نومونه اخلي... څومره غټه دوکه ده ددې خلکو خپلو کورنیو سره،  په دې ټولو نومونو کې یو نوم زما خوښ شو کله، کله چې زه له ځان سره خبرې کوم  هماغه  نوم اخلم...هو زیبا، دا نوم ماته یو پوځي افسر راکړ دا اولنی او اخرنی سړی و،  چې زه يې له زړه نه خوښه کړې وم، دا زما کوم بازاري گاک نه و،  هغه زما په جال کې نښتی و؛ خو کله  چې سره نږدې شو؛  نو زه دهغه په جال کې ونښتم،  هغه زما په ژوند کې انقلاب راووست،  نه پوهېږم  چې دهغه دغه نوم ولې خوښ و،  هغه  چې دا نوم په ما کېښود،  زما هم ډېر خوښ شو مونږ د واده فیصله سره وکړه،  لیکن هغه باندې یو څه پوځي قرض پروت و،  دهغه د ادا کولو نه وروسته د واده کول و؛  خو هغه په ۱۹٦٥ کې  اشغال شوي کشمیر ته لاړ او بیا رانغی، هغه به هیڅکله رانشي- ځکه هغه په کشمیر کې شهید شو او کیسه به يې وروسته راشي،  اوس هم کله،  چې هغه راياد شي بې کراره شم،  هرڅه مې له لاسه ووځي،  ددې نه زیاته سزا نوره زما له پاره څه ده،  چې زه د یو شهید ښځه هم نه شوم،  اوس دهغه له نوم سره د خپل نوم په ترلو شرم راځي.

هسې زما ژوند له حادثو ډک دی اوله حادثه په وړوکوالي کې منځته راغله کله، چې سیکانو زمونږ کورونه  وسوځول او زمونږ ښوونځي يې لولپه کړه، مونږ  تر پاکستان پیاده راغلو، خلور کاله مخکې مې پلار مړشو هغه له وخت نه مخکې بوډا

شوی و، هغه زما غم په ملا مات کړ، دا ډېره لویه خبره ده، چې دپلرونو عزت دلورگانو په لاس کې وي. دا په یو نري تار بنده خبره ده ځوانه لور کولای شي او که وغواړي هر وخت کولای شي، چې دا تار وشلوي، ما همداسې کړي و، ځکه مې پلار بې وخته زوړ شو، ما دا غم نه ژړوي، چې پلار مې مړ شو، ما دا ژړوي، چې ما مې دپلار په مړي اوښکې هم توی نه کړې، خپله مور مې په ژړا غېږ کې ونه نیوه، کېدای شي زما پلار په خپل مرگ خوښ و، ځکه دهرې ورځې مرگ نه؛ خو یوه ورځ مرگ ښه دی، زما دگناهونو ذمه وار هغه هم دی؛ خو اوس زه ټول گناهونه په خپل ځان پسې لیکم.

# زما ماشومتوب

دا هسې يو اتفاق و، چې ماته دپلار د مرګ خبر ورسېد؛ خو د خپل کور او خپلوانو نه شرم راته، ما به کله کله خپل خپلوان ليدل ؛ خو زه به يې نه ليدلم، يوه ورځ مې خپله يوه مخکيني ملګرې وليده، هغې له واره سره وپېژندم، ماپه باغ کې خپل ښکار لټولو، په دې ځاى کې زما دپېژندګلو خلک ډېر وو؛ خو هغوى زه په توره بورقه کې نه پېژندم، دهغې په ليدو مې ورکتوب راياد شو، هغه ډېره مينه ناکه نجلۍ وه، هغې زه په نقاب کې وپېژندم، اول حيرانه شوه او بيا په ژړا شوه، هغې ماته داپوښتنې کولې، چې زه چېرې يم؟، واده مې کړى؟، خاوند مې څنګه دى؟ او ولې نه ورځم؟

ماددې ټولو پوښتنوځواب په دروغو ورکاوه، واده؛ خو مې نه وکړى، ليکن د مړونو کمى نه و، هغه چې روانېده راته ويې ويل: پلار دې مړ دى او سبا لس بجې يې جنازه ده.)

زه سبا لس بجې دهدېرې په لاره کې ولاړه وم، کوم يو ساعت وروسته جنازه راغله، له ډېرو خلکو په منځ کې مې خپل دوه ورونه هم وليدل، چې دپلار کټ ته يې اوږې ورکړې وې، ماله جنازې سره په څنګ مزل کاوه هدېره دومره لرې نه وه، هلته د جنازې سره خواته په پردې قبر ودرېدم، چې څوک رابانديې شک ونه کړي، په ډېرې سختۍ مې ځان قابو کاوه، زړه مې غوښتل، چې دپلار په پښو کې لوېدلې واى او بخښنه مې ترې غوښتې واى،. ماخپلې شونډې په غاښونو کلکې کړې وې او له سينې راوتونکې چيغه مې په سينه کې غلې کړې وه، دا زما د ژوند ترخه شېبه وه، ما پُر دې قبر دومره وژړل، چې اخر مې مرۍ بنده بنده کېده.

خپله کونډه مور رايادة شوه، چې څه به پرې تېر شوې وي، زما له کوره خلورم کال و، چې راوتلې وم، هغه وخت مې، چې خپل دواړه ورونه وليدل، چې د پلار کټ يې د نورو خلکو سره را خېستى و؛ نو ماته يې هغه شېبې را په يادې کړې، کله مې، چې زه پلار په خپله اوږه له هيند څخه دپاکستان تر سرحد پورې راوړې وم، هغه ۱۹٤۷ کال و، هغه وخت زما عمر شپږ نيم کاله و.

زما دوه ورونه يو شپاړس کلن او بل دولس کلن و، مونږ د راتلو پرمهال وروستى اوبه دهندوستان او پاکستان پولې نه درې ميله لرې په يوه شاړه دېره کې وڅښلې،

زه دهغه ورځو شپو عظمت نه شم هېرولای او شهیدان یې هم نشم هېرولای، هغه، چې دپاکستان په نوم حلال شول، ژوندي وسوزېدل او ډېرنور یې په هجرت کې شهیدان شول دغه شپې ما په ورځو، ورځو ژړوي، زما مینه هم په همدغو ورځو کې شهیده شوه، هغه ماله خپله لاسه رخصت کړ.

خلک دپسرلي شپې ورځې په رحمت یادوي او بارانونه یې شاعران په شعرونو کې ستایي؛ خو زه وایم په هغه ورځو شپو کې، چې کوم بارانونه اوري، هغه اسمان د هغو شهیدانو په یاد ژاړي، چې زه به یې درته ټوله کیسه ونه کړای شم، ځکه ماته مې خپله کیسه هم نیمګړې ښکاري، ما تاسوته مخکې دهندوستان دهغې ورانې او شاړې ډېرې وویل، چې مونږ پکې اوبه ځښلې وې، له هغې نه لس پنځه لس میله لرې یوه سیمه وه، زه دهغې نوم نه اخلم، زه په هغه سیمه کې له دوو ورونو نه وروسته پیدا یم، زما یقین دی، چې زما په پیدا کېدو به زما مور اوپلار نه وي خوشحاله شوي، ځکه زمونږ په ټولنه کې نجلۍ ته څوک نه خوشحالېږي، دغه ورځ په اکثرو کورونو کې د ماتم ورځ وي، مور او پلار له دغې وخته په ډار کې شي او ما هغه څه وکړه کومو نه مې، چې مور اوپلار وېرېده، ماهغوی ته غیر له بدنامۍ نه نور هېڅ ورنه کړل.

زمونږ په سیمه کې یو وړوکی ښوونځی و، دهغې ماحول مسجد ته ورته و څومره، چې زما عمرتېرېږي، هغومره دهغې ښوونځي یادونه زما په ذهن خورېږي او تصویر یې ورځ په ورځ واضحه کېږي، یو بوډا شانته استاد، چې مونږ ته به یې عربي او اردو قاعده ویله، هغه به شاګردانو سره داسې مینه ښوده، لکه یو پلار یې، چې له خپلو بچو سره کوي، په هغه ښوونځي کې ځلور ټولګي وو، په اول کې به ماشومان په یوه خړه درۍ کېناستل، ښونځی په یوزاړه کور کې و، چې دهغې سیمې دمسلمانانو په لګښت چلېده.

په دې ښوونځي کې په مذهب او اردو ژبه ډېر زور راوړل کېده، لومړی ټولګی مې و لوست، په دوهم کې مونږ ټولې شپاړس جینکۍ برابرېدو، په هغه وخت کې دجینکو تعلیم کم و، اکثره مسلمانانو به لونې نه پرېښودې، چې ښوونځي ته لاړې شي، هغو سره ډېرې اندېښنې وې او اکثرو به په ژوندیو مثالونو خپلې ارادې تقویه کولې، ځکه هغو لیده، چې په بدلمنو جینکو کې د اکثرو په لمنو تور داغونه د سکولونو او کالجونو په خپل سري ماحول کې لګېدلي.

ماته هم هېڅ علم نه و، چې په ملک کې څه تېرېږي او څه کېدونکي دي، دشپږو اوو کالو په عمر ماشوم سياست سره څه کار لري، مګر په ملک کې سياسي انقلاب راغی او په زرګونو ماشومان يې قتل کړل، ژوندي يې وسوزول او په سلګونو نور يې زما په شان په ژوندوني په مړو وشمېرل، زه اوس ډېر کوښښ کوم، چې دا خبرې هېرې کړم؛ خو هېڅ وسه مې پرې نه رسېږي.

په کومه ورځ، چې سکانو زمونږ ښوونځي ته اور واچاوه؛ نو ښونځی خالي و، مونږ دوه ورځې مخکې پلار له ښوونځي څخه ايسار کړي وو، داوړي رخصتۍ ختمې وې؛ خو مونږ بياهم نه تلو، مونږ ته دانه و ويل شوي، چې ښوونځی ولې بند دی، ماته داهم ياد دي، چې مور او پلار به مې هر وخت په وېره کې ؤ، هغوی مونږ له کوره دباندې وتو ته هم نه پرېښودو، زما پلار، چې مخکې به يې شپږ ميله لرې وظيفه اجراء کوله هغه هم اوس په کور ناست و، ډېر خراب حالات راروان و.

پلار به مې، چې ما په کور کې ليده ډېره به ورته خوشحالېدم، هغه ډېر مينه ناک سړی و، مګر په دې شپو ورځو کې ترې هرڅه هېر و، رنګ يې الوتی و او بيا داسې ورځ هم راغله، چې هر سړي له وېرې نه منډې وهلې او ځای ځای به سيکانو ښونځي او مسجد ته اور اچولی و، پلار مې په کور نه و، ورونه مې هم دباندې وو، زما مور به پرده ډېره خوښوله او تل به له کوره دباندې په برقه کې راوته، ليکن هغه په دغه ورځ سرتوره وه، چې دباندې مې پلار او ورونو پسې راووته، زما يادېږي ټوله کوڅه له ښځو او ماشومانو نه ډکه وه، مانه مې پکې خپله مور ورکه شوه، لږ وروسته مې پلار سره يوځای راغله، په کوڅه کې ټولو ښځو خپلو اولادونو او مېړونو پسې چيغې وهلې، پلار چې مې کله کور ته ننووت ؛ نو دمسجد او ښوونځي د سوزولو يې وويل، هغه دا هم وويل، چې سيکانو ويل: که ژوند غواړی؛ نو تر ماښامه پورې دا سيمه خوشې کړئ کنه ټول به قتل شئ.)

دا ۱۹٤٧ م کال و، ډېره بده ورځ وه، اوس په دغې ورځ په ټول هندوستان کې دآزادۍ ورځ لمانځل کېږي، زمونږ په سيمه کې سيکانو دمسجد او ښوونځي په سوځولو د خپلې آزادۍ ورځ ولمانځله، په دغه ورځ سيکانو په مونږ رحم وکړ، چې مونږ يې ژوندي پرېښودو دهغوی په وينا مونږ ښه وخت تېر کړی و او مسجد اوښوونځی يې د اختار په ډول د اور په لمبو وسېزل.

له خپله کوره وتلو ته چې څوک تيار و د ماښام تيارې نه مخکې، مخکې له خپلو

کورونو نه ووتل او دپاکستان په لوري روان شول؛ خومونږ راونه وتلو، په دغې شپه زه په خواږه خوب ویده وم، یوې زوروري جټکې له خوبه راویښه کړم، ماله ډاره چغې وهلې، چې پویه شوم؛ نو پلار په ولي کړې وم، ژړا مې غلې شوه، اوس هم راته هغه شپه دیوخوب په څېر ښکاري، دخلکو چغې او هرې خواته د اور شغلې، چې توري لړې به یې پورته اسمان ته رواني وې، زه به کله بیداره شوم او کله به دخوب غېږې ته لاړم؛ خو، چې په ځان پویه شوم زمونږ، په سر چت نه و او دکور خواوشا دېوالونه هم نه و، ډېره ووېرېدم، دغه وخت مې زه ورور په غېږ کې واخېستم او پلار مې وړوکی ورور په ولي کړ، مور مې شاته راپسې روانه وه او سلګۍ یې ما اورېدې، ورور مې زما نه لاندې و؛ خو دزړه درزا یې ما اورېده او نور راپسې دخدای بلا خلک را روان وو، ما چې شاته وکتل توره تیاره راخوره وه، مونږ له خپلې سېمې نه راوتلي ؤ او هغه اوس لوګیو غېږ کې نیولې وه.

مونږ ډېر مزل وکړ، اوس؛ نو ایله دلمر سترګه تازه له غره څخه راښکاره شوې وه، ماپه ژړا پېل وکړ، مشر ورور مې راته وویل: چپ شه! کنه اوس به سیکان راشي او مږه به دې کړي، زه نوره هم وډاره شوم، رور مې له اوږې ښکته کړم او لوڅې پښې روانه شوم، پلار مې زه پښې لوڅې راتښتولې وم، ما دپلار لاس نیولی و او تږول تېز روان وو، پښو مې درد کاوه، پلار مې زه بیا په اوږه کړم، لمر اوس ښه راجیګ شوی و، وړانګو یې سوځول کول، ما به همدا جغې وهلې، چې اوبه... اوبه اوپلار به مې په وار، وار ویل، چې لږ صبر وکړه پیدا به شي.

له لرې یو ارت کوهی مالومېده او په خواکې یې نرۍ کجوره ولاړه وه، پلار مې دهغې کوهي لار ونیوه، له ډېر ځنډ وروسته هلته ورسېدو؛ خو هلته یوه شېبه هم تم نه شو، مونږ اوبه ونه څښلې، ځکه هلته پنځه مړي پراته وو، یوه ښځه وه، یو سړی او درې واړه ماشومان، اوس یې، چې کله رایاد کړم، زړه مې پسې سوی درد وکړي، هغه به هم یوه کورنۍ وه او ډېرې هیلې به یې ورسره د ځناورو خوراک شوې وي، دهغوی جامې په وینو لړلې وې، په هغوی کې یو ماشوم دومره وړوکی و، چې زما په خیال د درېیو میاشتو به و، اول پرې زما سترګې ولږېدې، ځکه زه مې دپلار په اوږه ناسته وم، له وېرې نه مې ژبه بنده وه، هېڅ مې له خولې نه وتل، تنده مې وتښتېده او ټول وجود مې لړزېده.

اوس، چې خپل حال ته ګورم او بیا هغه وختونه رایاد کړم؛ نو باور وکړئ د انسان له

نومه مې کرکه راشي، څناور، چې څناور دي بيا هم خپلو ريشتو ته درنښت لري، مگر انسان تل د بل انسان په وينو ژوند کړی دی.

مونږ هلته نور تم نه شو او په توندو قدمونو بېرته راوگرځېدو، مور ته په رارسېدو مې پلار له ولي ښکته کړم؛ خو ماچغې وهلې، ډار اخيستې وم، ما غوښتل، چې له پلاره مې جدانه شم؛ خو هغه ډېر ستړی و او دا ځل مې مور په غېږ کې واخېستم، ماښام و او ټول خلک په يوځای کې د‌دمې لپاره کېناستل، زه ډېره ستړې وم او له مخې سره ويده شوم، په سبا موبيا مزل پيل کړ، مونږ سره دخوراک هېڅ هم نه و ما له لوږې نه په ټوله لاره ژړل، پلار مې راته په ټوله لاره همدا ويل، چې پاکستان ته په رسېدو به هلته زمونږ ښه کور وي او ښه ډوډۍ به وې، داسې نورې ډېرې بهانې به يې راته کولې؛ خو زما لوږه په بهانو کله ورکېده، زما پلار له نورو خلکونه يوځه تېز راروان و، په لاره يوې کوډلې ته ورقاو شو، اوبه مو پکې وڅښلې او د(ستلج) سيند په پله پاکستان ته را وا وښتو.

## نوي کور زه بې کوره کړم

دغه مضر نقش زما په ذهن پاتې شو، اوس هم کله کله په خوب کې دهغو ماشومانو جسدونه وينم، په پاکستان کې مونږ ته ښه غټ کور ورسېد او پلار ته مې په داسې محکمه کې وظيفه پيدا شوه، چې ډېر خلک يې دلاس لاندې ؤ، دهغې په اشاره هر کار کېده، مونږ ته، چې کوم کور راپه برخه شو، هغه ديو مالداره هندو و، چې نوی، نوی يې جوړ کړی و، دژوند ډېرې اسانتياوې پکې برابرې وې، له هرڅه نه ډک و، ددې کور په ليدو مې هغه کور له ياده ووت.

مونږ نه ډېر غريب وو او نه مالداره، بس په منځني حالت کې و، په دې کورکې مونږ له پخواني حالت نه ښه شو، ماته ټول پاکستان ددې کور په شان ښايسته ښکارېده، هغه کور چې زه يې بې کوره کړم، هېڅ يې راپېږې نه ښودل اوس زه په خپل هغه پخواني غريبانه کور پسې گرځم، چې هندوستان کې رانه پاتې شوی و، ماته داسې ښکاري، چې مونږ نه هلته کټ بستره او لوښي نه دي پاتې، بلکه عزت شرافت او ناموس رانه پاتې دی.

دپاکستان دغه کور زمونږ دټولو دماغ په هوا کړل، مونږ اوس ځان په غریبو کې نه شمېره، مونږ اوس ځانونوته امیران ویل، دپاکستان په جوړېدو کې، چې د مسلمانانو کومې وینې تویې شوې، زه نه پوهېږم، چې مخکې به دومره وینه تویه وي که نه؟ کوم قتل عام، چې په هندستان کې وشو، هغه هېڅ ساری نه لري، تې خواره ماشومان حلال شول اود حامله دارو ښځوله نسونو څخه بچي وغورځېده، د پېغلو عزتونه لوټ شول او ډېر خلک ژوندي وسوځول شول، مسلمانانو پاکستان لپاره غټه قرباني ورکړه، مگر پاکستان څه وکړل، له هغوی خلکو سره زه اوس هم گورم، دکومو خلکو چې دلاس صفايي او دخولې چالاکي نه وه زده، هغه اوس هم دمهاجرو غوندې ژوند کوي، قرباني یې هسې لاړې او د چا، چې زما دپلار په څېر دا هرڅه زده و په مزو کې شول.

په دې وخت کې خدای یوه بله مهرباني هم وکړه، هغه مې دپلار پرمختگ و، چې په هندستان کې مونږ په خوب کې هم نه و لیدلی، هغه دمحاکمو رئیس شو، په هره محکمه کې بلا هندوان په کار لگیا وو؛ خو هره ورځ به یې څه له کاره گوښه کېده، زما د ورور ماغزه هم دیو افسر نه اوچت و، دا احساس ماته هغه وخت وشو، کله، چې د مزو په دې ژوند کې زما عزت لوټ شو او زه هغه مقام ته ورسېدم کوم نه، چې بېرته واپس کېدل له امکان څخه وتلې خبره وه، ما مې په پلار کې ژور بدلون ولیده، هغه به مخکې ساده لباس اغوسته، مگر له دې پرمختگ سره دهغه ساده توب لاړ، مخکې به مونږ په څمکه ډوډۍ خوړه اوس به ورته پر چوکیو کېناستو، دکور لپاره مو نوکر ونیو، معاش به له دفتر څخه ورکول کېده، زما دپلار اولنی غیر قانوني کار همدا و او بیا یې نور ډېر داسې غیر قانوني کارونه وکړل، چې زه یې دتباهۍ تورې کندې ته ورسولم.

ما دپلار او مشر ورور په ورځنیو چارو کې بدلون هغه مهال احساس کړ، چې زه پوره دتباهۍ کندې ته لوېدلې وم، ماته به نمایش او فیشن خوند راکاوه، دلته په راتگ سره زه په یو لومړني ښوونځي کې داخله شوم، دا دهندستان له ښوونځیو نه ډېر ښه و، یو دولتي ښوونځی و، دلته هغه زړه درۍ نه وه او نه هغه بوډا استاد و، دلته ښځې استادانې وې او د درۍ پرځای چوکۍ پرتې وې، زمونږ کور ته د افسرۍ په راتگ زما هغه ښونځی بدې راغی او په هغه ښوونځي کې یوه بله خرابي دا وه، چې کوم خلک له هند څخه رامهاجر شوي وو هغوی ته به په ښه سترگه نه

کتل کېدل او دپښا غوبښتونکي یا( ماجر) په نوم به ورته غږ کېده.
له هند څخه راغلي ماشومان به غلي، غلي ناست وو، شور به یې نه کاوه او نورو به تنګول، هغه چابه چې مرګ ژوبله لیدلې وه له استادې نه به ډېر وېرېدل، دهغې دلښتې له پورته کولو سره به دا سې راټول شو، چې تا به ویل حلالوي یې، بیا به دغه د مهاجر لفظ هر وخت ماته ویل کېده، چې زړه یې له ښوونځي راتور کړ او ګویا داسې یې وښوده، چې تاسو نه غوښتونکي میلمانه یاست، دپاکستان بچی هغه دی کوم، چې په پاکستان کې زېږدلي وي او په پاکستان کې یې خاپوړې کړي وي.
یوه ورځ ما ډېر ښایسته کالي اغوستي و، نو استادې رانه پوښتنه وکړه، چې دا چا درکړي؟ زه خو وړه وم دومره په څه نه پوهېدم، مګر دهغې داخبره مې لکه دغشي په زړه ولګېده، زما ژبه بنده شوه او هېڅ مې نه شول ویلای، ماته اوس مالومه شوه، چې استادې ته په دې خبره غوسه ورتله، چې مونږ بې وطنه خلک هم داسې جامې اغوستلی شو؛ خو هغه خبره نه وه، چې زمونږ کورته افسری لار کړې ده او ټول مهاجر ماشومان زما په څېر ښکلې جامې نه لري، د استادې له پوښتنې سره ټولو ماشومانو ماته کتل. خو استادې مې، چې همدا پوښتنه بیا تکرار کړه؛ نو زه ورته په ژړا شوم.

# انګرېزي ښوونځی!

یوه ورځ مې پلار ته وویل، چې ماته په ښوونځي کې پنا غوښوتوونکې وایي، زه نوره ښونځي ته نه ځم، دا داسې وخت و، چې پلار مې ډېر پرمختګ کړی و او دواړه ورونه مې هم په عصري ښونځي کې په درسونو لګیا وو. پلار مې، چې زما شکایت واورېد؛ نو زه یې له ښونځي نه بنده کړم.

په دویمه ورځ مې پلار زه یوه بل ښوونځي ته بوتلم، دا ښوونځی ډېر ښایسته ؤ، دلته به یې غیر له وضاحته کیسه نیمګړې پاتې شي؛ نو ځکه تاسې سره سرسري کیسه شریکوم؛ خو ددې په خاطر نه، چې تاسې ترېنه ذهني لذت واخلئ، بلکې ددې کیسې په اورېدو د هغه موراو پلار غوږونه خلاصول غواړم، چې خپل خواږه اولادونه داسې ښوونځیو ته لېږي او په دې ویاړي، چې اولادونه یې په انګرېزي پوهېږي؛ خو اخر ترې زما په شان بدکاره جوړه شي.

ماته چې کوم خلک راځي هغه یواځې جسمي لغړ نه وي د هغوی ضمېرونه هم لغړ وي. نن سبا په خلکو کې جنسي لېونتوب دومره زورور شوی او ماسره یې دا وېره پیداکړې، چې هسې نه زما دستړي ژوند کیسه هم خلک د همدې ناوړه لذت لپاره ولولي، په دغه لېونتوب کې له پخوا راهیسې بهرنۍ ننګوني او مجلې فعاله ونډه اخلي، چې له امله یې ډېری ځوانان په ګګلېچونوکې بند پاتې کېږي.

دا ډول عیسایي ښوونځي د انګرېزانو په هندکې هم ؤ، اوکله چې پاکستان جوړ شو؛ نو اول پکې د یاد شوي ښوونځي دروازې بېرته شوې او بیا د پاکستان په ټولو لویو ښارونو کې دا ډول ښوونځي ودان شول، چې د نومونو اخېستل به یې کیسه اوږده کړي، دا یو شخصي ښوونځی ؤ او ډېرو خلکو به پکې خپل اولادونه ددې په خاطر شاملول، چې د پاکوالي به پکې ډېر خیال ساتل کېده.

هغه پلرونه، چې زما دپلار په شان به د امیرۍ او افسرۍ په نیلۍ سواره ؤ، هغوی به دا د خپلو خانونو سپکاوی باله، چې څنګه یې اولادونه دولتي ښوونځیو ته لاړ شي، دا ډول پلرونه په دې نظر ؤ، چې په دولتي ښوونځیو کې وهل ټکول ډېر وي، ناپاکي پکې ډېره وي او دلته ماشوم ته مینه هم ورکول

کېږي.
انګرېزان په دې پوهېدلي وو، چې مونږ تعلیم ته دومره پاملرنه نه کوو؛ نو ځکه هغو په خپلو ښوونځیو کې ښه والی راوړ او اخر داسې وشو، چې چاته به پکې په واسطو هم داخله نه ورکول کېده، له همدې ځایه دهغو ماشومانو د ذهنونو په اړولو بوخت شول او هڅه به یې کوله، چې ماشومان له هر ډول بندیز نه ازاد وروزي، هغه وخت علماو په ورځپاڼو، مجلسونو او جوماتونو کې د دا ډول ښوونځیو د ټړلو خبرې ډېرې وکړې؛ مګر چا ورسره غبرګې نه کړې او د کومو خلکو، چې یې په بندولو زور رسېده، هغوی ورته له هر چانه وړاندې خپل اولادونه ورلېږلي وو؛ خو اوس که دا ښوونځي خلاص وي او که تړلي ماته یې کومه ګټه نه رارسېږي؛ ځکه چې زه یې په سیند لاهو کړم او زما هیڅوک نشته، چې لرې یې ترې وساتم، مګر دامې هېله ده، چې نور پلرونه دې زما له حاله پند واخلي او خپل بچي دې ترې و ساتي.
یوه زه نه یم، چې دې ښوونځي مې ژوند تباه کړ، بلکې داسې ډېرې نورې نجونې شته، چې دغسې ښونځیو یې د ژوند ارمانونه له خاورو سره خاورې کړ؛ خو ولې د هغو شونډې ګندلي او دا وس ورسره نشته، چې له خپله حاله څوک خبرکړي او که داسې وکړي؛ نو ضرور به په خپله ټولنه یا خپل کورکې د سزا لاندې وي.
زه په نوموړي عیسوي ښوونځي کې شامله شوم، پلار مې زما لپاره نوي کتابونه واخېستل، دا نوي کتابونه ټول په انګرېزي ژبه لیکل شوي وو، چې رنګه تصویرونو یې ښایست یو په دوه کړی و، پلار مې زما لپاره د ښوونځي ځانګړې جامې واخېستې، اوس به نوماته نورو ماشومانو په حیرت نه راکتل؛ ځکه په دې نوي ښوونځي کې ټولو ماشومانو زما په څېرنوې او ځانګړې جامې په غاړه کړې وې، زمونږ د ټولګي په مخامخ دېوال د عیسی(ع) تصویر ځوړند ؤ او په څنګ کې یې د بي بي مریم.
په ټولګي کې بې روحه خاموشي خوره وه، هریوه ماشوم به په خاموشۍ سره خپل سبقونه لوستل، د استادې چلند ماشومانو سره یوې مورته ورته پاتې کېده، ماشومانو به یه خپلوکې په انګرېزي باندې خبرې کولې او نېږدې ټول ماشومان د امیرانو او رئیسانو بچي وو، زما پلار ما سره ددې لپاره څو ورځې

پرلپسې ښوونځي ته راته، چې څوک راته د کوم غریب پلار لور و نه وایي او یا راته څوک د پنا غوښتونکې په سترګه و نه ګوري.
ماته کورکې مور د قرانکریم ښوونه کوله، هغې غوښتل، چې زه یوه مسلمانه ښځه جوړه شم؛ خو زمونږ د ښوونځي ماحول غیراسلامي او ډېر ناوړه ؤ، مونږ ته به په ښوونځي کې د یورپ عیش او عشرت بیانېده، زه به چې له ښوونځي نه راغلم ما به هغو جینکو ته د خپل نوي ښوونځي کیسې کولې، چې مخکې راسره په پخواني ښوونځي کې یوځای وې، هغو خوارانو به راته په وازو سترګو کتل.

زما ذهن خام ؤ او د ماشوم ذهن خو داسې وي لکه سپینه پاڼه، چې څه لیکل دې زړه غواړي هغه پرې لیکل کېږي، په هغه ښوونځي کې هرماشوم د پاکستان په نوم شرمېده، موږ ته په لومړي ښوونځي کې باید دکتاب په اوله پاڼه کې دا لیکل شوی وای، چې د ډېرو ماشومانو په قرباني باندې پاکستان منځته راغلی، مګر داسې نه وه او دې نوي ښوونځي زمونږ د ټولو له ذهنونو نه د پاکستان نوم پاک کړ.
زما په دې ښوونځي کې څلورم کال و، دا وخت؛ نو دې ښوونځي ډېرنوم پیدا کړی ؤ، د هغو وړو موټرو به شمار نه کېده، چې ماشومان به یې ښوونځي ته راوړل، زه به ښوونځي ته پلې تلم راتلم، په دغه وخت کې مې د وړوکي موټر ډېر ارمان و، ځان به راته له نورو نه ټیټ ښکارېده، چې زه ولې په موټر کې ښوونځي ته نه ځم، ما له هغو هلکانو سره ملګرتیا پیل کړه، چې ښوونځي ته به په موټر کې راتلل، دلته د یوې خبرې یادونه ضرور بولم، چې زه ډېره ښکلې وم او خدای پاک راته ډېر ښایست رابخښلی ؤ، له لیدلو سره به خلکو په یو نظر لمانځلم.

د مالدارو بچیو به هلته ډېر ښه خواړه خوړل او ډېرې پیسې به یې لګولې؛ خو ماسره له دوه درې روپیو نورې نه وې، کله خو به مې دوه درې روپۍ له کوره هم پټولې، د پلار امدن مې ورځ په ورځ زیاتېده او دا دوه درې روپۍ به پکې نه معلومېدې، زما مور او پلار هم دې ته خوشاله وه، چې لورېې انګرېزي ښوونځي کې ده او که خدای کول په راتلونکې کې به ترې لویه ډاکټره جوړه شي، مګرکاش چې یو ځل خو دې پلرونو نوموړي ښوونځي ته سر ورښکاره

کړې وای، چې دننه په کې څه روان دي او اولادونه یې څه زده کوي، څه ورته ښیي، په کومو لارو یې روان کړي دي؛ خو نه یو پلار هم دا کار و نه کړ.
مونږ ته به استاذې ویل، چې امریکا یواځینی بډایه هېواد دی او نورو ټولو ملکونو ته روزي دا هېواد ورکوي، مونږ ته به یې په ښوونځي کې امریکایي فلمونه ښکاره کول، ما به مخکې پلار ته د( ابا) په نوم غږ کاوه، مګر کله، چې دې ښوونځي ته لاړم؛ نو بیا به مې ورته د( ډېډ) په نامه غږکاوه، په همدې ښوونځي کې زما عمر څوارلسو کالو ته ورسېده.
په ماکې ډېر بدلون راغی او په همدې ورځو کې زما مشر- ورور زما د پلار په سپارښتنې په یوه محکمه کې په دنده وګمارل شو.
کله، چې زمونږ امدن ډېرشو؛ نو زما ورور به ویل، چې زه له چانه رشوت نه اخلم؛ خو خلک یې راته په زوره په جیب کې منډي او زما ایمان خرابوي، له دې رشوتونو سره زمونږ دکور هرڅه بدل شو، ما مې له مور نه د قران زده کړه پرېښوده، زما مور به په دې ټینګار کاوه، چې زه باید ښوونځي ته په بُقره کې لاړه شم؛ خو دواړو ورونو مې د مور ددې خبرې مخالفت وکړ او په بُقره؛ خو یې داسې ملنډې ووهلې، چې زما زړه یې ترینه ښځي تورکړ.
کشر ورور مې لا تر اوسه په کالج کې سبق وایه او زه مې د پلار او مشر ورور په حرامو روپیو پوره بدله شوې وم، زما ورونو هم زما په عصري کولو کې پوره هڅه کوله، چې زه یې مننه کوم!!!...
هغوی باید ماته پرده او حجاب راښوولی وای، زما ذهن خو انګرېزي ښوونځي له اسلام نه پاک کړی ؤ، په کورکې مو هم انګریزي ویله.
ما مخکې هم یادونه وکړه، چې زه د څوارلسو کالو په عمر وم او دوه کاله مخکې مې له هغو هلکانو سره ملګرتیا وه، چې پلرونو به یې په موټرو کې وړل راوړل، په دغو هلکانو کې یو پر ما ډېر ښه لګېده، هغه د یو افسر زوی و او ښوونځي ته به په موټرکې راته، موټر به ډرېور چلوه، دې هلک به زما په مخکې ډېرې روپۍ لګولې، زه پوهېږم، چې روپۍ یې یوه هم حلاله نه وه؛ ځکه یې د خاورو په څېر بادولې، دې ملګرې ماته دا اسانتیا هم پیداکړه، چې د رخصتۍ پر وخت به یې زه تر کوره رسولم.
یوه ورځ راته همدې هلک د انګلېش د فلم کتو بلنه راکړه، هغه زه یوې

شؤ(ننداري) ته یوړم، ما ددې نه مخکې څو اردو فلمونه کتلي وو. د اردو فلمونو رومانټیکې صحنې راباندې ډېرې ښې لګېدې، زمونږ د انګلېش فلم په کتو اتفاق راغی، له رخصتۍ وروسته مو په کورونو کې وویل، چې نن په ښوونځي کې څه پروګرام دی او مونږ کیدای شي ناوخته راشو، پلرونو او ورونو مو خو هسې هم په ښوونځي کې پاته نه اړوله، چې هلته څه تېرېږي، کورنۍ مو راسره ومنله، دا مو هم ورته وویل، چې پروګرام کېدای شي دشپې تر لسو بجو پورې و غځېږي، د کور خلکو هم څه شک نه درلود؛ ځکه مخکې هم داسې پروګرامونه په ښوونځي کې جوړ شوي وو، چې تر ناوخته به روان وو...
مونږ لاړو. اول خو هغې زه یوه هوټل ته وبوړم، چې ماته نوې خبره وه؛ ځکه زه ددې نه وړاندې هوټل ته نه وم تللې، له هاغه ځایه بیا سینما ته لاړو، هلته په داسې ځای کې کېناستو، چې زما یو څنګ ته دېوال و او بل اړخ ته مې ملګرې ناست و، له څه وقفې وروسته فلم شروع شو، د فلم هلک او جینۍ په ډېرې بې حیایې سره یو پر بل خولې کلکې کړې وې، دې صحنې په ماکې یوه خوندوره نشه را پیدا کړه، ما په همدې نشه کې د خپل ملګري لاس په لاس کې و نیوه، زمونږ ګوتې سره داسې کلکې شوې وې لکه د یوه ځنځیرکړۍ، هغه زما په طرف مخ راواړوه، نه هغه څه وویل او نه ترې ما مخ واړاوه، زمونږ شونډې داسې سره و نښتې، چې تا به ویل سره سریښ شوي دي.
د فلم نورو رنګینو صحنو د ځوانۍ اور لا په مستۍ راوړو، د فلم تر خلاصېدو پورې زما لاس د هغه په لاس کې و، ما داسې احساس کړه، لکه چا چې له خوبه را ویښه کړې یم، زه د ژوند په خوندونو اوس لږه لږه پوهېدلې وم، زما حالت شېبه په شېبه د هغه منظر په ارمان ؤ، چې په سینماکې مې د ملګري سره وکړ، دا ښه وه، چې هغه له مانه مخکې روان ؤ، کنه زه داسې بې قراره وم، چې زړه مې ویل یوې خواته یې کړم او په مخ ورته غاښونه ولګوم، زه ډېره بې حیا یم، تاسې به هم راته په قهر یې، چې څومره بې پردې غږېږم، تاسې به فکر کوئ، چې د یوې فاحشې نه غیر داسې خبرې نور څوک کله کوي، مګر زه په باور سره دا خبره کوم، چې که هرڅوک دا ډول بې حیا فلمونه وګوري په جذباتوکې یې ضرور بدلون راځي، داسې بدلون، لکه ماچې مخکې بیان کړ، د دې فلمونو د کتوونکو حالت هغه حیوان ته ورته کېږي، چې د نر په لټه کې

منډې رامنډې وهي او که په همدغسې وخت کې چا سره ملګرى نه وي هغوى بيا په بربنډو عکسونو خپله جنسي تنده ماتوي، بربنډ عکسونه پـه پاکستان کـې ډېردي، د دا ډول عکسونو مطلب دا دى، چې د مسلمانانو په راتلوونکو نسلونو کې اخلاقي ماده ختمه کړي.

کاش! چې زه اوس کومې خبرې کوم، په هغه وخت پرې پوهېدلې واى، اوس به ولې دې حالت را رسېدم، د خداى لپاره زما دا خبره له غوږونو و نه باسئ!!

له همغه فلم نه وروسته زما او د هغه ملګرتيا دومره ټينګه شـوه، تابـه ويـل چـې هغه زما د وجود کومه برخه يا حصه ګرځېـدلې ده. زمـا پـه زړه کـې بـه تـل دا غوښتنه وه، چې کاشکې زه او دى يوازې سره ناسـت وى اويـو پـه بـل مـو سره خولې لګولې واى؛ مګر زمونږه يوازېتوب بغېر له سينما نه په بل ځاى کې نه و؛ خو هلته هم خلک وو.

په دويم ځل کله چې زه له خپـل ملګـري سره سـينما تـه لاړم، هلتـه مـا څلـور جينکۍ وليـدې چـې لـه هريـوې سره يـې يـو يـو هلـک ملګـرى وو، د هغـوى حرکتونه ډېر شوخ وو کله چې ما د دوى دا حرکتونه وليدل؛ نو ځان راتـه ډېـر وروسته پاتې ښکاره شو، زما ذهن په هغه وخت کې خام وو.

يوه انګرېز ويل فېشن شوبازي ماته د انسانيت اوصول ښـکارېدل، پـه دغـه فلـم کې هم زما کړنه په هغه څېر وه څنګه، چې په لومړي ځل وه، بيـا نـو انګرېـزي فلمونو په مونږه سمه قبضه وکړه، تقريباً لس دولس ورځې پرلپسې مونږ سينما ته لاړو د سينما چارواکو چې د هلکانو او جينکو دغه هجوم وليده يوه بله اسـانتيا يې برابره کړه. هغه جينکۍ چې پس له ماښامه به نشواى راوتلى د هغوى لپـاره به يې سينما يو ټيم په مازيګر او بل ټيم د ورځې په ۱۱ بجوکې پيلوله.

له کالج او ښوونځي څخه به شاګردان غېرحاضرېدل او ټول به هغې سـينما تـه تلل کوم چې نيم لوڅ فلمونه به يې ښودل، زه خپله هـم څـو ځلـه لـه ملګـري سره دغې سينما ته د ۱۱ بجو ننداري ته لاړم.

# وړوکي موټر زما عزت لوټ کړ

زما د ملګري موټر چلول زده ؤ؛ خو پلار يې ورته نه پرېښوده، چې ويې چلوي، هغه يوه ورځ په شوونځي کې راته وويل: پلار مې د څو ورځو لپاره چېرته ځي پروګرام مې جوړ کړی دی ماښام به موټر راوباسم يوې خواته به پکې چکر ووهو، اوس نو په ما باندې کومه پابندي نه وه چې له کوره مه وځه، يا تر اوسه چېرته وې؟....

په ماښام مې د يوې ملګرې کورته د تلو پلمه وکړه او هغه ټاکلي ځای ته راغلم، چې هغه راښوولی ؤ، ملګري مې موټر راوست، او لومړی هغه هوټل ته لاړو چې مخکې مې ويلي وؤ، هلته مو د خوندونو ډکه ډوډۍ وخوړه. له هغه ځايه چې کله راوتو شپه په تياره کېدو وه، تقريباً نهه بجې به وې، ملګري مې وويل: سيل ته ځو؟

ما ورته وويل: چېرته چې دې زړه غواړي هلته به لاړ شو.
بيايې زه هغه ځي ته بوتلم، چې بېرته هغه حال ته نه يم راغلې.......
پنځلس شپاړس کاله تېرشول کله، چې زه له هغه سره تللې وم. زه له هغه سره په موټرکې کېناستم او موټر يې له ښاره بهر په داسې يوه ويجاړۍ کې ودراوه، چې شاوخوايې هېڅ نه معلومېدل، ملګري مې د موټرايشارې مړې کړې، نور نو ډېرې مکالمې مو سره ندي کړي، بس يوازې هغه دومره وويل: راځه شاته سيټ ته لاړ شو.... زما په زړه يو نامعلوم ډار ؤ، چې په هغه ډار کې خوښي او خوندونه ګډ وؤ... ما هېڅ هم ونه ويل، شاته واوښتم.

زمونږ په مينځ کې نوره هېڅ کومه پرده او حجاب نه ؤ پاتې، شرم نه ؤ، بلکې زما احساس او جذبه داسې وه، چې ته به وايې ما هغه پخپله راوستی وي... بيا نو موټر د خوندونو په هواکې پورته شو، دې موټر زه هغې نړۍ ته ورسولم، چې په هغه کې مزې وې، خوندونه ؤ، مستي وخوشالي وه، دا وخت ماته زما ملګری په دنيا کې تر ټولو ښه انسان ښکارېده، داسې انسان چې ما هېڅ فکر نه کاوه، چې له هغه به بل څوک ماته نږدې وي....
کله چې موټر له هغې مستې او د خوندونو له ډک اسمان څخه کراره کراره

راکوز شو تیاره خپره وه، هر شی تور ښکارېده، ویرانه وه همغه برید پاتې ؤ، چې هغه مې په ډېر ډاډه زړه پای ته ورساوه او ترې واوښتم....
کله چې کور ته راغلم لس بجې وې ماته هیچا څه ونه ویل، چې دا ته تر دې وخته چېرته وې؟ څه دې کول؟... هیچا هم په ما کې کوم بدلون ونه لیده، دپلار په لیدو ماته هېڅ افسوس رانغی، چې د هغه عزت مې دښار نه لرې په یوې ویرانې کې ختم کړ، مګر زمونږ په کورکې چې کوم انقلاب راغلی ؤ، هغه څوک نه پرېښودل، چې په ما کې دې کوم توپیر ولیدل شي، مخکې چې زمونږ کورته حلاله پیسه راتله؛ نو د کور عزت او شرافت پرځای ؤ؛ خو کله چې امدن ډېر شو، له کوره هغه څه لاړل، چې زمونږ عزت او ایمان پرې ولاړ ؤ.
زما مور چې ډېره ساده ښځه وه، هغه هم له مونږ سره د عصري کېدو په کتار کې ودرېده، د ګاونډ له ښځو به یې څنګ کاوه او ورسره به نه غږېده، ماته به هم خپل دګاونډغریبې جینکۍ ډېرې په نظر حقیري راتلې؛ خو نن په ټولنه کې تر ټولو حقیره زه شوم، زما اوس هم یادېږي چې زما امېرې مور د ګاونډ نورو ښځو ته په ډېر ویاړ دا خبره کوله چې زما لور د(( ډي اس پي)) زوی ترکوره رارسوي.
مور مې له ما نه دا پوښتنه هم نه کوله، چې د دې سپرلی قیمت څه ادا کوې؟ په کورکې هېڅ ګواښ راته نه ؤ، په مکتب کې هم کومه پابندي نه وه، د فیس هم څه کمی نه ؤ، زما او د ملګري کور ته خو د رشوت پیسې راتلې.
له هغې شپې نه وروسته ما او دوست مې د تورو تیارو هیرو او هیروین وو او زه ایله خپلو جینکوملګرو ته د خپل رومان اورولو قابله شوم، هغوټولو دغه چارې کولې او کیسه به یې یو او بلې ته په ډېر خوند کوله، زما ملګري ته به چې کله هم موټر په لاس ورغی؛ نو مونږ به هغه ځای ته تلو چېرته چې اول ځل تللي وو اوکه کله به موټر نه ؤ نو مونږ به په کوم باغ کې دغه پاټونه کول.
یوه شپه مونږ باندې پولیس راغلل او ویې نیولو، هغو یوازې دا نه چې په پنځه روپیو یې خوشې کړو؛ بلکې یو ښه محفوظ ځای یې هم راوښود چې بیا مو څوک ونه نیسي. دغسې دوه کله وشول، یوې ملګرې مې راته وویل: چې دا دباغ څوکیدار په څو روپیو څوکیداري هم کوي، یوازې پنځه روپۍ اخلي، کله چې پولیس راځي یا تا ته خبر درکوي او یا هغه په خبرو راولي. په دې

ډول زه په دې نړۍ کې هم بې نقابه شوم، هغه داسې ؤ، چې یو همصنفي مې ماته یو څو لغړ عکسونه راښکاره کړل په تصویرکې ښځه او سړی دواړه لوڅ ولاړ ؤ، زه په داسې یو حالت کې وم چې دې تصویر زما د تندې حالت بې قراره کړی ؤ، هغه همصنفي یوه ورځ ماته د اردو ژبې یو ناول راکړ او دا تاکید یې راباندې وکړ چې پټ یې باید ولولم. ما هغه د کتابونو په الماري کې پټ کړ، بیا مې د شپې په خپله کوټه کې پر لوستلو یې پیل وکړ، د کتاب په لوستلو کې به زما ساه په تېزۍ شوه او د شهوت اور به مې په تازه کېدو شو...
په دې ناول کې نور څه نه ؤ، یوه جینۍ یې مخکې کړې وه، چې له څو کسانو سره یې ناوړه اړیکې لرلې او لوڅ الفاظ پکې کارول شوي وو، بس داسې یې وګڼئ چې د ښځې او سړي جنسي فعل یې ښه په تفصیل سره پکې بیان کړي و.
ما په شپې شپې کې ناول خلاص کړ، زما حالت شېبه په شېبه بې قراره کېده، له سترګو مې خوب وتښتېد او د خپل دوست خواته د ورتلو بې تابه شوم، پاتې شپه راته ستونزمنه شوه. تشناب ته لاړم او یخې اوبه مې پرځان واچولې، د شپې په اخري برخه کې مې سترګې سره ورغلې وې او خوب وړې وم.
سبا چې کله مې ناول ورکاوه ورته مې وویل: بل به داسې ناول نه وي؟ هغه وویل: ته په کومه دنیاکې یې؟ تا ته دا نه ده معلومه چې دا ډول ناولونه او تصویرونه له کوم ځایه پیدا کېږي؟ هغه ماته یو دوکان وښود چې هغې ته کتابخانه وایې، کېدای شي داسې کتابخانې به تاسې هم لیدلي وي اوس خو په هر ځای کې شته، چې پکې هر ډول ناولونه موجود وي حتی په کرایه هم ورکول کېږي، دغه ناولونه دوکاندار پټ ایښي وي او کرایه یې هم ډېره وي، چې ښې پیسې پرې اخلي، پدې ناولونو تقریباً ۹۰فیصده ځوانان روږدي شوي دي.
دا ناولونه او تصویرونه هغوی نشرکوي، چې تاسې یې هېڅ تصور هم نه شئ کولای. دا زما ځخه وپوښتئ چې زه خو لا د دې نه مخکې بې لارې شوې وم... ما ددغه ناول لوستوونکې جینکۍ ولیدې چې د بدکارۍ تر حده رسېدلي دي، کومې چې له شریفو کورنیو څخه وې، بُقره پوشو شریفو کورنیو به هم دا ناولونه لوستل بیا سوال نه پیدا کېږي چې ښې او شریفه دې پاتې

شي، په هغوی کې به کومې چې په خپل زړه وې هغوی به یاران ځان ته په خپله پیداکول اوکومې به چې د حجاب په قید کې بندې وې هغوی به په همدغو ناولونو ایله بسیا کوله او یا به یې داسې ډېرې طریقې پیدا کولې، چې د خپل شهوت اور به یې پرې واژه.

ما وګورئ! زه هغه ائینه یم چې تاسې پکې د خپلې ټولنې پټ مخونه لېدلای شئ، د یوې جینۍ د فاحشه کېدو لپاره څومره عناصر کار کوي، زه تاسوته هغه عناصر درښیم او د ثبوت لپاره خپل ځان درته وړاندې کوم.

په ما باندې له لعنت ویلو سره یا د ملک په(رنډي خانو) یا په نورو اډوکې نه کېږي؛ بلکې په خپلو کورونو،کالجونو، هوټلونو، باغونو او ستاسو په خوا ګاونډ کې(اګرکه تاسو د خپل قوم عظمت لیدل غواړئ) ؛ نو زما درښوولي ځایونو ته متوجه شئ!

له دې نه پرته داسې ډېر ځایونه شته، چې زه یې تاسو ته بې نقابه کوم،کومو چې د نوي نسل په باره کې اوښکې توې کړي اوپه خبروکې داسې ښيې، چې زه په ډېرې خواشینۍ سره وینم. نوی نسل د تباهۍ په لور روان دی؛ مګر هغه هسې دځان ښودنې اوښکې دي، هغه د عصمتونو ساتنه نه ده هغه خلک د دې خریداران ؤ، زه به تاسو ته له ډېرو څېرو پرده پورته کړم، زما کیسه په پاک ذهن اورئ ما تاسوته وویل، چې د( ډي اس پي) زوی زما ملګری ؤ د هغې کیسې به ما خپلو ملګرو ته کولې، هغه هم داسې نه ؤ، هغه به زما کیسې خپلو ملګرو ته کولې کله چې زما راز د ملګرو په مېنځ کې افشا شو د هغې اثر دا راووته، چې کله به رخصتي شوه؛ نو هر کس به رامخته کېده ا وپه خپل موټر کې یې راته د سپرېدو ست کاوه؛ خو زه اوس ښه لوبغاړې شوې وم، په خالي سپرلی به مې ځان هغو ته نه سپاره او نه مې ځان دومره ارزانه ښوده ما په اصل کې خپل قیمت لوړاوه.

نوي دوست د هوټل زیرزمینۍ ته بوتلم

یوه ورځ یوه جینۍ په له خبره راسره ونښته، په ظاهره خو هیڅ خبره نه وه. په بله ورځ خبره شوم زما د نوي دوست ملګرې وه، چې زما په وجه یې هغه پرېښې وه؛ ځکه یې راسره جنګ وکړ. څو ورځې وروسته دا هم راته معلومه شوه، چې له هغه سره نورې جینکۍ هم وې. ما له هغه څخه ګیله شکایت هم

ونه کړ، په درېیمه ورځ مې بل د موټر والا ملګری کړ، بیا هماغه سلسله پیل شوه، کوم فرق یې ونه کړه، همدغه ځوان یوه بله مهرباني هم وکړه، چې زه یې د ښوونځي په ازموینه کې بریالۍ کړم او کالج ته لاړم.
په کالج کې خلکو ته په قیمته داخله پیدا کېږي؛ خو ماته مې ورور او پلار داخله واخیسته. زما د دویم ورور په کالج کې اخري کال ؤ، د هغه هره ادا ما درک او احساسوله. نوموړي ته هغه لاره معلومه نه وه په کومه چې هغه روان و، د هغې لارې څومره منزلونه ما وهلي ؤ، مابه اوس پیسې له کوره نه پټولې؛ بلکې ورور به مې پخپله راکولې، که هغه هم نه راکولې کوم فرق یې نه کاوه؛ ځکه چې په هغه کې د رشوت خورو زامنو، خانانو او زمین دارو زامن راسره په کالج کې موجود وو، هغوی به زما په مخ کې دومره خرچې کولې، چې زما به بس وې. هلکانو زما هر ضرورت پوره کاوه، په کور کې هیچا هم دا نه ویلې، چې دا تحفې ته له کومه کوې؟ په څه یې اخلې؟....
اوس ما دومره تجربه حاصله کړې وه، چې په تحفو، فلمونو او هوټلونو به مې ځان هغوته تسلیماوه بس دومره به مې ورته ویل چې زه ستایم او د ثبوت لپاره به مې ورته شونډې ورکړې، داسې به اکثرو جینکو کول او د رشوت خورو زامن به یې لوټول.
که نن سبا څوک وواېي چې جینکۍ او هلکان بغېر له رومان بازۍ نه درس وايي... زه هغه سړی ړوند او د فریب ښکار بولم، په دغه دوران کې پاکستان د ترقۍ هاغې مرحلې ته رسېدلی په کوم کې چې غربي ډوله هوټلونه جوړ دي. غالباً زمونږ په قانون کې به ازاد وي؛ خو په یو اسلامي ملک کې به ښځې داسې نه وي ازاد.
په دې هوټلونو کې مغربي ډوله نڅاوې وي ددوی په لیدو شریفو خلکو هم خپل هوټلونه د هغوی په طرز جوړ کړل. په دغو هوټلونو کې زېرزمیني جوړې شوې کوم چې د پاکستان جینکۍ او هلکان هلته ورځي.
ټولوته معلومه ده، چې غربې نڅاوې د سړي او ښځې په غېږ ورکولو سره کېږي، په دې نڅا کې هېڅ کومه داسې پابندي نه وي، که ته له هرچا سره نڅا کوې ازاد یې، انکار توهین بولي.
زه په لومړي وار یوه دوست دغسې غربي هوټل ته بوتلم ما هغلته د ځان په

شان ډېرې جینکۍ ولیدې، چې د لیونیو غونډې یې نڅا کوله، سګرټ یې څکول او په زوره زوره به یې خندل. تاسو په خدای[۳] باور وکړئ، ما په هماغه اوله ورځ ولیدل، چې څلورو جینکو له نڅا او ګډا نه وروسته یې بوتلې په سر کړې او لاړې، دا د هغه شریفو له کورنیو څخه وې، چې خولې به یې د اسلام په نارو سترې کولې.

هغلته په ورتګ سره څو خوانان رامخته شول هلته ټول د مالداره خلکو زامن ؤ، زېرزمینۍ بدبوی په سراخیستی وه، په اوله ورځ اتو څوانانو ماته د نڅا اولنی قدم راوښود، کوم ملګرې، چې له ماسره تللی ؤ هغه له بلې جینۍ سره نڅل، زما دوست راغی او یو بل کړی سګرټ یې راته ونیوه، ما هېڅکله سګرټ نه وو څکلي، یو څو جینکۍ راغلې او زما خواته ودرېدې دوست مې راته په غوږ کې وویل چې انکار ونه کړې ا وپه انګلش خبرې کوه، ما چې له سګرټ نه دوړه پورته کړه؛ نو په سر مې چکر راغی او ښه ډېر مې وټوخل، یوې جینۍ راته د کوکا کولا بوتل ونیوه، د هغې لپاره مې یو بل کش هم ورکړ بیا مې د هغوی په وینا د بوتل څو غړپونه وکړل، د سګرټ په ختمېدو سره مې احساس کړ چې د دنیا ټول خوندونه له ما سره دي، په زړه کې مې همدا راتېرېده، چې ونځېږم. نورو جینکو هم سګرټونه څکل او لوګیو به یې په هوا کې کړۍ جوړولې. د سګرټ څکلو نه وروسته په محفل کې نوی جوش پیدا شو جینکیو او هلکانو په میدان کې داسې غوبل جوړ کړ، چې تا به ویل مسابقه ده.

یو هلک زما خواته راغی او راته یې وویل سګرټ دې موډ ښه کړ، ما شک وکړ، ما وپوښتل چې په سګرټ کې څه وو؟ هغه راته وویل: په سګرټ کې خو چرس وو. زما له چرسو سره مینه پیدا شوه، چرسو ما ته د طلسم دنیا راښکاره کړه، چې ما په خوب کې هم نه و لیدلې.

ما په زړه کې له پلار څخه مننه وکړه، چې زه یې په داسې ښوونځي کې شامله کړې وم اوبیا مې له وروره، چې تر کالج پورې یې رارسولې وم. ما له هغه هلک څخه مننه وکړه کوم چې ماته یې لنډ ناول راکړی ؤ او تر ټولو مې له هغه هلک نه ډېره مننه وکړه، چې له ښاره یې لرې زما د غرغونډې غټ شرم او حیا لرې کړه.

دوه نیم ساعته وروسته نڅا پای ته ورسېده، ملګري مې یو بل سګرټ هم

راباندې وخکه، نشه یې کړم، بیا یې لاسونه راباندې واچول او پاس کوټې ته یې بوتلم هلته یو دوه کسي کټ پروت ؤ هغې دروازه له دننه نه بنده کړه او زما سره په کټ کې څملاست، چې دا زما لپاره کومه نوې خبره نه وه، زه په دې خوشاله وم، چې په دې هوټل کې ډېر سهولتونه وو، بیا نو زما ډېر ماښامونه په همدې هوټل کې تېرشول او بیا به زه بغیر له کوم دوست نه دې هوټل ته نه تلم او یا به هلته پخپله کوم هلک پیداکېده، چې زما استقبال به یې کاوه.
په هغه هوټل کې پیسه دارو خلکو چای څښلې شو اوبس...
زه نه پوهېدم، چې دومره دولت به پاکستان ته له کوم لوري راته؟!! یو طرف ته د نیستۍ ترانې غږېدلې او بل طرف ته لکه د اوبو داسې پیسې بهېدې، خلکو په یوه مړۍ ډوډۍ پسې په واټنونو واټنونو مزل کاوه: خو دلته خلکو مزې کولې مزې...
نن زه وایم، چې په هغه وخت کې زه به هوټل ته تلم او د سړیو په څنګ کې به مې نځل، په هغه وخت کې به ماته په پاکستانۍ ویلوشرم راته... هلته به د یوروپ او غرب لوفران هم راتلل... یوه ورځ ما له یوه امریکایي لوفر سره ونځل، ما انګرېزي ښه ورسره ویله. هغه زما له ښایست. قدامت ا ود ژبې له فصاحت نه ډېر متاثره شو او زه له هغه نه د امریکایېتوب له وجې متاثره شوم، زما پښې په ځمکه نه لږېدې. هغه ماته یو ډول اوچت شراب راکړل بیا یې زه یوې کوټې ته وخېژولم او زما د وجود ذ هر غړي تعریف یې کاوه دایې هم ویل که زما سره واده کوې زه به دې امریکا ته بوځم. آه... څومره د دروغو وعدې مې ولیدې...!
هغه ما ته ویل، چې زما مېرمن هم شته؛ خو هغه د دنیا په رفتار نه پوهېږي. ما له هغه سره په څو شپېو تېرولو فخر کاوه، زه تاسو ته حقیقت وایم، چې پاکستانۍ جینکۍ د یورپ ا وامریکې په سړیو ډېرې ورماتېږي.

# زه پېغله مور شوم

ملګري مې په داسې هوټلونو باندې اموخته کړم، چې د پاکستان په درجنونو جینکۍ او هلکان به ورته راتلل او په هغه کې به د غرب لوفرانو سره هاغه کسان هم موجود وو، چې د قلم خاوندان وو او زمونږ سره به يې يوشان نخل، چرس به يې څکل، شراب يې څښل...

انګرېزي تعليم زمونږ ذهنونه د انګرېزانو غلام کړي و.

زه نن معصومه وم، کوم لوفران به چې له يورپ څخه دې ډرامو ته راتلل هغه يوازې د دې لپاره وو، چې د پاکستان نوی نسل په اخلاقي فساد خراب او ختم کړي او د فحش ويروس پکې دننه کړي، چې ځوانانو ته خپل ځانونه مسلمانان او پاکستانيان ښکاره نه شي.

ما به په ورځپاڼو کې لوستل، چې ليکوالو به د نوي نسل په اړه ليکنې کړې وې، چې د غرب رسم او رواج يې خپل کړی... په جوماتونو کې خولې وشکېدې؛ خو چايې په خوله پياز هم ونه خوړه، اوس هم وګورئ په هغه هوټلونو کې، چې ځومره جينکۍ او هلکان په چرسو، شرابو او نورو بدکاريو تبا کېږي... که تاسې هغه ځايونو کې هاغه حالت وليده؛ نو هېڅ به دا سوچ ونه کړئ، چې دا پاکستان دی، ته به وايې، چې د سمندرونو پورې غاړې ته يورپ دی، دا زمونږ نوی نسل دی، چې د پاکستاني څخه امريکايي جوړ شوی دی. زه تاسو ته هغه جينکۍ نه شم درښودلی، چې په دغو هوټلونو کې تباه شوي او اوس د پاکستان په هرګوټ کې ذليله ژوند تېروي. زه په کالج کې دوه خله ناکامه شوم، چې ما ته پرې هېڅ افسوس نه راته؛ ځکه ما غوښتل، چې په کالج کې د ناکامۍ په وجه نوره هم واوسم. زما لپاره ډېرې مرکې راتلې ما به نه خوښولې؛ بلکې ما ازاد ژوند کول غوښته.

د پلار مې يوه کورنۍ خوښه شوه زه يې ورته ورکړم؛ خو ما مې مور ته دا خبره وکړه، چې زه به هغه کورته په مرګ هم ورنه شم. هغوی لا دا شرط هم ايښی ؤ، چې جينۍ دې په حجاب يا بوقره کې کالج ته ځي، زما اميدوار يو شريف انسان ؤ، زما او د هغه په يو قسم جوړه نه راتله البته په کور کې يې د پيسو کمی هم نه ؤ.

یوه ورځ ما تر دې اراده کړې وه، چې زه به خپل امیدوار(مېږه) په لاره کې دروم او صفا به ورته وایم، چې زما څخه لاس واخله؛ مګر زما دغه اراده هم له خاورو سره خاورې شوه ما ځان له ټولو بندیزونو څخه ازاد ښوده؛ خو نه پوهېدم، چې انسان د قدرت په قانون کې قید وي، د هرې خطا سزا ورته رسېږي، د دې خطا سزا ما ته هغه وخت وشوه، چې زما خوا وګرځېده(استفراق مې وکړ). خپل ملګري ته مې دخپلې ناروغۍ او تکلیف حال ووایه. هغه راته ځوځو خلې وویل، چې له ځان سره احتیاط کوه کېدای شي ته به حامله(امېدواره) شوې یې!!! ما احتیاط کاوه؛ خو قدرت، چې څوک شرموي نه ورځ وي او نه شپه...

هغې ماته رښتیا ویل د هوټلونو څو تجربه کارو جنکو څو ځل خبرداری راکړ، چې دشهوت په نېشه کې دومره مه ړندېږه.

هغوی به ماته د ګولیو د استعمالولو او نورو طریقو ویل؛ خو زما ملګری زما د ښایست لیونی و، چې د احتیاط پروا یې نه کوله.

زه تاته د ټولنې یو بله څېره هم ښکاره کوم، دا زموږ په هېواد کې چې د خانداني منصوبه بندۍ کوم مرکزونه پرانستل شوي، په فحاشۍ کې د هغوی غټ لاس دی او نا واده جنکۍ د حامله توب له خطره دوی بچ کوي، له دغو مرکزونو څخه به دې جنکو رنګارنګ ګولۍ په لوړ قیمت اخیستې، چې یو غیر قانوني کار و، په دغو مرکزونو کې به چې کومو ښځو کار کاوه هغوی به دغه ګولۍ راپټولې او بیا به یې زما پشان جنکو باندې په لوړ قیمت خرڅولې، کومې جنکۍ به چې هوټل یا له یارانو سره کومې ویرانې ته تلې له هغوی سره به دا قسم ګولۍ ضرور وې، مګر له ماته په نشه کې دغه بې احتیاطي له بې صبره دوست څخه را په برخه شوه، چې نتیجه یې زما په مخکې وه.

له ملګري نه مې یو څو ګولۍ واخیستې، یو دوست ماته څو پیچکارۍ وکړې، اثر یې راووت لیکن زما په دننه حالت یې څه اغېز ونه کړ، که په وخت مې درمل خوړلي وای ضایع شوی به و؛ خو اوس ناوخته و، هماغه دوست ماته دیوې ښځینه ډاکترې پته راکړه، چې هغه به درسره مرسته وکړي که په اپرېشن یا بله طریقه څه خرچه راغله زه یې برداشت کوم؛ خو خپله راسره نه تلو، کله چې زه کلینک ته ننوتم هغې زما په لیدو داسې راته کتل تا به ویل، چې له مودو سره پېژنو، ما په

وېره خبره شروع کړه؛ هغه ډېره ډاډه غږېده: پوه شوم چې ته بې واده امیدواره شوې یې، ما ورته وویل نه؛ خو هغې څه پروا ونه کړه او بلې کوټې ته ننوته، درې دقیقې وروسته راغله او راته یې وویل ډاکتر صاحب داسې کارونه نه کوي؛ خو ما په مشکله دې کار ته راضي کړ، چې هغه څه وايي هغسې وکړه کنه؛ نو هغه به درنه انکاري شي.

صیب! دغه ستا د ټولنې یوه بله څېره ده، ماته یې وویل چې دلته تکلیف خبره ده هر څه به سم شي.

بلې کوټې ته لاړم هلته د یو پاخه عمر سړی په څوکۍ ناست و، په خواته څوکۍ ورته کېناستم هغه زما ګېډه په ګوتو زور کړه او ویې ویل: څومره وخت کېږي؟

ما ویل دوه نیمې میاشتې، زه وېرې اخیستې وم ما ویل اوس به ګواښ او یو اوږد نصیحت راته کوي؛ خو نا هغه په ډېرې دلچسپۍ راته وویل ستا په ښایست او ځوانۍ مې زړه خوږېږي که نه؛ نو زه داسې کارونه نه کوم، دغه په قانون کې جرم دي، اګر چې چاته معلومه وي زه جېل ته هم تلای شم، ما ویل په دې کې؛ خو به زما د ځان تلو خطره نه وي، هغه ویل نه پینځه مینټه تکلیف لري بیا به داسې هم ونه وايې چې څه تېر شوي که نه، زه په دې پوهېږم چې دغه کار غیر قانوني و،

زه یو دم د هغه پښو ته ولوېدم او په زاریو مې اوښکې روانې شوې، هغه لږ سوچ وکړ بیا لاړ دروازه یې بنده کړه، د پردې شاته یې په مېز څملوم او ویې ویل زه به اول معاینه وکړم! بیا هغه په خپل لاس زما پرتوګ ښکته کړ، چې ماته معاینه ښکارېده، بیا هغه وویل ۵۰۰ ورکولای شې او هغه هم اوس! ما وویل اوس؛ خو ماسره دومره روپۍ نه شته او دا ډېرې روپۍ هم دي زه به یې په درېیو قسطو کې درکړم

ـ زه به هم په درې قسطو کې ستا علاج وکړم، بیا هغه له شیطانت څخه ډکه مسکا وکړه: ته خپله د ۵۰۰۰ زرو پیس یې، ما خو خپل پیس درته وواېه درنه غوښتي؛ خو مې نه دي، خپه کېږه مه دومره ښایسته جلۍ زه تباهۍ ته نه ورکوم، بیا هغه داسې خبرې وکړې، چې زما وېره یې ورکه کړه، هغه زما حوصله لویوله او په خندا یې وویل: د خپل فیس اولنی قسط به واخلم، زما پرتوګ لا هماغسې خلاص و، هغه مېز ته راو خوت او له ماڅخه یې هغه فیس وصول کړ، چې زما لپاره نوی نه و، ما څه بده هم ونه ګڼله او نه ما هغه منع کړ، بس زه په مصیبت کې ایساره وم

هغه ماته یوه ګولۍ راکړه هغه مې وخوړه او بله بیا د ماښام له ډوډۍ نه وروسته وه، د سبا په دغه وخت یې بیا وغوښتم
په دویمه ورځ بیا د همدردۍ خبرې او د معاینې په بانه یې زما پرتوګ کش کړ او هغه مانه خپل فیس وصول کړ، تقریبا شپږ ځلې هغه ماسره دغه بدکاري وکړه، هغه ته مې وژړل اوښکې مې ورته توئې کړې؛ خو هغه له ماسره هیڅ مرسته ونه کړه،
په بله ورځ راغلم خپل دوست مې له ګرېوانه ونیو او په خپله ګنا کې مې شریک وباله، چې اوس به نه پښا کېږې، هغه ماته داسې ځواب راکړ، چې زه یې بې خوابه کړم، هغه وویل که یو زما وې سهي ته خو له هر چاسره په موټرو کې ګرځېدې، له پاسه یې پسې ګواښلم، مور مې هم را باندې پوه شوې وه، چې لور مې د موټرو د سورلیو قیمت دې حد ته رسولې، باید د واده غم یې زر تر زره وشي.

# د پینځلسو ورځو ناوې

زما هغه امیدوار چې مخکې به مې سترګې نه پرې ډکېدې اوس مې هغه ته هم د تسلیمېدو فیصله وکړه، ما ویل چې زه به د هغه هر شرط منم، بورقه به په سروم، په پرده کې به ګرځم، ځان به د هغه په واک کې ورکوم، دا د مغرب رسم رواج به پرېږدم او دیوې وینځې په شان به یې خدمت کوم، زما مور چې له دې فیصلې خبره شوه ډېره خوشاله شوه، پلار-یې خبر کړ او هغه لاړ د واده نېټه یې معلومه کړه، زما زړه غوښتل چې همدا نن واده وای؛ مګر په هغې کې لا لس ورځې وې، ما سره دا سې ګولۍ وې، چې زما خوا ګرځېده یې بند کړي و، زه لس ورځې له کوره ونه وتم، زه د چرسو، شرابو او عیاشۍ روږدې وم، خلک وایې نېشه نه پرېښودل کېږي؛ خو ما چې کومه تجربه وکړه هغه ډېره مختلفه وه، په کومو لسو ورځو کې چې زه له کوره ونه وتم اراده مې وکړه او هرڅه مې پرېښودل، بس نشه پرېښودل کلکې ارادې او پاک نیت ته اړتیا لري،
ډاکټر به راته په سمه لار کې ودرېده اګر که هغه زما له مرستې نه انکار کړی وای زه نه خپه کېدم، خو هغه د مرستې په نوم دوکه راکوله او مسلسل یې خو وارې بدکاري راسره وکړه.

اوس هم کله چې رایاد شي په زړه کې مې اور ورته بل شي، يو ځل خو ما دا هم وويل راځه دکور پته يې پيدا کړه او ښځې ته يې صفا صفا حال ووايه، چې ستا مېړه ډاکټر نه دی ډاکو دی، چې د ښځو عزتونه لوټوي، خدای خبر چې څومره جنکۍ به د هغه له لاسه په دې عذاب اخته وي، په دغو لسو ورځو کې يواځې دې سوال ځورولم، چې مېړه ته مې خپله ماضي وسپارم او که نه؟

ما ويل نور به په قران لاس ورته کېدم، چې نوره به بې وفايي نه کوم، مگر ما ددې اعتراف جرّت نه شوکولای او له نتايجو يې ډارېدم، تر ټولو غټه مسئله داوه، چې زه به په خېټه کې دغه د حرام تخم څنگه پټوم؟

زما څوک همراز نه و، چې مې حال ورته ويلی وای، مور هم زما په حالت پوهېدلې وه، مگر ما له هغې څخه کومه مشوره نه شوه اخيستلای او نه هغې څه ويل، بيا هغه شپه هم راغله، چې په پالنگ ناسته او د خپل خاوند انتظار مې کاوه، ټول وجود مې رپېده، له سترگو مې اوښکې روانې وې او کله چې هغه کوټې ته راغی دکوم اعتراف جرت راکې نه و، زه هغه ته يوه پاکه سپېڅلې پېغله ښکارېدم، څومره غټ فرېب وم، ليکن زه د هغه لپاره له ښايست نه ډک فرېب وم، چې هغه هيڅ پوه نه شو ما دا سې اکټنگ کاوه، چې گويا زما اولنۍ شپه ده، په سهار، چې هغه له ماسره خبرې کولې؛ نو زه پوهه شوم چې شک يې هم راباندې نه دی راغلی، په خوارکي مې زړه وخوړېد، دهغه عمر ۲۸ کاله و، زه دهغه په ژوند کې اولنۍ جلکۍ وم، چې زما عمر ۲۲ کاله و؛ خو هغه زما په ژوند کې اولنی سړی نه و، هغه ته هغه نخرې نه وې يادې کومې چې ما کړې وې، زه په وپوهېدم چې د ښځو په باره کې هيڅ نه پوهېده، ماته دده په سادگۍ ترخ راته، دهغه له ماسره دومره شديد محبت و، چې دهغه ژبه او سترگې يې ور ړندې کړې وې، په ما باندې دومره گران شو، چې ما ويل ټول عمر به يې علامي کوم، په خدای قسم، چې په مغربي بې حيايۍ کې ما دومره لذت نه و ليدلای او ما په اول ځل احساس کړه، چې د پرديو ښځې څومره خوشبختې دي او حقيقي مېړونه لري، ماته به هغه ډېرې حقيري په نظر راتلې؛ خو ډېرې عظيمې ښځې دي، کله کله ما دا ژړوي، چې ما داسې عظيم خاوند له لاسه ورکړی، زه به هغې ډېره ځورولم، چې زما په نس کې يې ورځ په ورځ وده کوله؛ خو خدای زما خاوند ډېر زر له دې دوکې څخه ازاد کړ او د واده په درېيمه وه او که خلورمه زما خوابنې په ما شک واخيسته، چې څه خبره؛ خو ضرور شته، څنگه دا

جلۍ دومره ژر واده ته تیاره شوه، زما له ورتګ نه علاوه هغې زما د پـلار پـه ورتـګ هم شک کړی و، له دې نه مخکې زما خسرګنۍ څو وارې زما د واده غوښتلو لپـاره راغلې وه؛ خو زما مور او پلار ورته انکار کړی و، چې لور مې واده ته نه ده تیاره.
خوابښې مې یوه تجربه کاره ښځه زما لېدو ته راوسته، هغې زه ولیدم هره تجربه یې په ما استعمال کړه، که یواځې وای ما به ددې د خولې بندولو قیمت ورکړی وای، د هلک په پیدا کېدو به مې داسې ښولی وای چې دا د اوو میاشتو پیدا شوی دی؛ خو خوابښې مې ورسره جوخته ولاړه وه، دایي مې خوابښې ته په عجیب نظر وکتـل او دواړه له کوټې څخه ووتې، بېګا ته مې خاوند ته انتظار کاوه؛ خو هغه زما کـوټې ته را نغی، بله ورځ زما په وینـا هـم رانغـی او پـه بلـه ورځ زه خوابښـې لـه پـلار کـره ولېږلم، څو ورځې وروسته مې خوابښې، خاوند او دهغه ترور زموږ کورته راغلل، زما مور یې بلې کوټې ته بوتله، ماته معلومه نشوه چې هغوی څه سره ویل؟
له ښه څنډ روسته هغوی راووتل او لاړل زه، چې کوټې ته ورغلم مور مـې ژړل- زه پوه شوم، چې راز مې افشا شوی دی،د ژړا په منځ کې به یـې ماتـه کنځـا او خـیرا غبرګې کولې، مابښام مې چې پلار راغی او ټول حال یې ورتـه ووایـه، هغـه هـم پـه نفرت راوکتل او لغړې کنځاوې یې کولې، چې یې له خولې کله له وې اورېدلې.
هغه زما د واده پینځلسمه ورځ وه، چې طلاق نامه یې راتـه راولېږلـه، مـور مـې پـه غوسه ماته دا وویل، چې د میاشتې خرڅ دې ترې وغواړه؛ خو ما نه غوښته، هغوی موږ سره دا شرافت وکړ، چې زماپلار کـوم سـامان ماتـه اخیسـتی و هغـه یـې ټـول امانت راولېږه، چې زموږ حق هم نه کېده...
د ګاونډ ښځې به د همدردۍ په بهانه زموږ کور ته راتلې، ماته به یې سرتر پښو کتـل او زما خسرګنۍ ته به یې بد رد ویل او چې باندې به ووتلې؛ نو زموږ کورنۍ بـه یـې په سپکو سپکه کړه، زه د ټولو لپاره یوه تماشه وم، زما پـلار لـه مـا سره خـبرې پـرې کړې وې زما دلاس اوبه یې حرامې ګرځولې وې، که کله به یې راکتل؛ نو په قهر او غوسه به و، هغه ورونه چې زما په بوقرې یې ریشخند واهه او له مایې مادرن جوړوله اوس ټول زما دښمنان وو، کشرورورخو زه تروهلوهم ورسولم مشرورورپه هره خـبره ډبولم، د ګاونډ ښځوماڅخه خپلې لورانې منع کړې وې، زه په ټولـوکې تنهـا پـاتې شوم.
د سمې لارې قسمونه مې له خاورو سره خاورې شول، ټـول عمردخاونـد دغلامـۍ

ارادې مې ماتې شوې، که هاغه بد کار ډاکتر زما مرسته کړی وای نن به په پاکستان کې یوه فاحشه کمه وه، زه په خپله کوټه کې قید شوم، ماته داسې ښکارېده، چې د کوټې دېوالونه هم په ما لعنت وایې، ما په یواځېتوب کې ژړل او له خلکو سره د مخامخ کېدو حوصیله نه وه راپاتې، ماخپله گناه په خپل ضمیر اچوله.

# ما پنا کتله

دځو ورځو په تېرېدو سره ماته دا واضحه، چې په کور گاونډ کې زما لپاره کوم ځای نه شته، راروانې ورځې زه په وېره کې اچولم، زما ذهني حالت هغه قیدي ته ورته و، چې دپانسی تحتې ته مخامخ بند وي، یوه ورځ مې اراده وکړه، چې ولې ځانوژنه نه کوم، د نجات دغه یواځینی لار وه، یو ماښام زه د کورنی له مخې له کوره ووتم زما وېره وه، چې هغوی به ما ایساره کړي او باندې به مې پرېنږدي؛ خو عجیبه رویه یې راسره وکړه، زه چا ایساره نه کړم، ماته ډېره غوسه راغله، چې په کور کې زما دومره اهمیت هم نه شته، چې له ما څخه پوښتنه وکړي چې چېرې ځې؟ زما حالت یو مسافر ته ورته و هیچا ماته نظر ونه کړ،ماته شک راولوید چې زماپلار او ورورنه به پوه شوي، چې زه ځان وژنه کوم اودابه بهتره ورته ښکاره شوي وي چي خه ددې ناپاکه وجودنه کورپاک شه.

زه پدې اراده له کوره راووتلم، چې ځان به داورگاډې په پاټلی اچوم؛ خو زماسو چ دکورنی خلکوگډوډکړ، چې زه یې ولې ایساره نه کړم، زمادماغ فلج شول ذهن ته به مي سرچپه سوچونه راتلل زه یې بیان نشم کولای چې هاغه وخت کې زما ذهني کیفیت څنگه و د اورگاډي پاټلی ته په تلوتلو زه هاغه ځای ته لاړم کوم ځای نه، چې زماتباهي شروع شوې وه، ماته هغوپناراکولای شوه کوم چې زمادطلاق ذمه وار و، کوم چې زما د راتلونکي بچي پلاران وو، کوم چې زما دحسن پتنگان و.

زه بیا هاغه زیرزمینی ته لاړم هلته هغه ټولوفرانو موجود وو ددې ځای نه زه صرف یوه میاشت غیرخاضره وم، په دغو ورځوکي هلته ډیرې جنگی اضافه شوې وې ما په ډیره بې صبری غوښتل چې دغو جنکو ته په چغو چغو ووایم چې اوس هم ستاسې وخت دی اوس هم ستاسې په مخ کې معصو میت شته لاتراوسه تاسي په

گناه ولاړې يئ زما خشر وګوری زما انجام وګوری دولت او فیشن اودمعرب په دلفریبی کې ډوبیدونه مخکې وتښتی، ددوی په لیدو ماته هغه اول وار راپه یاد شو، چې له ډیروسړیو سره مي سینه په سینه ونځل څلورنیم کا له ووتلل چې زه په دغسي ځایونو کې اوموخته وم، یوه ورځ مخکې خبره شوم چي زما ژوند بې دجهنم په ځیرکړ په اخبارو کې په لاډسپیکرو کي به دا نارې وهل کېدې چي نوي نسل دمعرب په رواجو کې ننوتی؛ خودمخې نیولو واله څوک نه وو.

زه تاته هم هاغه لیکوالان او کالم لیکوونکي دربنیم چي په اخبارو به یې دنوي نسل په بار ه کي اوږدې لیکنې کولې؛ خوماښامونه به یي دلته تېږېدل، زه تا ته اوس هم هغه سیا سي لیډران دربنیم، چې چا به د پا کستان اسلامي ملک جوړوني غوښتنې کولې اوچا به جمهوري؛ خو ماښا مونه به یې دلته تېرېدل او زمونږدلا سه به یې شراب څښل.

ما هغلته تما شه نه کوله زه په پنا پسي ګرځېدم هلته زما هاغه ټول دوستان، چي زه ورسره په موټرو کي تللې وم چاسره باغ ته تللې وم یا چا سره په دغه هوټل کي میلاو شوې وم ټول موجود وو هغوی پوه و چي زه اومیدواره شوې وم، له ما به یې نظر چپاوه، په دوی کي څلور تنه ما ته رامخکي شول هغه زمالپاره اوزه دهغوي لپاره نوې وم هغوي ماته دڅه څښلو بلنه راکړه ویې ویل څه څښې ما ورته په جذباتي ډول وویل کوم تېز شی چې وې هغوي ماته سګرټ راکړ څو کشو مي ایله سر چپه دماغ سم شول ټول غمونه مې هېر شول، دخان وژنې اراده راته مسخره ښکاره شوه او له ذهن څخه مې وویستله ما دهغوی څلورو جاج واخیسته هغه هاغه ځوانان وو، چې دتجربوخاوندان وي ماځانته داهم معلومه کړه چي په هغو کي یو دجاګیردار زوی و چي په ما ډېرګرم واوپه کالج کې یې سبق وایه

هغه څلور واړه کلیوال وو ددولت په زورامریکایي شوي واودلته په یوه بنګله کي چې خان ته یي په کرایه یوه کوټه نیولې وه اوسیدل، ماهم دغسي- ځوانان تېرایستل هغه دجاګیردار زوی ماسره دمینې اومحبت خبرې شروع کړې اوله هوټل نه یې باغ ته بوتلم

مانه سمه دفلم هیروینه جوړه وه ماهم چې کله هغه ته دمحبت اظهاروکړ له خپله ځانه ورک شو هغه په اول ځل ورکېدوسره ماته دواده فیصله وکړه او ویې ویل چې سباته ماسره په بنګله کې ووینه!

زه خپل کورته لاړم په کورکې چا هم څه ونه ویل چې چیرې تللې وې نه مې څه وخوړل خپلې کوټې ته لاړم څملاستم اوپه ډیرځند سره مي دخپل مستقبل سوچ کاوه، نه پوهېږم چې څه وخت مې سترګې سره ورغلې وې؛ په سبا تاکلي ځای ته ورغلم هغه له وخت نه مخکې راغلی و زه یې خپل کرایه کړي کور ته بوتلم له هغه سره مې دغسې درې ملاقاته وکړه په دغو ورځو کې د هغه لږ ډېر معلومات ماته وشو هغه د یو جاګیر دار یواځینی زوی و هغه ته مې وویل ته له ماسره واده کول غواړې؛ نو زه تاته دوکه درکول نه غواړم زما په نس کې ارمونی اوسي، په پینځلسمه ورځ طلاقه شوې یم که ته له ماسره په دغه حالت کې واده کول غواړې؛ نو سمه ده، هغه په سوچ کې لاړ زه د هغه پښو ته ټیټه شوم او په زاریو مې ورته وویل چې ما قبوله کړه، زه هغو کسانو هم پرېښودم چې زه یې دې حالت ته ورسولم، کورنۍ هم رټلې یم، په ژړا مې د ډاکتر د بدکارۍ هم وویل او که تا هم پرېښوم نو ځان به ووژنم...

هغه وویل زه به د مور او خور کنځا برداشت کړم؛ خو د محبت بې وفايي هیڅکله نه شم برداشت کولای، هغه یو کلیوال هلک و دا خبرې یې په غیرت کولې، هغه وویل څنګه چې تا ماته دوکه رانه کړه زه هم تاته دوکه نشم درکولای، زه له تاسره په دغه حالت کې واده نه شم کولای او نه دې په دغه حالت کې خپل کلي ته بوتلی شم؛ خو حفاظت دې کولای شم پنا درکولی شم

زه ډېره خپه شوم، چې دغه اخیره اسره مې هم ختمه شوه خوشاله په دې شوم چې ماته یې دوکه را نه کړه او ماته یې د پنا دغوت هم راکړ، زه مصیبت په سر اخیستې وم هرې خطرې ته تیاره وم، هغه ته مې وویل سر له سبا زه راځم او له تا سره به اوسم

# د عیسویانو په جال کې

زماپه ژوندکې هغه ورځ هم راغله چې زه له کوره راووتلم اولاتراوسه نه یم تللې جنکۍ په واده له کوره وځي؛ خو زه لکه دغلو په شان راووتم له کوره مې یوځه روپۍ اوګانه راپټ کړه د اغوستو کالیو نه نورځه نه و راسره له کوره په لرې راتلوسره مې هم په شا ونه کتل، کوم کورچې د رشوت په بنیادولاړ و کوم رشوت، چې زه وچیچلم دهغه منزل په طرف روانه شوم کوم ته، چې بربادې شوې جنکۍ ځي

زه چې کله دهغه کورته لاړم،هغه له ملګروسره کالج ته تللی و څوکیدارېي زماهرکلی وکړ دوه ساعته وروسته هغه له دري ملګروسره راغی ماهغه ځانته کړ، پیسې اوګانه مي ورته مخته کېښودل هغه هرڅه بیرته په وړوکې بکس کې واچول اوبیرته يي راکړل ویې ویل زه تاته دومره بې غیرته ښکاره شوم، هغه ماته خپله کوټه راوښوده ویې ویل چې هرڅه ته دې ضرورت وې هغه ماته وایه که زه تاته په تفصیل سره ووایم، چې هغو څلوروکسانو زه څنګه اته میاشتې وساتلم ته به هیڅ یقین ونه کړې لیکن زه به دهغوی مختصر بیان وکړم کنه یو کتاب خبرې دي، هغوی لوفران وو خو ته یقین وکړه، چې هغوی زما له مخې یوه لوفري هم نه کوله، په هاغه کور کې زما دویمه شپه وه زما کوټه بېله وه او دجاګیردار د زوی بېله وه او نور درې واړه په یوه کوټه کې ځملاسته، نیمه شپه زما سترګې خلاصې شوې؛ نو ماته دهغه جاګیردار د زوی فکر راغی، څومره په ښه شان یې پناه راکړه، دده له دې انداز نه ماته معلومه شوه، چې زه هغه دبچې دپیداکیدو یا دهغه نه هم زیاته موده ساتلای شوای، هغه او ملګرو یې رویه بدله کړه زه دهغه احسان منده وم دویم دښایسته جسم نه علاوه راسره بل څه نه و، چې هغه ته مې ددې احسان په بدله کې ورکړی وای، زه له ځایه پاځیدم او دهغه کوټې ته لاړم دهغه په کوټې ورننوتم هغه په خواړه خوب ویده وهغه چې کله راویښ شو زما په لاس او مخ یې لاس وواهه اوچت راکېښناست او راته یې وویل خپلې کوټې ته لاړه شه! ما وویل دا دومره بې روضي به څه کوې؟ هغه وویل تا ته؛ خو معلومه ده چې زه کوم شریف هلک نه یم؛ خوبیا هم ستا وجود پرما حرام دی؛ ځکه چې ما تا ته پناه

درکړې اوددې لپاره مې نه ده درکړې چې زه له تا سره عیاشي وکړم له ډېر کوښښ نه وروسته مې هم په هغه څه ونه منل.
بیامې دخدمت یوه بله طریقه اختیار کړه په سهار کې به مې دهغوی خایونه ټولول او کوټې به مې جاروکولې؛ خو دجاګیردار زوی دهغه نه هم په سختۍ ایساره کړم، ته به حیران شې هغه کوم شریف خلک چې دپلارانو په ړانده دولت او دهوټلونو ماښامونو خراب کړي وو ما دهغوی خدمت کول غوښت؛ خو هغوی زما خیال ساته هغوی زما سره د با ادبه ملګرو په څیر چلیدل، ما به دهغوی سره قطعې هم کولې لیکن ته یقین وکړه، چې زما له مخې یې یوه بې ځایه ټوکه هم نه کوله.
داهغه ځوانان وه، چې تاسې وایۍ ځوان نسل ګمراه شوی دغه څلور هم ګمراه شوي وو یقینا هغه ښوییدلي وو لیکن ما ته په رارسېدو به لارې ته سیخیدل، له دې نه مطلب دا و چې دهغوی دننه کردار ژوندی و زه به دلته تا ته یوه بله دټولنې څیره هم ښکاره کړم.
زه چې کله هغه پخوانیو حرامیانو ملګرو ته دمرستې لپاره ورغلم او هغوی انکار وکړ او ددې مقصد لپاره ډاکټر ته هم نه شوم ورتللای ځکه ما ویل هسې نه داولنې ډاکټر غوندې له مجبورۍ نه مې نا جایزه فایده وانه خلي کوم تصویر مې چې د ډاکټر لپاره په ذهن کې و، هغه اوس مات شوی له نامي ډاکټر څخه مې نفرت پیدا شو، زما په شان جینکو به یا دګولیو په زور بچیان ایسته کول یا به یې دعیسویانو په هسپتال کې په غلا غلا ایسته کول، زما جاګیردار ملګري زما لپاره توره برقه واخستله او ددغه هسپتال یې راته وویل، چې زه روغتون ته لاړم هغلته دیوه عیسوۍ ډاکترې سره مخ شوم هغه ته مې وویل زه بغیر د واده نه حامله شوې یم دهغې څېره وغړیده هغې ماته دیوې سکه مور نه زیاتې ښې او دمینې خبرې وکړې.په آخره کې یې دا وویل ستا نه په نا دانۍ کې ګناه شوې هیڅ خبره نه ده دلته به دې هره ګناه پاکه شي؛ خو بچی به دې چېرته وړې ما ورته وویل چیرته به یې یوسم هغې وویل دلته یې پرېږده اوتا به داسې صحت منده.رخصت کړم، چې څوک به هم ونه وایي چې ته پیغله نه یې
دهغې مینې زیاته له تاثیر لاندې راوستم او له سترګو مې بې اختیاره اوښکې روانې شوې، هغې ته چې معلومه شوه زه له کوره هم راتښتیدلې یم؛ نو هغې وویل چې دبچي دپیداکیدو نه وروسته داندیښنې وړ خبره داده چې ته به چیرې ځې!.چیرته

به اوسې دژوندي اوسيدلو لپاره به څه کوې دغوخبرو زه يو څه وارخطا کړم ما په دې اړه هيڅ سوچ هم نه وکړی، هغې چې زما خاموشي وليده؛ نو هغې وويل دوارخطايی، کومه خبره نشته ددې علاج هم موږ سره شته موږ به تا په عزت خپل ځان سره وساتو، ښه معاش به هم درکوو او له يوه ښه شخصيت سره به دې واده هم وکړو زه همداسې خاموشه ورته ناسته وم هغې وويل ته به ددې په بدل کې يواځې دومره تبديلي راولې چې عيسوي مذهب به اختياروې.

زما له پښو څخه ځمکه وتښتيدله، زه خو له خپل مذهب او رسم ورواج څخه ياغي وم په نوم مسلمانه وم ليکن ددغې ډاکټرې په دې خبرو داسې راښکاره شوه، چې دخپل عزت او عصمت څخه وروسته ترټولو قيمته شی راڅخه اخستل کېږي همدغه يوه نښه په ما کې پاتې وه، چې هغه هم رانه اخستل کېده؛ ليکن زه مجبوره وم هيڅ انکار مې نه شو کولای، زه دنجات دچت لاندې ناسته وم، زما لپاره دروغ کومه غټه خبره نه وه، هغې ته مې وويل چې کله مې بچی پيدا شو زه به عيسويتوب ومنم هغې زما معاينه وکړه او هره پنځلسمه ورځ بعد يې دغوښتلو راته وويل له هغه ځايه مطمينه راووتم خپل بوج مې لږ سپک راته ښکاره شو؛ مګردهغې سوال ترهغه زيات بوج راباندې واچوه کوم، چې مې ګرځاوه. زه به چيرته ځم هغه ځلور خو مې هم تر عمره نشي ساتلای، هغوی کې کوم سره واده هم کولای شم؛ خو په نظر نه راته په دغه سوچ کې دهغوی بنګلې ته ورسيدم اوهغوی ته مې ټول حقيقت ووايه، هغوی ما ته تسلي راکوله چې وخت راشي خپله به معلومه شي.

هره پنځلسمه ورځ زه دهغوی ليدو ته ورتلم او هر وار به يې داسې استقبالولم لکه يوه لور چې دمور کورته دخسرګنی له کوره ورځي، هغوی ځلور هلکانو زه ديوه قيمتي راز په څيرپټه ساتلم. زه په توره برقه کې يو تور راز وم.

بيا هاغه دقيامت ورځ هم راغله،ډاکټرې زه دوه ورځې مخکې داخله کړم او ماته يې ځانته له ټولو جلا کوټه راکړه د شپې له خوا ما يو هلک دې نړۍ ته وړاندې کړ. دښځو چې زامن پيداشي خوشحالي وي په خپل درد نه پوهيږي؛ مګرما ترې مخ واړوه، څکه دادګناه پيداوار و. که هغه سل ځل ښايسته و؛ خو زما په ضمير يو بار و چې لرې مې کړ. ښځې خپل زوی ته بې تابه وي، چې څنګه به وي او څه دول څېره به لري؛ خو ما ژړل او هنه مې مچي نه کړ، نرسې ته مې وويل هلک زما له مخې لرې کړه زه يې ليدل نه غواړم

دمسلمان اولاد چې یو صلیبي اوچت کړي له هغه نه څه جوړیږي دهغه ګناه هم زما په سر شوه ددې ګناه تخم زماپه وجود کې دعیسویانو په مکتب کې کرل شوی و او پیداوار یې دلته په عیسوي روغتون کې رانه واخیست.

کله چې نرسې زما بچی له کوټې څخه وړه هغې بې دریغه ژړل په زړه کې راتېرېدل، چې له نرسې څخه یې واخلم او له سینې سره یې ولګوم،مچې یې کړم. هغه زما دځیګر ټوټه وه، چې زما څخه وړل کېده. مادهغې مورپه زړه غټه تېره کېښوده، چې زما په ذات کې رابیداریده.

ماخپل زړه ته تردې تسلي ورکوله، چې هغه زما زوی نه دی هغه زما دخاوند زوی نه دی؛ بلکې هغه زما دګناه نتیجه ده چې زما له وجود څخه بېله شوه.

هو هغه زما ګناه وه ما دټولو ګناه په سر واخسته، دهغه پلار چې زه یې په داسې غیر مذهبي ښوونځي کې داخلولم، ما دخپل قوم ګناه په سره واخستله، چې په خپل ملک کې داسې غیر مذهبو ته زمینه برابره کړې وه، چې دوړو معصومو ذهنیتونو دعیسایت په رنګ لړلې، چې په هغه وخت کې زما ذهن هم خام و او ما چې کوم شی رازیږاوه هغه زما موراو پلارخوښاوه، تعریف به یې کاوه او په کورکې دهغه دتعریفونو هیڅ شرافت پرېښود.

ما د روغتون خبره کوله هاغلته اوس زما دعیسوي کېدو تیاری کیده، ماته به یو پادري له بلې شمعې سره راته، بله شمع به یې زما په سرتاووله، یوڅه به یې ویل او بیابه تله. هرسهار به زه دپادري په دغه آواز راویښیدم، په دنیا کې دغه نوی آواز و چې زما غوږو ته کوزیده.

زه دروغتونه په اتمه ورځ دفارغیدو وړ شوم لیکن ماته یې دتللو اجازه رانه کړه، ډاکټره به هر سهار کتو ته راتله نرسې به خدمت ته راتلې، دا د هرې ورځې معمول و. حقیقت دا و چې دغه معمول ماته ډېر په زړه پورې کېده تردې چې ماته یې هرڅه تیارکړي و، ماته یې د واده بندوبست هم کړی و او زه یې په دغه ښایسته جال کې راګیره کړې وم.

په روغتون کې زما شلمه شپه، خوب مې لیده چې زموږ دهندوستان کوراور اخستی وي، ساعت په ساعت پراخه کېږي آن ټول کلی ونیسي-او زه یواځې په تیاره کې منډې رامندې وهم. دوه سکهان مې له شا راپسې وي دنیولو کوښښ مې کوي کله چې زه ویښه شوم، زړه مې په زوره دربیده ټول صورت مې لکه پانه

رپیده، کلمه مې وویله لاس مې اوږد کړ رڼا مې ولګوله او ایله مې یقین راغی، چې زه په هندوستان کې نه بلکې په روغتون کې یم.
زه په ډار کې وم او یقین مې درلود، چې په یو څو ورځو کې به مې عیسوي کوي او زه به ټول عمرددوی په قید کې بنده شم.
په کوټه کې چې زما برقه راڅرېدلې وه پرسر مې کړه او له کوټې راووتم، روغتون کې خاموشي وه معلومه نه وه راته چې دشپې څو بجې دي په چټکۍ سره له دروازې راووتم سړک خالي و یوازې څو ټانګې ولاړې وې مایوه کرایه کړه او دهغو ځلو رو چې په نوم مسلمانان وو په طرف ورغلم، هغوی هم تازه له بهرځخه راغلي وو هلته راته معلومه شوه، چې دشپې یوه بجه ده. ټول حیران شول، چې په دې نیمه شپه څنګه راغلې؟ هغوی ته مې ټوله کیسه وکړه، هغوی هم زما په خبر په نوم مسلمانان وو؛ خو زما په دغه کار ډېر خوښ شول او زما دغه کارېې وستایه.

# زما لغړ حسن

اوس سوال دا و، چې زه څه وکړم چېرې لاړه شم له دغو څوانانوسره هم زه تردېره نه شوم اوسېدلی اودهغوی دا احسان هم کم نه و، چې زه یې دومره موده وساتلم؛ بلکې پته یې کړم اوماهم په ازمایش کې نه اچول، کله کله به مې په زړه کې راتېرشول، چې راځه خپل کورته لاړه شم؛ مګر یو څه وسوسې وې، چې زه یې دکورله لوري بندولم، دجاګیردار زوی ته مې وویل، چې یوه وظیفه راته پیداکړه د اوسیدو ځای هم راته خپله وګوره،.هغه راسره ژمنه وکړه چې ضرور به داسې کومه وظیفه پیداکړم البته د اوسېدلو ځای مشکله خبره وه او ماته معلومه وه، چې هرچېرته لاړه شم؛ نو وظیفه به ضرور راکوي ځکه چې چا به ولیدم هغه به زما د ښایست لیونی و او تعلیم مې ښه و، انګریزي مې هم ښه وه، ښځه دځناورغوندي کارکولای شي مګریوازې نشي اوسیدلای باید ضرور یې سرې حفاظت وکړي، ما ځان سره فیصله وکړه، چې شریفانه ژوند به اختیاروم او له کوم شریف سړي سره به د واده کوښښ کوم
زما جاګیردار دوست شپږ ورځې وروسته په یو شخصي فابریکه کې دسکرتری وظیفه راته پیداکړه زه په هماغه پته دفترته ورغلم په دفترکې د یو تېرعمرسړی

ناست و، چې عمریې د پینځه پنځوس او شپیتو ترمینځ و ما خپل تعرف وکړ هغه وویل سمه ده زما یوې سکرترې ته ضرورت شته؛ خومشکل دغه دی.....خبره یې نیمایې کې پرېښوده، ما ورته وویل زما له طرفه به مشکل نه درپیښیږي ما خو( بي ای) نه دی کړی؛ مگرتعلیم مې د( بي ای)نه زیات دی، یوځل زماکار وګورئ! هغه وویل زه یوه خبره کوم خپه کیږي؛ خو به نه؟ ما ورته وویل نه زه نه خپه کیږم، چې هرڅه دې په زړه کې وي ووایه، زه یوه مجبوره جلۍ یم په خپلو پښو درېدل غواړم.

هغه وویل نه نه زما په زړه کومه داسې خبره نشته؛ مگرماته دیوې ځوانې او ښایسته جلۍ ضرورت دی. په هر حال زه به تا ونیسم اوکه درته منظوره وي؛ نودرې سوه روپۍ تنخوا به درکوم، ما دغه معاش قبول کړ، بیایې رانه دا درس پوښتنه وکړه ماورته دهغه څلوروکسانو دبنګلې پته ورکړه.

بیایې دشخصي ژوند پوښتنې کولې، هغه کومه مجبوري ده، چې ته یې وظیفې کولوته اړه کړې یې.

ماهم د دروغوسره ګډ ځوابونه ورکول، د هغه یوشي نه ډیره متاثره شوم، چې هغه اخلاص و.

دهغه خبرې ماته د یو مهربان پلار په نظر راتلې په زړه کې مې هغه ته د یو پلار درجه ورکړه، ماته یې وویل، چې دوه ورځې وروسته به د اوسېدو بندوبست هم درته وکړم.

ته لږ زماحالت ته وګوره صیب! زه له کوره تښتېدلې وم،کوم ځای مې نه لاره اوددې ډارهم راسره و هسې نه، چې دلته مي پلاراو ورونه یاکوم بل خپلوان ونه ویني ددې لپاره؛ خو ما توره بوقره استعمالوله؛ خومشکله خبره دلته وه ماقسم کړی و، چې زه به شریفانه ژوندکوم؛ مگرما داسې ډېر دولتمند پېژندل، چې زه ورسره دهغه عیاشی دپوره کولولپاره اوسیدلی وای؛ مگرماځان په شریفانه ځنځیرتړلی و.

په هغه وخت کې زما کیفیت داسې و، چې زماپه زړه زخم وي او په یو وړه خبره یې هم درد کولو، ددې سرې خبرو زما دې زخم ته تسکین راکاوه ماهغه ته وویل، چې زماکارماته وښایه! هغه ماته وویل، چې ته ټول عمرکارکول غواړې زه ستا دغه وړه وینم، چې په مخ دې خې راځي؛ خو کله، چې ته زما سره یې زه غواړم چې ته خوشاله اووسې اوداسې ډېرې دهمدردۍ خبرې یې وکړې

زمااوښکې يې روانې کړې ما نورخان نه شو قابوکولی ورته مې وويل زه يوشړل شوې جلۍ يم زماپه سرستاغوندې ديوسپين ږيري لاس ضرورت دی، چې زما وجود دګناهونوله دنياڅخه پټ کړي، محترمه زه يوګنده راز يم، چې تاسوبه يې په خپله سينه اوخپل چت کې ساتئ همدغه زمايوخوږ رګ و، چې دهغه په لاس مې ورکړ

هغه وويل: څوورځې وروسته به درته معلومه شي، چې زه څنګه سړی يم، زه ستا راز په خپل زړه کې ساتم ته لږه واضحه وغږيږه زمالاس ستاپه سر ونبايه.

دهغه ليوالتيا پرماغلبه وکړه مابه غيردخپل بچي نه چې دعيسويانو په جال کې مې پرېښی و نوره ټوله کيسه ورته تېره کړه. ما دهغه څهرې ته کتل، چې هيڅ تغير په کې رانغی، هغه وويل: ته زما په نظرپاکه يې ستا بدقسمتي داده چې ته ډېره ښايسته يې زه يو دنيا ليدونکی سړی يم ښه او بد خلک پېژنم زه دخپلې تجربې نه وايم، چې ښايست داسې شی دی لکه مقناطيس سړی ځان تـه کشکوي ستاپه ښايست اوجسم کې دجنس کشش شته هرڅوک دې چې ويني درته ليونی کېږي. او ستاپه حاصلولو باندې پيسې شيندي.

هغه ته مي وويل:کوم کشش چې زماپه وجودکې دی هغه زما دبدکردارئ اثردی، زه غواړم چې زماپه مخ کې يوپاک تاثيرپيداشي، له تاسوڅخه هيله کوم څه داسې کومه وظيفه راتـه وښايه، چې زه يـي هـر وختـې کـوم او زمـا ضميرپاک کـړي، همدغسي خبرې مو تر ډېره وکړې زمونږ ترمينځ کوم حجاب نه و ما هغه ته دپلارپه نظرکتل هغه ماته دلمانځه وويل او په ائنده کې به زه کومه وظيفه هم درته وښايم.

د ډوډی وخت شوهغه له هوټل څخه ډوډی راوغوښته او دواړو په شريکه وخوړه د ډوډی په وخت کې مې دهغه نه دشحصي ژوند پوښتنې کـولې هغـه وويـل دوه زامن يي زماپه عمردي اودرې لوڼي يې دي او چې کله يي د ښځې پـه بـاره کـې خبرې کولې؛ نوداسې يې په خوله اړوله را اړوله ته به وايې، چې کوم تروشن شی يادوي، لنډه دا چـې هغـه لـه ښـځې څخـه ناراضـه و. هغـه د ژونـدي زړه خاونـد و.ښځې يې دده له خولې کومه پاملرنه نه ورته کوله هغه ځان ډېرمعصوم ښوده پـه خپل متې يي دغه فابريکه جوړه کړې وه.

زما له هغه سره خوا خوږي پيداشوه لکه څنګه چې هغه زمامحبت خپـل بالـه هغـه زماپه زړه قبضه وکړه. زماپه نظر هغه يوعظيم انسان راته ښکاره شو، دغه ورځ ښياته په

خبرو تېره شوه، په دویمه ورځ هغه زما لکه دیودوست استقبال وکړ، ما هغه ته وویل ماته په دفترکې خپل ځای وښایه هغه وویل: ولي ماته مخامخ کېناسته دي نه دي خوښ؟ ستاځای همدغه دی ماته یي دخپلي وظیفې معلومات راکول، چې ټیلیفون څنګه ځواب کړم خپل قایلونه یي راته مخې ته کېښوده د ټولونه یې په دغه خبره ټینګار کاو چې مونږته له دولتي محکمو څخه اډر راځي ته کله کله هغه ټولو دفترو ته ټیلیفون کوه، هغه خوښ ساته، نیمه ورځ په دغو خبرو تېره شوه، غرمه یي بیا دپرون غوندې له هوټله ډوډۍ راوغوښتله او بیا زیاتې خبرې شروع شوې، هغه وویل زما ددې خبرې خیال ساته چې په ما بدګومانه نه شې، زه صفا سړی یم ما چې تاته کومې دزړه پټې خبرې وکړي هغه مالا تراوسه چاته نه وې کړې، تاته مې ځکه وکړې، چې تاهم خپلي خبرې صفاصفا وکړې، زه به تا دخپل جینسي لذت لپاره نه ساتم؛ بلکي ستا دعزت حفاظت به کوم خوته له مانه دلري تلوکوښښ مه کوه. د هغه هره خبره زما زړه ته غورځیده، ولې به نه غورځیده اخیرما هغه ته دپلار درجه ورکړې وه ولې به زه له هغه نه تلم زه خوځه احسان فراموشه نه وم. هغه ته مې داوسیدو دځای څه ونه ویل دغه ورځ هم تېره شوه اوبیا دغسې یوپه بل پسې څلورهم تېرې شوې، په پینځمه ورځ څلور بجې ټول ستاپ رخصت شو یواځې پیردار پاتې و په هغه ورځ ما هغه ته کتل.هغه داسې بدل بدل راته ښکاره شو.

یوڅه سترړی و ماورته وویل ولي داسې سترړی یي؟

هغه وویل دجسمي سترړیاخبره ده،خو زه له خپل روح څخه سترړی یم، دغه سترړیا باید ماپه کورکې ایستلای وای، خو زه خپل کورته د تلو نه وېرېږم، دغسې سلوک راسره کېږي، چې دغه لږه دمه هم نه راځي، هغه یوه اوږده سا واخیسته اوپسې یې زیاته کړه خلک وایې، چې شراب دسړي سترړیا باسي؛ خو زه وایم، چې د شرابوګنا سړی لاپسې سترړی کوي او له دې سره هغه را اوچت شو، په څلور کسي چوکۍ کې کېناست او زه یې هم وغوښتلم، زه یې خواته ورغلم ورسره کېناستم او زما په ویښتانو کې یي ګوتې وهلې، هغه کومه غیرشریفانه خبره نه کوله، لګیا و داسې ښکاري، چې زه له تانه ډېرپه خپل ژوندکې ستومانه مګر ته بچی یي زه نه پوهېږم چې ستاغم څنګه په خپل زړه کې ځای کړم هغه زه دومره ځان ته جوخته کړم چې سینه مې له هغه سره ولګیده هغه زماپه ویښتانوخوله کېښوده

او ويې ويل هيڅ تصور نشم کولای، چې د يو ښځې ويښتان څومره خوشبوداره وي تـه، خويوګل يي چې څنګه ديوسړي په زړه کې تاته حيـواني خيـال را اوچتېږي بياهغـه زمـا سترګې څو وارې مچې کړې بيا هم ماکومه بده ونه ګنله؛ بلکې ماته سکون ميلاوېده لکـه چې ديوپلارنه لورته ميلاوېږي، بيا هغـه خپـل مـخ زمـامخ سره ولګـاو بيـايې شـونډې زماپـه شونډو اينبې وې دا اوله موقع نه وه، چې زما له شونډوسره دبل شـونډې لګېـدې؛ خـوفرق ودهغوي شونډوکې حيوانيت و او دغه شونډې د يو پلار شونډې وې، هغه وويـل تـه يـوه معصومه يي ته پاکه يي زه چې کله له هغه ځايه روانه شوم غروب مهال و د هغه روح بـه پـه سکون و اوکنه مګر زما روح په سکون و دا ديو پلار د مينې خمار و.

# يو افسر زه په رشوت کې غوښتم

د هاغه ماښام نه به وروسته هغه خپل روح تسکيناوه هغه به په صوفه کېنا ست او زه به يي خواته کېنولم زما تندی يې مچي کاوه اوله همدردۍ نه ډکې خبرې بـه يـې کولې، غالبا اوومه که اتمه ورځ وه هغه په صوفه کې څملاست اوماتـه يـي پـه دفـتر کې يو کټ و په هغه کې دڅملاستو وويل، لږ وروسته زماسـترګې لـه سـتړيا څخـه سره ورغلې وې، لږ وروسته په داسې حال کې راويښه شوم، چې دهغه يـولاس زمـا له سرڅخه لاندې و او يوه پښه يې په ما اړولـې وه، زه لږڅـه راټولـه شـوم، خوهغـه دويم لاس زما را لاندې کړ او له پاسه يې په ځان څملولم بيامې وليدل، چې دهغه ساه تېزه تېزه کېده او په سترګو کې يې معمولي سوروالی پيداشو، دا هغه سړی نـه وکوم چې ماپه زړه کې د پلار درجه ورکړې وه.

ما دسړيو داسې ډېر غبرګونونه ليدلي و بيا هم ماځانته دا فريب ورکاو چـې دی لـه هغه ځوانانو اوله هغه مکـار ډاکترنـه اوچـت دی؛ مګرهغـه زه لـه دغـه فريـب نـه زر وويستلم دهغه يولاس زما پرتوګاښ پسې ګرځېده

زه زر له هغه څخه جدا شوم هغه زماپـه زړه لکـه دخنجـر ګـذار وکـړ، زمـا شـونډې رپيدې او ژبه مې بنده وه، نه پوهېږم څرنګه حالت مې وهغه هم په کټ کې پروت و لکه هغه ته چې هم کومه صدمه رسېدلي، له سترګومې بې اختياره اوښکې روانـې وې، ما په زوره چغه پرې ووهله زه خپل صورت په يو پلار نه ناپاکه کوم هغه ماته رامنډه کړه، زه يي په غېږکې ونيولم او ښنه يې وغوښته

او دا یې وویل په خدایﺉ(ج) قسم ته هاغه شراب یې، چې د ذاهد قسمونه هم درته ماتېږي، نه پوهېدم، چې هغه نور څه وویل، خو زه هغه وړوکي ماشوم ته ورته وم، چي چا دلوبو سامان ورمات کړی وي همداسې سلګۍمې وهلې کله چې زه لږه په کراره شوم؛ نو هغه ته مې وویل ما؛ خو تاته دیو پلار په سترګه کتل ما؛ خوله تاڅخه دا تمه نه کوله، هغه زه نوره خبروته پرېښنبودم

او ویې ویل ماته اوس هم په هماغه نظرګوره، زه هم انسان یم څه پرېښته؛ خونه یم دنیکۍ اوبدۍ ترمينځ دیو خط فرق وي ته چې ماپرته ولیدلې ډېره ښایسته راته ښکاره شوې؛ نوله هغه خط څخه واوښتم دخدایﺉ(ج) لپاره ماته ښنه وکړه ما هغه وباښه؛ خو په زړه کې مې خیری پاتې شو، ماسوچ کاوه، چې سړي څومره کمزوري دي: خو زه دومره کمزورې نه وم څو ډوله نشې شته چي خلک یي نه شي پرېښودی؛ خوما د اهرڅه په کلکه اراده پرېښې و.

په هغه شپه ماهیڅ خوب ونه کړ هره لمحه دغه خیال ویښولم، چې د ښځې لپاره ښایست او ځواني بدنصیبي وي، ځوانه جلۍ په هغه چا هم باور نشي کولای کوم یې، چي دپلار په ځای یې وي، زه مجبوره وم په سبا بیا دفترته په نه زړه ورغلم، په دغه ورځ یو دولتې افسرفابریکې ته راغلی و زه یې هغه ته وروپېژندم دهغه نظر اوس هم ماته یاد دی، چې په ځوړونکي نظریي راته کتل هغه، چې کله لاړ؛ نو ماته خپل ناوړه صیب وویل هغه سره اډردی، چې تقریبا ددونیمولکو روپو دی ؛ خومشکل دلته دی، چي هغه لوړ رشوت غواړي اواډرهم دده په لاس کې دی

په دویمه ورځ هغه په اډر پسې لاړ زه په دفترکې یوازې وم دپام غلتولو لپاره مې قایلونه کتل په هردراز کې بلاقایلونه وو، په یو درازکې مې یوه اوږده کڅوړه ولیده، چي راوامي خیسته خلاصه مې کړه، په هغې کې ټول لغړ عکسونه وو، دغسې عکسونه ما ډېر لیدلي و، چې زمايې داحالت کړی و؛ مګر زه په دې حیرانه شوم چې دیو سپین ږیري په درازکي! دلته به هغه په خپله اینې وي څکه بل چا خو نشو اینښودلی، دهغه ټول کردار زماپه مخ کې پروت و.

ماعکسونه بیرته کېښودل اوپه سوچ کې شوم، چي دغه بزرګ څومره فریب دی، ده چي زه په خپل جال کې ایساره کړې وم ماته دومره صدمه ورسیده، چي زه یې بیان نه شم کولای، زه یې دې سوچ کې کړم چي اوس چېرې لاړه شم.

خبره دلته وه چي ما له هرڅه توبه ایستلې وه قسم مې کړی و، هغه قسمونه د

ماتېدوپه خطرکې راته ښکارېده، زه په دې سوچ کې غرقه وم چې هغه راغی، ماځان سره فیصله وکړه که داخل مې پکې شیطاني نظر ولید؛ نوکار به ورسره پرېږدم؛ مګر هغه ورځ زما اخیري ورځ شوه، هغه بیا ډېره ښایسته ډوډۍ راوغوښته هغه نن زه په بل جال کې ایسار ولم زما اندېښنه غلته ثابته نشوه، هغه په بنده بنده ژبه دهغه افسر خبرې شروع کړې، چې اډر یې نه و ورکړی هغه ماته معاش د درې سوه نه څلورسوو ته لوړکړ.

اخیر یې دغه ناوړه خبره په خوله راغله.افسرصاحب غوښتل، چې ته یوځل ماسره په فلاني هوټل کې ووینه! هغه له تا څخه ډېر متاثره شوی او ویې ویل، چې لږ ګپ شپ به ولګوو

ښه نو تا ورته ونه ویل چې هغه له چاسره نه ګوري؟

ما؛ خوورته وویل مګرزه هغه مجبور کړم، چې ته له هغه سره ووینې، ته ورشه! زه هغه نشم خپه کولای ما تاته وویل، چې هغه سره د دوه نیمو لکو روپو اډر دی، چې پکې یولک او دېرش زره ګټه ده، که ته هغه ته ورنشې دغه اډر زمونږ له لاسه وځي، له دې نه وروسته هغه سره بل دپنځوس زرو اډر هم شته هغه به هم مونږ ته راکړي.

ماورته وویل ښه؛ نو زه یې درشوت په طور غوښتې یم؟

هو، همداسې یې وبوله زه تاپه زوره نشم لېږلی، که ته پوه شوې یې؛ نوماته صفا ووایه دغه به تاته کومه نوې خبره نه وي.زماپه خاطر لاړه شه! زه قکر ورته وړې وم، ماانکار وکړ.

هغه ماته وویل که ته دغه کار وکړې؛ نو زه به دوه زره روپۍ درکړم هغه؛ خو دې توله شپه نه ایسار وي، بس دوه درې ساعته ورسره یې،هغه ما ته داهم وویل، چې ته داسې جلۍ نه یې؛ خو هغه ډېر ضدي دی

ما لپاره دوه زره روپۍ ډېرشی وې؛ خو زړه مې هیڅ نه منله، چې هغه افسر ته ورشم، ما سوچ کاو چې د پاکستان دولتې ادارې هم په دغه ناوړه عمل اخته دي اوهم دغه دولت دی، چې مونږته دعصمت فروشې خطاب کوي هغه وویل زیات سوچ مه پرې کوه، که په ما دې اعتبار نه وي؛ نو دوه زره به زه مخکې درکړم.

- ما خوسوچ کړی، چې زه هغه ته نه ورځم او دا سوچ کوم، چې له پیسونه وروسته اوس جنکۍ هم په رشوت خلک غواړي؟

- په دې کې د حیرانۍ څه خبره ده دا؛خو ددغې ځای دستور دی،که ته ماته

دهغه ځای نه اډر راوړې؛ نو زه به تاته ښه کمیشن هم در کړم، زه دې ته فکر وړې وم، چي ماچاته دپلارخطاب کړی و هغه څومره په خوند دغه خبرې کولې... هغه وویل؛ مګر که ستا ماضي ماته نه وای معلومه؛ نوما دا خبرې تاته نه شوې کولای؛ نو ته اوس په ما دغه نازونه مه کوه، چي زه یوه شریفانه ښځه یم هغه طلسم دې مات شوی.

ماورته وویل داسي وکړه، چې ما له ځان سره وساته، دکورغم راته وخوره او پینځه زره به دمیاشتي راکوې اوکله چې مې کوم افسرته ورلېږې؛ نو دوه زره به نورې هم راکوې!

هغه په ډېرې بې شرمۍ وویل افسوس تا زما اخلاص درک نه کړ، ما خپله بوقره په سر کړه، کومې ورځې کار چې مې ورسره کړی و هغه روپۍ مې هم ورته پرېښودې اودده د اخلاص ددرک کولو نه مخکي له دفترڅخه راووتم.

زه هم داسي بې منزله روانه وم یوباغ ته ورسېدم هلته یوچوکۍ پرته وه، په هغې کې کېناستم سوچ مې کاوه چې یوښځه اخیر څه کولای شي، د چا څه کولای شي، ښځه په دې ټولنه کې د لوبو سامان ته ورته ده، چي هر سړی یې په روپواخیستلای شي، ماسره دګیلې حق نه و، څکه ګناه زما خپله وه، چي هغه ته مي خپل خوږ رګ وښود، څه وشو چې ما دهغه دورتګ نه انکار وکړ پاکستان له داسې ډېرو جنګونه ډک و، هغه به بله زما پشان د دوه زره روپو په لالچ کې ورولېږې،دغه خیال په ما اور پورې کړ زه په دې خیال راوچته شوم، چې راځه بېرته ورشه، چي راکړه دوه زره روپۍ چي ورشم؛ خونه پوهېدم، هغه کومه جذبه وه دهغه پرځای هغه څلورو هلکانو ته ورغلم، هغه لوفران ا و بدعمله وو؛ خوماته یې په سپکه نه کتل، ماته یې پناراکړې وه، هغوی به شپې دهوټلونو په غیاشۍ تېرولې؛ خو زما دعزت ساتوونکي وو.

# زما سکه ورور زما غوښتونکی شو

هغوی ماته مشوره راکړه، چي په کوم ښوونځي کې ځانته داستاذۍ وظیفه پیداکړه، کیدای شي، چې داوسیدو ځای هم درته پکې پیداشي دجاګیردار زوی ماته پیسې راکړې اوما نوي وظیفي پسي لټون شروع کړ.

په کوم دولتي ښوونځي کې؛ خوماته وظیفه نه راکول کېده، چي له ماسره ډیګري نه وه اوشخصي ښوونځي هم ډېر و چې څه تمه مي ورته کیده، زه به اکثره په محلو کې ګرځېدم دا قسم ښوونځي په محلو کې اباد وو، زه چې کوم ښوونځي ته ورغلم؛ نوهغوی یوازې دمیاشتې اویا روپۍ تنخوا راته وویله، په دې ورځ څلورو ښوونځیو صفا ځواب راکړ،ما فیصله کړې وه، چي زه به دتنخوا په پیسو ځانته کور نیسم اویو شریفانه ژوند به اختیار وم، په چامي اغتبار نه و چې ماته دې د خور او لور په سترګه وګوري، زما له ټولو نه غټه کمزوري دا وه، چې له کوره تښتېدلې وم کومه تکیه مي نه لرله، په ډېر عزم مې دا راده کړې وه، چې باقي ژوند به د ماشومانو په روزلوکې تېروم؛ مګر ددې عزم لپاره دځانته کور اود ښې تنخوا ضرورت و، چې ماته په اسانۍ نه پیداکېده، چې هغه څلورو سره اوسېدم؛ نوماته به دشاوخوا کورونو دشک په سترګه کتل،که هرڅومره په تلو راتلو کې به زما حجاب په مخ پروت و؛ خو بیاهم خلکو شک کاوه، یوه ورځ مې د دروازې څوکیدار ته وویل، چي زما په اړه چا درنه پوښتنه کړې؟ هغه یوشریف انسان و، هغه وویل ولې نه څوڅو وارې کړې ما ورته ویلې چي هغه دجاګیردار د زوی خور ده دلته له هغوی سره په کالج کې درس وایې اومونږهم داسې کوم حرکت نه وکړی، چې څوک دې غږ راوکړي، چې لږ په ارام شئ مونږ موتنګ کړو؛ خو داختیاط باوجود هم ماغوښتل چي له دې ځایه باید پښې وکاږم، که هرڅومره دغه ښار لوی دی یوه نه یوه ورځ به زه له خپل پلار ورونو یاکوم بل خپلوان سره مخامخ کېدم؛ مګر سوال دا و چې چېرې لاړه شم؟

دنیا راباندې تنګه شوې وه اویوه ورځ له دغه خطر سره هم مخامخ شوم، په هغې ورځ سترې ستومانه په ښوونځیو ګرځیدلې وم او دریکشې په انتظآر د سړک په غاړه ولاړه وم، په دې وخت کې زما کشر ورور سره د یو بل لوفر زما له مخې په موټر سایکل وړاندې ودرېدل، هغه بل لوفر تړې راکوز شو، ما دواړه حجابونه

اچولي ؤ زه وډار شوم لکه چې ویې پېژندم! هغه لوفر او زما ورور، چې په موټرسایکل سپاره ؤ زما خواته راغلل، ورورمې په کراره وویل، چې راځه زه پوه شوم، چې هغه خپل ښکار لټوي، ما هیڅ نه ویل، غوښتل مې دوی پوه شي، چې زه ددې کاتو نه یم؛ مګر هغه ما پسي وو، زه له دوی نه په کراره مخکې روانه شوم، په زړه کې مې راتېرشول، چې ښه بدې ردې ورته ووایم؛ خو زما له خولې هغه ته ووتل ته لاتراوسه بچی یې! له دې کار څخه لاس واخله په هاغه وخت کې دهغه عمردرویش کاله و او یوکال مود جدایې وتلی و، هغه وویل، ښه نو زه بچی یم که ته مخ نه ښکاره کوي زه دې له ښایسته لاسونو نه پېژنم، چې ښائیست لرې راځه هوټل کې به ډوډۍ هم درکړم اوکوټه هم پیداکېږي.

زماسترګي له اوښکو ډکې وې زړه مي لکه چې خولې ته راغلې وي، هیڅ مې له خولې غږ نه وته، ماته مې خپل ورور د هندوستان هاغه مهاجرت رایاد کړ، چې پیاده پاکستان ته راغلواودغه ورور به ماسره ددغه لغنتي وطن، چې مونږ لا لیدلی نه و خبرې کولې، چې پاکستان ډېرښایسته وطن دی، هو په دغه پاکستان کې هغه زماغوښتونکی شو اوماته یې وویل راځه هوټل کې به ډوډۍ درکړم او ویسکې به هم درباندې وڅښم.

زه خاموشه مخکې ورنه روانه وم، په دغه وخت کې خدای(ج) یوه ریکشه راپیداکړه او زه ترې راغلم، په هغه شپه مې دومره وژړل چې اوښکې مې ختمې شوې، له سترګو مې بې اختیاره اوښکې بندې شوې ورورمې له مخې نه نه لرې کېده دکور تول غړي مي سترګوته ودریدل، زه ناکامه وم خوځله مې دغه :راده وکړه چې راځه خپل کورته لاړه شه اوخپل سر دپلارپه پښوکې کېږده، چې ماته ښنه وکړه، ما له خپلې سینې سره ولګوه، هماغه شان مې په اوږوکېنوه، څنګه چې دې له هند څخه راوړې وم؛ مګرماته دپلار هغه کنځاوې رایادې شوې، چې په ژوند کې یې ماته نه وې کړې، دهغه خونخوار نظر رایاد شو، چې قهر ترې له ورایه ښکاریده، له یوکال غیر خاضرۍ نه وروسته هغه زه قبلولم، زما زړه راډک شو او په زوره مې چغې کړې چې( زه دچا لور نه یم) زه دچا لور نه یم، په ځانته کوټه کې مې تر ډېره وژړل.

# دا ښوونځی دی که رنډی خانه!

په بله ورځ زه بیا دښوونځي په لټې پسې ووتم، دوه ښوونځي مې پیداکړه یو یې خواب راکړ بل ته، چې ورغلم هغلته یوه دپاخه عمر ښځه سرمالیمه وه، دغه ښوونځی تر اتمه پورې و، خاص دجنکو لپاره و اوپه یو زوړ کورکې و، چې پاس منزل کې د سرمعلمې دفتر و او لاندې ښوونځي ته ځانګړی شوی و، سرمعلمه کونډه وه او هم دلته اوسېده، هغلته ماته معلومه شوه، چې ښوونځی د یو نا ظم دی هغه دایوب خان دوره وه، چې دیونین کونسلرانو قانون په خپل لاس اخیستی و اوخپلې مزې یې کولې اود ښار یو کس هم د هغوی خلاف اشاره نه شوه کولای، د دغه بد بویه کور په کوټو کي شاګردان په یوه چوکۍ درې سره داسې جوخت ناست وو لکه تنګ بکس کې چې سامان تخته کړې، شور له برداشت څخه وتلی و، دغه په ښوونځي کې اولنی شی و، چې ماترې نفرت کاوه سرمعلمې زه کېنولم او ذاتي پوښتنې یې کولې، چې ماپه سپینو دروغو ځوابولې، له هغې زه دومره پوښوم، چې هغې نه دا چې زه یې دنوکرۍ لپاره منتخبه کړم؛ بلکې خوښه یې کړم ویې ویل کله، چې چوهدري صاحب راغی هغه به تنخوا هم درته وټاکي، نور یې راته دهغه داسې بې دریغه صفتونه شروع کړل، چې تابه ویل هغه انسان نه بلکې فرښته ده.

لږ وروسته هغه تور مخی چوهدري راغی اوسرمعلمې زه ورمعرفي کړم، چوهدري ماته سرنه پښوپورې دسود!ګر په نظر وکتل اوپه حکیمانه لهجه یې وویل: زه دماشومانو په تعلیم اوتربیت کې لږ سخت یم، مور اوپلار خپل بچیان ددې لپاره مکتب ته لېږي، چې راتلونکی یې روښانه شي.

زه غواړم،چې ته خپله دنده په ښه شان سرته ورسوې او زه به تاته دوه سوه تنخوادرکوم، نوردپینځم صنف انګریزي اوحساب درس په تاشو، زه دې تر دریو میاشتو پورې خارم که دې کارښه و، زه به دې معاش لوړکړم، څه ترقي به هم درکړم اوپه مستقله توګه به دې هم ځان سره ونیسو، دهغه خبرې مې ډېرې خوښې شوې زما اراده هم همدا وه، چې د راروان نسل کردار بایدقوي کړم، ماسوچ کاوه، چې منزل راته پیداشو ما دوه سوه قبولې کړې، ماته صنف راوښودل شو معلومه شوه، چې له مانه مخکې استادې خپله دنده پرېښې وه.

سرمعلمې ماته ځوضروري هدایات راکړه ما دپینځم صنف انګریزي او حساب وکتل اولږ وروسته خپل صنف ته لاړم، لږ وروسته رخصتي شوه ټولي استاداني په پاس منزل کې راټولې شوې اوله ټولو سره مې ځان معرفي کړ، هغوی ټولې ځوانې او ښایسته وې، چي ما په بل ښوونځی کې نه وې لیدلې، بعضې استاداني د چېتر سیانو ښځې وې اوبل مې په دې خوښې شوې چې ډېرې خوښ مزاجه وې اوټوکې به یې په خپل مینځ کې کولې، ماهم په خپل وار سره له ډېرې مودې وروسته له هغوی سره ټوکې وکړې، یوې په خندا خندا داخبر راته وکړه، چوهدري ډېر ښه سړی دی، ستا تنخوا به ډېره زرلوړه کړي، هغوکې یوه وه، چې ډېر به یې خندل، هغې وویل چي دومره ښایسته سترګې اوویښته لري چوهدري به یې څنګه تنخوا نه لوړوي،په دغه خبره ټولو په ډکه خوله وخندل ماهم ورسره له ډېرې مودې وروسته وخندل، زه خوشاله وم، چې داستادی دنده راته پیدا شوه د اوسیدو دځای مسئله هم حل په نظرراتله، ځکه سرمعلمه په پاس منزل کې یوازې اوسېده ما ویل، چې څو ورځې وروسته به ورته ووایم، چې ماته هم څه ځای راکړه،استاداني کورو ته په تګ شوې، هغه چې زما د سترګو او ویښتو تعریف یې وکړ هغه پاتې شوه.

اوماته یي وویل: یا ما له ځان سره بوځه اویا ته له ماسره لاړه شه، چې د ښوونځي په باره کې خبرې درته کوم زما؛ خوکوم کور نه و؛ نوله هغې سره روانه شوم، هغې دخپل کور پرځای دخپلې مور کورته بوتلم ډوډی یي راته راواخیسته او ویې ویل واده کړې اوکه نه اونوکری ته مجبوره یې؟

ماورته وویل واده مې نه دی کړی؛ خو نوکري ددې لپاره کوم چې مجبوره یم.

هغې وویل اګر که ته په ریښتیا مجبوره یې؛ نو ضرور یې وکړه؛ مګر که تاته دخپل مور اوپلار عزت اوشرافت ګران وي؛ نوته دا وظیفه نشې کولای، د څو ورځو په تېرېدو به ته له دغه ځایه مایوسه وځې له دې نه بهتره ده، چې ښوونځي ته لاړه نشې، که ته زما په خبرو شک کوې؛ نو ښه ده کوه یه؛ خوخپله به درته معلومه شي، چې زما خبرې ریښتیا وي

ماورته وویل ته خبره وکړه اخیر په څه؟

هغې پسې اوږده کړه، چې چوهدري لعنتي تاته دڅه اسنادو بغیر ددې لپاره وظیفه نه ده درکړې؛بلکي تاسره دښایست اوځوانی اسناد دي، په دغه وجه چوهدري تاته وظیفه درکړې، له تانه مخکې، چې کومه استاده وه هغې د چوهدري له تفریح

ځخه انکارکړی و؛ ځکه وویستل شوه، په هغه ښوونځي کې یوه استاده هم له چوهدري ځخه نه ده پاتې...

زه حیرانه شوم ماپه بې زړه توب له هغې نه پوښتنه وکړه ته هم ترې مخفوظه نه یې؟ هغې وویل نه، مگر په دې کې دچوهدري کوم کمال نشته، چې زه هغه دم کړې یم؛ بلکې زه خپله داسې یم، زه خپله غواړم که ته ماته لوفره وایې او که عیاشه وایې؛ نو څه فرق نه کوي، زه یم زه داسې یوه شریفه جلۍ نه یم ته کېداي شې حیرانه یې، چې دا زه ځنگه تاته په اول وار لیدو سره داسې خبرې کوم؛ خود حیرانۍ خبره نه ده، ته مې چې پیغله ولیدې، زړه مې درباندې وسوزید، غوښتل مې چې تا له دغسې خطر ځخه وژغورم، ته یقین وکړه، چې ډېره ښایسته یې، زه نه غواړم تا هاغه ناپاک چوهدري ناپاکه کړي،.هغې چې ماته پاکه او پیغله وویله؛ نو زړه مې درد وکړ؛ مگر زه چپ وم، د هغې خبرې مې اورېدې، هغې وویل: ته زما تېره کیسه واوره، بیا به پوه، چې زه ولې له دغه راز ځخه پرده پورته کوم، دښوونځي به وروسته درته ووایم، اول زماخپله کیسه واوره!

مور زه یو داسې سړي ته واده کړم، چې دماغي حالت یې روغ نه و ته هغه ته لیونی هم ویلی شې، زما پلار یو کاروباري سړی و، ده زما د واده جهیز ځلوېښت زره روپۍ وخود، ددې حقیقت نه ډېر لږ خلک خبر دي، چې هغه زما پلار ته زما خسرگنۍ ورکړې وې، هغه دولت مند خلک دي، دهغوی زوی پیدایشي-همدغسې لیونی و، هغه همېشه خاندي یاد ماشومانو غوندې حرکتونه کوي، ماته هیڅ پته نه وه، چې هغه داسې دی وروسته راته معلومه شوه، چې هغوی ډېروکورو ته دده لپاره رشتې غوښتې وې او دخوراولور د ورکولو په ځای به یې ورته کنځا کولې، همدغو بدو ردو به هغوی ته زور ورکاوه، چې ولې یې ځوک زوی ته لورنه ورکوي؛ نو د ډېرو پیسو په مقابل کې مې پلار زه ورته ورکړم، زه دهاغه جنکیو ځخه نه وم، چې په کور کې کرارې ناستې وي؛ مگر زه یوه بې پروا جلۍ وم، شرارت به مې خپل کار و مگر د غیرو سړیو سره د تار لرلوخیال مې هم په زړه نه راته؛ البته دا والدینو په مالې حالت مې زړه دردېده، هغوی زما دغه بې پروایې، چې لېده نو زما واده یې زر غوښت، چې وشې؛ مگر له هغوی سره د جهیز لپاره څه نه و، زما پلار کاروباري سړی و؛ خو داسې کوم امیر یا تجار نه و، چې زما بار دې له اوږو سپک کړي، یوه ورځ مور راته ناڅاپه وویل، چې پنځلس ورځې وروسته دې

ودوم، مور مې ماته راتلونکې مېړه داسې تعریفاوه، چې ما په خپل قسمت ناز وکړ، د مور مې یوه خبره خوښه شوه.

چې ویل یې د خاوند دې هم ستا په شان هروخت خوله له خندا ډکه وي، زما په پوښتلو هم مور او پلارچه ونه ویل، چې دا دولت له کومه راغی، چې ماته پرې سره اونور سامانونه اخلي؛ خو مور او پلار مې خوشاله وو.

د واده ورځ هم راغله ماته معلومه شوه، چې پينځه سوه نفر په ورا کې هم راغلي وو، په ډېر ښه شان اوشوکت یې زما ډولۍ تر خسر ګنۍ راورسېده، زه دیوې ناوې په شان په پالنګ پلواچولې دخاوندپه انتظارناسته وم، زما د پښوښکالو ترغوږشوه زه وپوهیدم، چې خاوند مې دی؛ خو د درې څلورکسانو دربار و، لږ وروسته دکوټې ورخلاص شو او له باندې اړخ څخه بند شو له دې سره مې یوه زورزوره خندا واوریده، بیا مې دهغه دا اوازونه واوریده بې بې ای بې بې او دروازې ته یې څېرې بندې کړې وې، خپله مور یې غوښته، چې راشي او ور ورته ښرته کړي، بیا زما خواته راغی، زه یې پورې وهلم اودکټ نه یې لاندې واچولم، هغه راته خندل، ماله مخه پلو لرې کړ، هغه یوخوان اوښایسته هلک و، له جسم نه هم ښه و؛ خو زه به تاته څه ووایم، کله به یې خندل او کله به یې زما چپلې پورته پورته کولې، ماته رایاد شول، دمحلې جنکۍ به غږېدې او دیو لیونې ذکر به یې کاوه چې مور اوپلار یې غواړي واده ورته وکړي؛ خو هغه چور لیونی دی، چې څوک خور لور نه ورکوي، زه پوه شوم چې هغه همدغه لیونی و، بیاهم ماپه خان دا جبر وکړ، چې خیردی په زړه کې مې غوټه کړه چې راځه له ده سره ښه سلوک وکړه مینه ورسروکړه کېدای شي قسمت مې راوبښ شي اوماسره ښه شي، خواته مې کېناوه مینه مې ورسره وکړه مګرهغه به همداسې په زوره زوره خندل، ماهغه په دویمه لاره سیخ کاوه؛ خو چې هرڅومره کوښښ مې وکړ هغه دا لاره نه پېژنده، هغه دتیرې په شان و، یو حس یې هم بیدار نه شو زما د واده اوله شپه وه؛ چې د ژوند ترټولوخوږه شپه وي هغه راباندې په ژړا تېره شوه.

هغه ښه په خواړه خوب په بل کټ کې ویده شو سهار مې خوابنې اودمیړه خور راغلې اورانه یې وویل: شپه دې څنګه وه؟ زما زړه هسې- هم ډک و، په ژړا شوم تاسوماسره دوکه کړې، هغه دهیڅ قابل نه دی، هغه سره دومره احساس هم نشته،چې دښځې په نظر راته وګوري...تاسو زه لیونې ته کولم؟ زماخوابنې دواړه

لاسونه سره جوړه کړه اوپه زاریویې شروع وکړه خیردی هغه به خدای(ج) جوړکړي، ته هغه مه پرېږده!.ما؛ خوپرینښوده، خپل مور اوپلارته لاړم یوکنځامې ورته ونه کړې نور مې چې څه په خوله راتلل ورته مې وویل، مورمې زما پښوته راوغورځیده اوزارۍ یې کولې ښښنه یې غوښته، هغې ویل چې مونږستاله جهیز لپاره هم څه نه لرل، د هغوی په پیسوموهر څه درته جوړکړل، دهغوی په پیسومو واده اود ډوډۍ خرچې وکړې، مطلب هغوی زه خپل لیوني زوی ته وکړم او زما مور اوپلار یې د لور له دغې فریضې څخه بې غمه کړل زما ژوندپه دوزخ کې شو، ما دهغه( لیوني) دښه کېدو ډېر کوښښ وکړ؛ خوهغه مور ذاتي لیونی و، سېوا له دغه کار څخه چې په کټ به ناست و اوخندل به یې اویابه یې داسې کارونه کول چې ماشومان یې هم نه کوي، بل څه یې نه و زده.

د هغه مور او پلار هم مجرمان وو او زما هم؛ ځکه ددوی چابې زماپه لاس کې وه او زه د دوی له پاسه وم یوه ورځ؛ خو مې په معمولې خبره دا دمکې هم ورکړه، چې عدالت ته به لاړه شم او دعوه به پیل کړم، چې له ما سره مو دوکه کړې په لیونې یې واده کړې یم، له هغې نه وروسته په ما چا جبر نه کاوه ما میټریک کړی و، په کورکې مې زړه نه لگیده؛ نو ما دغه دښوونځي وظیفه پیدا کړه زما دلته یوکال وواته، چوهدري راته پیدا شو هغه دیو ژوندي زړه خاوند و او یو عیاش سړی و، زه یې په خپله عیاشۍ کې ډېره زرگډه کړم، زما په وجودکې داسې اور و، چې زه یې دې ته مجبوره ولم دا کومه گناه نه ده خراب کارنه دی زماسره دوکه شوې وه، دیو لیونې پلار دخپل ضد پوره کولوپه خاطراوپه تولنه کې یې دعزت ساتلو لپاره زه اخیستي وم او پلار مې خرڅه کړې وم، زما صبر ته گوره هغه مې بیا هم قبول کړ ؛ خو هغه ن ه د ذهن له طرفه مگر د جذباتو له طرفه هم زما قابل نه و؛ خو زه اوس هم خوشاله یم، چې هغه ددې قایل نه دی اولادونه به یې هم دده په شان لیوني و و، ولې زه څه انسان نه یم؟ ولې زه جذبات نه لرم؟ ولې زه یوه تېره یم؟

# د ښوونځي پاس منزل

هغې لږې یا ډېرې خبرې کولې که کومه پوښتنه به مې وکړه دې به یې وضاحت کاوه، د هغې جذبات ما سم درک کول دیو ښوونځي نه سېوا دا جذبات څوک نشي درک کولای، هغه یوه ښایسته اوځوانه جلۍ وه د هغې په وجود کې چې کوم اورونه وو هغه مادرک کړي وو. هغې وویل: همدغو اورونو زما ژوند تبا کړ.

صیب! ستا په نظر به جلۍ گناهګاره وي اوکه چوهدري ماته ددغه سوال جواب مه راکوه؛ مګرکه زه د نفسیاتو ډاکتره وای؛ نوما به تاته تجزیه وړاندې کړې وای.

هغې وویل ما دغه وظیفه یوازې د پام غلطولو لپاره شروع کړه؛ خوماته هلته هغه خوندونه ملاو شو چې زه ترې محرومه وم، چوهدري ماته ددوستۍ لاس را وغځاوه ماهم ورکړ.

دهغه دتوقع خلاف زه هم ماته شوم یوه ورځ یې زه پاس منزل ته وغوښتم ماته په اول وار معلومه شوه، چې دیو سړي په لمس کې څومره خوندونه موجود وي، کوم خوند چې زمانه زما مور اوپلار په خلوښت زره روپو اخستي و، بیآ زما او د هغه(چوهدري) دوستي سره پخه شوه، زه یو ځل هغه سره د اتو ورځو لپاره مري ته هم لاړم، په کورکې مې وویل، چې ټولې معلمانې په یوځای ځي،.هغوی زه منع نه کړم اونه یې زه ایسارولای شوم؛ ځکه چې ما په عدالت کې بربنډول، زه دهغه مولوي ډېره شکول غواړم، چې زما نکاح یې ددغه لیوني سره وتړله، هغه رذیل ښه خبر و، چې دغه لیونی دی، په اسلام کې له لیوني سره هیڅ نکاح نه کېږي؛ خو نه پوهېږم، چې دغه رذیل ملا زمانکاح څنګه اوپه کوم روایت ورسره وتړله، زه هغې نه مخکې دهغه په ټوله قبیله لعنت وایم، اوس هم چې کله یې دجمعې په ورځ په لاډسپیکر کې مسئلې واورم، زړه مې غواړي، چې ورشه او دا ډېره ترې د بېخه وباسه.

صیب! اوس ماته دهغي جلۍ کومه پته اوکوم خبر نشته، چې هغې به څنګه کړي وي له چاسره به تښتېدلې وي یا کېدای شي هغې شریفانه ژوند اختیار کړی وي؛ خو زما یقین دی، چې داسې به نه وي شوي؛ ځکه هغه په بدکارۍ کې دومره مخته تللې وه، چې بېر ته راتګ یې مشکل و، هغه ډېره شوخه او ټوکماره جلۍ وه یا کېدای شي، زما په لار راغلې، چې هره شپه ځانته خاوند پیدا کوي، تاسو مه

حیرانېږئ، دهغې جلۍ عمل د حیرانۍ وړ نه دی دا دپاکستان او د یوې ټولنې یو معمولي مثال دی، مانه وپوښته، زه درته ووایم چې یوه جلۍ دیو مولا په لاس د هلاکت کندې ته غورځي، دشلوکالو جینکۍ شپیته کلن ته ودېږي، چېر تـه چـې شوخه جلکۍ یو بې حاله لېوني ته ودېږي، هغلته داسې واقعې وې چې دالله نـه وروسته یې دشپې تیارې وېني بل څوګ نشي لېدای.

دغه بدکاره ښځې چې تاسویې فاحشې عصمت فروشې بولئ تاسو د هغې په سـېنه کې پټ رازیا د هغې ماضي وګورئ؛ نوتاسوته به ځان په خپله په نظـردرشي، هغـې جلۍ ماته وویل، چې ټولې معلمانې د چهودري دتفریح ذریعـه ده، د ښـوونځي معاش بېل اخلي اوله چهودري نه بېل، همدغه وجه ده چـې دلتـه ټـولې معلمانـې ښایسته دي، چې‌لاندې ماشومانو ته درس وایي او پاس دغـه بـدکاري کـوي، دغـه ټولې استاذانې چې په خپل مینځ کې ټوکې، خنداوی کوي په زړونو ماتې دي، یو دبلې دشمنانې دي، هغه کېدای شي ستاهم دښمنانې شي، هغې داهم وویل، چـې دهرې معلمې ځان ځان ته کیسه ده، چې دې کارتـه یـې مجبـوري کـړي، څـوک دخپل بوډا پلار په وجه چې د روزۍ ګټلـو یـې څـوک نـه وي، څـوک د مېـړه د وزګارتیا له وجې بدکارۍ ته اړ شوي دي.

ددې خبرو سره سره بیاهم ما د هغه ښونځې دوظیفې کولو فېصله مـا تـه نکـړه، مـا وویل چې داټولې استا دانې به د چهودري په خلاف ډوموټی کړم؛ خوهغه زما وهم و ما هغلته تقریبا یوه میاشت تېره کړه معلمانوته مې قسمونه ور واچول؛ خوهغوی په مادا الزام ولګاوه، چې ته غواړې چهودري یواځې ځانته کړې

په دغه دوران کې چهودري هم مکتب ته راته، زه به یې ځانته دفتر تـه غوښـتم، کله به چې زه ورتلم سرمعلمه به له دفترڅخه وتله، هغه به کیسـه زمـا لـه وظیفـې نـه شروع کړه او په ذاتي خبرو به راتاو شو، په مینځ کې به یې بدکارۍ طرف ته اشارې کولې، یوه ورځ یې راته وویل: راځه پورته څو! ما ورته وویل، چې هرڅه خبره وي دلته یې وکړه زه پاس نه ځم، په دغه دوران کې ماته دا پته هم ولګیـده، چـې لـه ماشومانو به یې کله په یوه بهانه اوکله په بله اتانې یایوه روپۍ ټولوله اوددې عیاشۍ ته به لویدلې

چهودري زما دګیرولو زیات کوښښ کاوه، دمعاش د لوړیدو لالچ یې راتـه وړانـدې کړ، یوځل یې د مري دسیل دعوت راکړ

زماهم نوره د صبرکاسه ډکه شوې وه؛ نو خوله مې پرې راخلاصه کړه، یوڅه مې هم ورته پرینښودل، چې څه مې په زړه راتله هغه مې ورته ویلي؛ مګرهغه یو بدعمله اوکم اصله سړی و، ښه یې وخندل او د ټېښتولو دمکه یې هم راکړه، په هرحال ما له هغه نه خپله تنخوا واخیسته، له ښونځي سره مې خدای په اماني وکړه او د شریفانه زندګۍ عزم راته په تیاره کې ډوبېدونکی ښکاره شو

# له بنګلې تېښته

ما په هغه ورځ ډېرپه جدي توګه سوچ کاوه، چې زمامستقبل به څه شي، مخکې له شکست نه، وروسته به ماپه تنهایي کې ډېرژړل؛ خو دا ځل مې ونه ژړل اوځان سره مې فیصله کوله، چې اخېر زه کومه لار ونیسم، دکور تلل مې هم له زړه وه ایستل ځکه له قید اوحقارت بل څه په نظرنه راتلل، که مې شریفانه ژوند اختیاراوه؛ نو په لاره کې لکه د غره غوندې غټ خنډونه به مخې ته راتلل، شیطان یوه لار راته مخې مخې ته کوله، هغه دهاغه سپین ږېري عیاش؛ چې زه یې افسرته درشوت په توګه لېږلم.

ما ویل راځه دغه لار غوره کړه او له هغه نه د اوسېداځای هم وغواړه اوخپلې پیسې ګټه، ماته همدغه په نظرراتله، چې څوک ماشریفانه ژوند تېرولو ته نه پرېږدي.

ما د شپې د جاګېردار زوی ته داخبره یاده کړه، ماهغه ته وویل که سړي ماته همداسې هوس کاره وي زما به اخر انجام څه وي، ماهغه ته دخپل وروركارنامه هم وویله.

هغه وویل: په دې کې د سړیو څه ګناه نشته، ته هغه مقناطیس یې، چې سړی له لرې راکشوې هرسړی چې تا ویني؛ نو بې اختیاره کېږي؛ خو په یاد ولره! مجبوره ښځه که بدشکله هم وي هغه سړي ته ښایسته ښکاري، کوم چاته یې چې دسوال لاس وړاندې کړی وي... ددې مرض علاج زمونږ په وطن کې نه پیداشوی اونه شته.

ما د خپل کورد غړو په باره کې هرڅه ورته وویل، هغه زه دکور له تګ څخه منع کړم ویل یې هغلته د ذلت اورسوایي نه سېوا ستا لپاره نور څه نشته، هغه ماته مشوره راکړه، چې په ټولنه کې ښه خلک هم موجود دي، خپل قسمت بیا وازمویه!

زه هم ددې په خاطریوځل بیا خپل قسمت ازمویلو ته تیاره شوم.
څو ورځې وروسته هغې ماته دیوې کمپنۍ پته راکړه، چې ته هغې ته ورشه که چېرته درته کومه وظیفه درکړي.

زه هغې کمپنۍ ته ورغلم هغوی راته وویل: مونږ سره څلور جنکۍ دي دپینځمې ځای نشته، ما هغوته زارۍ شروع کړې چې پلار مې مړ دی، واړه ورونه راپاتې دي دګټې یې زما نه غیر څوک نشته، زما اوښکې روانې وې دکمپنۍ مشر ـ لـه لـږ سوچ وروسته ماته وویل: ګور زه دلته ډېر مصروف یم ته داسې وکړه، چې د شپې اته بجې زما کور ته راشه هلته به په کراره خبرې سره وکړو اوکه بده یې نه منې نو مړې به هم ماسره وخورې.

زه د شپې دهغه کورته ورغلم معلومه شوه، چې هغه په کور کې یوازې دی، ښځه او بچې یې سوات ته په چکر تللي وو، د هغه عمر د پینځه شپیتو په خوا اوشا کې و، په خبرو کې یې همدردي وه، هغه په ما ښه ډوډۍ وخوړه بیا هغه زما دپلار او ورونو پوښتنه وکړه؛ خو کله یې چې دکور پوښتنه وکړه نوما انکار وکړ، هغه یوه مسته خندا وکړه.

بیا یې وویل: زه تاته یوه خبره کوم خپه کېږې خو به نه! زه غلې ناسته وم زه د سړي په ذهنیت پوهېږم، هغه ماته کومه داسې نااشنا خبره ونه کړه، چې زه ګوته ورته ونیسم؛ خو کله یې چې داخبره وکړه؛ نو په ما ټوله کوټه وګرځیده( بچې دې ضایع کړ اوکه واده دې وکړ) کېدای شي زما رنګ به بدل شوی و.
هغه وویل ماتاته پیغور درکول نه غوښتل؛ خو زه تا پېژنم، هغه هوټل ته به زه هم کله کله درتلم، ته ما لیدلې وې ماله یوه ملګري نه پوښتنه وکړه، چې دا څنګه جلۍ ده؟

ملګري مې راته وویل، چې دا ډېره قیمت بیه جلۍ ده، خو اوس یې ښې ښې درندې شوي دي( حامله شوې ده).
هغې وویل له هغې ورځې وروسته ته ما ډېره وکتلې؛ خو پیدا مې نه کړې، کله چې نن زما مخې ته پخپله راغلې؛ نو ما مناسبه وګڼله، چې کورته دې راوغواړم.
ماورته وویل دلته راغوښتل درته څه لپاره مناسب ښکاره شو.
هغه وویل وېرېږه مه ما درته ځای په دفتر کې ټاکلی دی، دلته به لږ ګپ ولګوو، خبرې وکړه، بیا هغه زما لاس په خپل لاس کې واخیست او ویې ویل: دغه دروغو

ته څه ضرورت و، چې پلار مې مړ دی او ورونه را پاتې دي؟
هغه زما له ماضي څخه خبر و، ځکه مې هغه ته صفا صفا وویل، چې بچی مې ضایع کړ او اوس شریفانه ژوند کوم هغه پوه شو، چي لا واده مې نه دی کړی او غواړم، چې له یو باغزته سړي سره واده وکړم؛ نو هغه په خندا وویل: که ته واده وکړي؛ نو څه به پرې وکړې، راځه یو څو ورځې سیل راسره وکړه.
هغه ته ما یقین ورکاوه، چې دا یوکال وواته، چې ما کوم بد کار هم نه دی کړی سیل او نورې کارنامې؛ خو پرځای پرېږده.هغه ته معلومه شوه، چې دګناه دنیا یې پرېښې ده؛ خو هغه زه بیا ګناه ته اماده کولم، ماهغه ته منت کاوه، چې زما قسمونه مات نه کړې؛ مګر هغه ډېربنه پوهیده، چې زه یوه پاکه اوشریفه پیغله نه یم، هغه ماته دپینځۀ سوو معاش وویل: هغه ما سره کومه زبردستي نه کوله، هغه ما ته له جېب نه لس دسلو لوټونه رااویستل او زما په لاس کې یې کېښودل، زه یې په غېږ کې ونیولم، شونډې یې رانه مچې کولې هغه دکالیو پر ځای پتلون اغوستی و.
ما هغه ته وویل ته کالي بدل کړه او زه به بیډروم ته لاړه شم، ماته معلومه شوه، چي کله په سړي دجنسیت بوت سپور شي؛ نو بیا د ښځې دلاس نانځکه شي، هغه چې هر څه ورته وایې دی به یې کوي هغه زر اوچت شو او ویي ویل، چې زه دوه دقیقوکې راځم
له بنګلې په منډه راووتم په شا مې وکتل هسي نه چې تعقیبوي؛ خو به مې نه ما هغه زر روپۍ په هغه ځای ورته پرېښې وې، په سرک رش زیات و؛ خوکومه ریکشه په نظر نه راتله ما سره دا ډار هم و، چې هسې نه هغه مې ګېره کړي او دغلا دعوه راباندې ونه کړي؛ خو د خدای(ج) کرم و یوه ټکسي پیداشوه اوپکې سپره شوم.

## بیا دروازې بندې شوې

دغه زما بل شکست و، چې زما ماضي ما ته مخکې په لار کې ودریده، زما زړه ته دا وهم ولوېد، چې زما ګناه لکه دپیرانو غونډې زما په مستقبل ناسته ده، چې ما همداسې ګناه ته کشوي، ما په هغه شپه خپله څهره په اینه کې وکیده نفرت مې ترېنه وشو، خپل ځان ته مې غوسه راتله زړه مې غو ښتل، چې خپله څهره په خپلو نوکانو داسې شوکارې کړم، چې خلک مې په لیدو دخوښېدا پرځای نفرت رانه وکړي، یایې په اور وسوزوم، یاتېزاب پرې وشیندم، ذهن مې ډېر نا ارامه و؛ خوکه

داهرڅه مې کړی وای؛ نو بیا نوکري راته نه پیداکېده،خاوند نه راته پید اکېده.
زه څو وارې دهغه کالج له مخه تېره شوم دکوم نه چې زه برباده شوې وم، هغلته لا اوس هم جنکۍ په پردیو موټرو کې له هلکانو سره تلې، وخت ټولني ته بد کارې ډالۍ ورکولې، زړه مې غوښتل چې دغو جنکو ته ووایم؛ مګر خپله غاړه پرې خلاصه کړم، چې ځانونه له دغو موټرو وساتئ، لرې ترې ګرځئ، زما له غبرتناك انجام نه غبرت واخلئ ؛ مګر ما هیڅ ونه کړل اونه مې کولای شول، دهغه بنګلي نه دراتښتیدو نن شپږمه که پينځمه ورځ وه، ماته دغه خبیث سوچ راته، چې راځه بېرته هغه بدکاري شروع کړه، چې پرېښې دې ده، ځکه اوس په هغه څلورو نورو زه بوج کېدم، بس ده چې دا څوار لس میاشتې یې وساتلم، ما غوښتل چې ځانته یوه ټیکانه پیداکړم، یوې د درملو کمپنۍ ته لاړم، چې غیر ملکي وه؛ خومنیجر یې پاکستاني و، هغه سره مې هم هماغه تجربه وکړه، چې مې له هغه نورو سره کړې وه، کوم غبار مې چې په زړه جمع ؤ او له شپاړس ورځو وروسته مې هغه نوکري هم پرېښوده.
له دې تجربو نه وروسته باید ما د نوکرۍ خیال له زړه نه ویستلی وای، خدای(ج) به زما په قسمت کې نور ذلت او رسوايې لیکلې وي( په بندو دروازو کې دغه یوه دروازه پاتې وه)
ما وویل راځه دغه هم وګوره دا هم یوه غیر ملکي کمپنۍ وه او په اخبارو کې یې اشتهار ورکړی و، هغلته زمانه مخکې بلا جنکۍ راغلې وې، چې ځانونه یې دیورپ په کریمونو لړلي وو، په هغوی کې یواځینۍ جلۍ زه وم، چې بوقره مې په سر وه، هغوی ځانونه ددې لپاره جوړکړي و، چې دهغه کمپنۍ خاوند دایټالیا و، انټرویو شروع شوه کوم کس چې نټرویواخیستله هغه د منیجریواځینۍ سکرتر و، چې پاکستاني و، هغه مانه یوڅو پوښتنې وکړې بیا یې په انګریزي کې وازمویلم انګریزی؛ خو زه ټوله غرقه کړې وم داسې مې زده وه لکه مورنۍ ژبه، بیا یې هغه منیجر ته بوتلم سکرتر د زړه له اخلاصه منډې ترړي راته وکړې، ماته وویل شو، چې بوقره ایسته کړم ما هغه په ځان هم ومنله، معاش یې راته پينځه سوه روپۍ مقرر کړ، زما حالت هغه کشتۍ ته ورته و، چې په ډوبېدو وي، په دې حالت کې ماځانته یوه تکیه پیداکوله، دهغه سکرتر خوی په ما ډېر ښه لګیده، دهغه په لیدو به مې احساس کاوه، چې په زړه کې یې غم شته؛ خوهغه څه نه ویل.
زه هغه سره په دفتر کې یوځای وم، هغه ماته لار ښوونې کولې اوکار یې راته په

گوته کاوه.

په دفترکې یوازینی سړی همدا و، چې پرما ښه لګېده، هغه به همېشه غلی و، هېڅ به یې نه ویل، ماله ځان سره غوټه کړه چې همدغه سړی سره به خپل ژوند تېرم؛ خوهغه دومره سنجیده و، جرائت مې نه شوکولای، چې هغه ته پدې باره کې څه ووایم غالبا پینځلسمه ورځ وه، چې ماهغه ته وویل: تا چې زه ووینم نو هر وخت دي په مخ کې غم وینم ته یې دپټولوکوښښ کوې.

هغه وویل: ریښتیا هم زه یې پټوم سړي سره نه ښایي، چې دښځې په مخکې دې خپلې اوښکې توئ کړي، ته زما لپاره څه کولای شې! هیڅ نه شې کولای، هغه دفترکې نورې خبرې ونه کړي.

خو ویې ویل: بیا به دي خبره کړم، چې زماحالت ولې داسې شوی؛ خوحقیقت دادی، چې زما له ښایسته جنکوڅخه نفرت کېږي، زما تلوسه یې نوره هم زیاته کړه هغه ماته له نورو سړیو څخه جدا ښکاره شو، ځکه نورو به چې زه ولیدم نودکاټونانوغوندې حرکتونه به یې کول، زه پدې طمعه په دې پسې شوم که چېرته واده راسره وکړي.

یوه ورځ له رخصتۍ وروسته زه له هغه سره یوپارک ته لاړم، هغه راته یوه کیسه وکړه: یوکال مخکې مې ستاپه شان یوې غرېبې جلکۍ ته دلته نوکرې ورکړه، دهغې تعلیم دومره نه و؛ خو زماپه مټ په کار پوهېده، له څه وخت وروسته یې دمینې تار راسره واچاوه اوموږ تر واده ورسېدو، موراو پلار زمانه ناراضه شول او زه یې له کوره وشړلم، ما هغه دلته په یوکورکې وساتله دوخت په تېرېدو سره هغې دوستان پیداکړل اواکثره به له هغوی سره وه، بیایې یوه ورځ دطلاق غوښتنه راڅخه وکړه، هغه یوچا تېراستلې وه، چې واده به ورسره وکړي؛ خو هغه له یوڅو ورځو ساتلونه وروسته پرېښوده، هغه په دغه کیسه دوه ساعته وخت تېرکړ .

مایوځل وویل راځه خپل پېشکش ورته وکړه؛ خو زړه مې نشوکولای، هغه ته مې وویل ټولې جنکۍ بې وفانه وي، هغې ورځې نه وروسته ما د هغه خواته دورتلو کوښښ شروع کړ، په هره درېیمه، څلورمه ورځ به باغ یاهوټل ته په چکر ورسره تلم هغه یوماښام راته وویل ستا په وجه مې له زړه یوڅه بوج کوز شوی دی، ستا په وجه ژوندکول خوند راکوي.

هغه ماسره څو ورځې وګرځېده؛ خو یو حرکت یې هم داسې نه وکړی، چې شک پرې

راغلی وای، مونږ به په تیاره کې څنګ په څنګ ناست وو؛ خوهغه ماته لاس هم نه راوړه، زما رویه یې چې ولیده، هغه مانه دشخصي ژوندپوښتنې شروع کړې. ماتـه یـې وویـل زه چې تاته ګورم داسې راته ښکاري، چې ته ډېر وخت پـه لنـدن کـې پـاتې شـوې یـې! لـه انګریزۍنه دې ماته پته لګي، وګوره دتیارې په خوړېدا دې هم زړه ته نه لوېږي، چې پـه کور کې به څوک راته څه ووائي.

ته ما ته دځان په اړه څه ووایه چې دکومې مجبورۍ په وجه نوکري کوې؟

مایوداسي ګول ځواب ورکړ، چې زه هم پرې پوه نه شوم، ما څه وویل ما ویل کـه هغه ته دځان په اړه صفا وغږېږم، هسې نه چې داهـم دهاغـه بـوډا لعنتـي پـه شـان وخیژي، ما هغه څو ورځې ازمویه چې څنګه سړی دی؛ خو یقـین مـې راتـه هغـه مخلص دی، چې زما ورته ضرورت دی هغـه تـه مـې وویـل: یـوه ورځ بـه زه تاتـه ووایم،چې په ما څه تېر شوي.

# د مري یوه شپه او شراب

هغه ډېر وغوښتل،چې خپله کیسه ورته وکړم؛ خو ما به ټال کوله، له هغې ورځې نه وروسته زه دې سوچ واخیستم، څنګه هغه ته ووایم، چې ما له ځان سره کړه او واده راسره وکړه، هغه دغه موقع خپله راته په لاس راکړه، په هغه وخت کې مونږ یو دبـل غم خواره جوړشوي وو، بیا هم ما داسې کومه اشاره له هغه نه ونه لیده، چې زه یې په حالت پوه شم.

دګرمۍموسم وو یوه ورځ هغه وویل: زړه مې په ګرمۍ کې خوړین شو غواړم دڅو ورځو لپاره مري ته لاړشم، تفریح به هم وشي اویخې شپې به هم تېرې کـړم؛ خـو ستا نه بغیر به زه هلته ناکراره یم، څنګه به دغه دجدایي ورځې اړوم کاشکې ته هـم راسره تللې وای.

ما بغیر له څه سوچه ورته وویل: لاړه به شم.

هغه زر راتاو شو ویې ویل: ته تللې شې؛ نوکور کې به څه ورته ووایې؟

ماورته وویل: یوڅه بهانه به وکړم؛ خوته ماته رخصتي را اخیستی شې.

هغه وویل: دا؛ خوڅه مشکله نده لس ورځې بس دی.

- هو، بس دی.

هغه وویل: چاته ونه وایې چې ته له ماسره مري ته ځې، دوه ورځـې وروسـته هغـه ماته له دفتر څخه په دې بهانه، چې مور یې سخته مریضه ده لس ور ځې رخصتي

وا خيسته.

په هغه ماښام مونږ په يو هوټل کې وو، د هغه هوټل منيجر د هغه دوست معلومېده، ما دهوټل دکوټې کړکۍ خلاصه کړه او دباندې منظر نه مې خوند اخيسته، ما دمري خبرې اورېدلې وې؛ خو لېدلي مې نه وه، مونږ دهوټل په دويم چت کې وو، وړاندي دکشمېر د واورو ډك غرونه ښکارېدل، په دغه وخت کې ما دهغه لاس په خپله اوږه اېښی وليده، هغه په جذباتي طور په کراره کراره زما خواته رانېږدي کېده، يو وخت دومره رانېږدي شو، چې شونډې يې زما په سر ولګېدې، ما په هغه شونډوکې کوم فرق محسوس نه کړ، ماته پرې سکون ملاو شو؛ ځکه چې هغه زما په شان يوې جلۍ خوړلی و او ما هغه ته دا ښودله، چې وفا څه شی دی، ما هغه ته څه ونه ويل، چې ته يوې جلۍ چېچلی يې؛ خوماته ډېرو سړيو ټکونه راکړي، هغه زما په غېږ کې بند و، مخ يې له ما سره لګېدلی و، ما هغه ته وښوده، چې مينه څه ته وايي، هغه زما محبت و، له لږ رومانس نه وروسته مونږ چاى وڅښه بيا له هوټل نه ووتو، ما خپله بوقره په سرکړه، چې هسې نه څوك مې ونه پيژني د مري مال روډ مې وليده، زه حيرانه شوم شپه په تياره کېدو وه؛ مګر هغه مال روډ روښانه و لکه ديوې ورځې په شان، مانه ؛ خو امريکايي تهذيب او يوروپي هوټلونو امريکايي ازاد خياله جوړه کړې وه؛ خوکله، چې ما مال روډ باندې جنکۍ او هلکان ګډ وليده؛ نو ما يقين نه شو کولای، چې داد پاکستان کومه برخه وي، دلته جنکو نه دومره تماشه جوړه وه، چې غرب کې به هم دومره ازادي نه وه لکه په مال روډ چې وه، ما داسې ښځې هم وليدي چې عمر پرې تېر شوی و او وړې جنکۍ يې بدکارۍ لپاره رامخته کړې وې.

سکرتر ماته وويل: دلته ديوې شپې ناوې هم پيداکېږي او د ټول عمر هم.

زه په مکمله توګه بې حيا شوې وم؛ خو چې د مال روډ جنکۍ مې وليدې ماځان ډېر وروسته پاتي وليد، زه په داسې ماحول کې په تنګه شوم، هغه ته مې وويل راځه بېرته ځو، مونږ بيا هوټل ته راغلو د شپې مو ډېرې خبرې سره وکړې، ما هغه واده ته راضي کړ، دشپې مونږ جلا جلا ځملاستو، هغه ډېر زر ويده شو؛ خو زما له سترګو خوب وتښتېد، سوچ مې کاوه، چې هغه له خپل ماضي څخه خبر کړم او که په زړه کې يې وساتم، يو غم؛ خو نه و،که مې خبراوه ددې ډار راسره و هسې نه، چې پرېمېږدي اوکه مې نه خبراو ؛ نو دا وېره راسره وه، چې پوه رابانديې نشي

دواړوفیصلو کې ویره موجوده وه او زما لپاره ناممکنه وه، چې فیصله مې کړی وی.
په سبا یې زه بازار ته بوتلم، ما ته یې یوه گوته واخیسته او زه یې داسې ځای ته بوتلم، چې هیڅوك نه وو، هغه گوته ماته په گوته کړه او د واده کوژده یې راسره وکړه

دا زمونږ دکوژدي رسم او رواج و، ما ځان ټینگ نه کړ او له خوشالی مې بې اختیاره اوښکې روانې شوې، ماته داخیال راته که چېري په ما کې دکور شرافت پاتې وای؛ نو نن به زما شاوخوا جنکو سندرې ویلی، مور او پلار به مې دیو مقصدي فرض نه فارغ وو؛ مگر زماپه قسمت کې یې مجرمانه ودونه لیکلي ؤ اول واده مې هم زه مجرمه اوپه دویم واده هم زه مجرمه وم

هغه زه د لا سا کولم؛ خو د ژړا یې هیڅ ونه ویل، چې ولې ژاړې؟

ښه مونږ؛ خوکوژده وکړه؛ مگر ستا پلار انکار ونه کړي؟

ماوویل که هغو یې ونه مني زه به تاپسې راشم اوواده به درسره وکړم.

هغه وویل نن شپه به دکوژدې شپه جوړؤ، چې ته به پکې هیڅ نه وایې اونه حق درکوم د هغه په خبره باندې خوشاله شوم، لږه شیبه وروسته باران شروع شو، داسې باران ماویل، چې زما گناهونه مینځي ماویل چې نوربه خدای نه ناراضه کوم ؛ خوهغه له مانه ناراضه و، د شپې نهه بجې به وې چې مونږهوټل ته لاړو مونږکالي بدل کړل زماکوژده کړي وویل اوس به دکوژدې شپه جوړه کړو، ماسوچ کاوه چې کېدای شي ښه ډوډی راباندې وخوري له دې بغیرهغه نورڅه کولې شي؛ خوکله چې دهوټل شاگرد راننوته؛ نودهغه سره دوه دویسکي( شرابو) بوتلونه، سوډا اوسورکړی چرگ و، شاگرد دا هرڅه کېښول اولاړ

زماکوژده کړي ما ته وویل: ته شراب څښې؟

ماویل نه هغه وویل زه یې هم نه څښم؛ خوکله کله ترې غړوپ کوم عملي یې نه یم.

زما لپاره؛ خو شراب څښل کومه نوی خبره نه وه، ما له شرابو څخه زوره وړې نشې کړې وې؛ مگرماځپل کوژده کړی دشرابوپه نشه کې لیدل نه غوښتل هغه ماته دپاک کردارخاوند ښکارېده، ما هغه ته وویل یوې شریفې جلی ته دشرابو ست کول ښه کارنه دی تاځنگه فرض کړه چې زه به شراب څښم

هغه مسکې شو دهغه په مسکا کې ډېر فرق و هغه به مخکې ډېر په ټینه مسکې کېده؛

خودغه مسکا یې له طنز ځخه ډکه وه هغه په دواړوګیلاسوکې لږ لږ شراب او سوډا واچوله اوبیایې ماته ګیلاس ونیو

ما وویل زه یې نه څښم پدې خبره هغه لږخپه شو اوویې ویل: زه یې هم نه څښم زه خو څه عادي شرابي نه یم ما خو ددې لپاره شراب راوغوښتل، چې مونږ یوازې دکوژدې خوشالي پرې ولمانځو ماشراب پدې خبره ترې واخیستل چې له واده وروسته به یې نه څښې هغه ګیلاس زما له ګلاس سره ولږاوه اوپه یوه ساه یې تېرکړه، ماپه کراره وړوکي غړپ ترې کاوه دهغه جاج مې اخېسته هغه یوعادي شرابي و له څښلو نه داسې معلومېده، چې ښه پوخ شرابي دی، هغه دغسې نیم بوتل شراب وڅښل ما ترې بوتل واخېسته اویوطرف ته مې کړ هغه ته مې وویل بس دی تاډېر وڅښل.

هغه وویل: څښلي مې چېرته دي دهغه ژبه درنه شوه هغه نه مې بوتل یوی خواته کېښوده.

پدې هغه په ګډوډو سرشو او بوتل پسې بیاراوچت شو ښوویې ورسره یاري نه کوله داسې روان و تا به ویل اوس یوطرف ته غورځېږي ماپه هغه غوسه و کړه ماورته وویل: ته ماته یو پاک انسان ښکاره کېدې؛ مګرته یوعادي شرابي وختې اوتاته شرم نه درځي، چې یوې شریفې جلۍ ته شراب وړاندې کوې.

هغه ماته وویل: کېنه زماخبرې په غور واوره نه ته کومه شریفه جلۍ یې اونه زه کوم شریف سړی یم.

که ته چېرته یوه شریفه جلۍ وای؛ نوماسره به دلته نه راتلې، دومره په اسانه به دې شراب نه څښل او واوره زه ستاپه باره کې په هرڅه پوه یم دغه ستا توره بوقره ستا توره ماضې نشې پټولای، دفترته ډېرخلک راځي دوه کسانو زه ستا په هره کارنامه پوه کړی یم، چې ته څوک یې، څنګه یې، زماپه نظرته یوه احسان فراموشه اوخودغرضه یې، ماتاته نوکري په لاس درکړه، زیاته تنخوامې درته ولګوله اونه ماته د لږ وخت لپاره خپل جسم نشې راکولې، کوم دې چې بې شمېره خلکوته ورکړی، ما خو تاته د ټول عمر لپاره درکاوه، ماته ډېره غټه صدمه ورسیده چې هغه زما له ماضې څخه خبر و.

هغه وویل: تا زه په دوکه کې ساتلم ما سره دې واده کاوه مګر دادې نه ویل،چې ما له ډېرو خلکو سره لامخکې واده کړی، هر څه به یې چې په زړه راتلل له خولې به

یې راویستل، په دغه نیشه کې سړې په ځان کنټرول نه لري.
هغه وویل: زما قربانې وګوره ما ستا لپاره خپله ښځه هم طلاقوله.
ما وویل: ستاښځه هم شته چېرې ده؟
هغه ووېل: په کورکې ده اوس به زما زوی ته شېدي ورکوې.
هغه له شرابونه غړپونه کول او ما ته یې ویل: دومره ټینګېږه مه دومره پاکه نه یې.
زما په زړه کې دنفرت او انتقام لمبې پورته شوې، هغه ته دپاکې مینې قسم ورکول بې مانا و، هغه په ډېره چالاکۍ سره زما په زړه کې ځای موندلی و او زه یې مري ته راوستې وم زما دهغه په ښځه زړه وسوزیده، چې دهغه په کور کې ناسته وه اودی دلته په عیاشۍ پسې مري ته راغلی و، هغه باربار زه خپلې غېږې ته کشولم، له هغه دخلاصیدو علاج نه راته؛ مګر ماخپله رویه زر بدله کړه، ما دهغه ګیلاس له خالي ویسکې څخه ډک کړ سوډا مې وروانه چوله ما دهغه له خولې سره ګیلاس ولګاوه.
او په خندا مې ورته وویل: ته ډېرګناهګاریې؟
هغه په زوره وویل: هو زه ګناهګاریم، ټول پاکستان ګناهګار دی، نور هم رابانـدي وځبنه په کور کې هغه حرام زاده ښځه مې سګرټ ځبنلو ته هم نه پرېږدي.
هغه ګیلاس خالي کړ او زما مخ یې مچې کاوه، ما پـه هغـه شراب بغـیر لـه سـوډا نـه وځبنل، هغه مې ټول پرې خلاص کړل هغه له کټ څخه راولاړ شـو دوه قدمـه یـې لانه وو اخیستي، چې په ځای یې ټالۍ وهلې، ودرېده په هغه کې دم نه و پاتي، ما له سوډا نه بغیر شراب پرې ځبنلي وو( دغه ترخي اوبه لکه،چې بغیرله سوډا نه زیات اثرکوي)( ژباړن).
ما په پوره قوت سره هغه ته څپېړه ورکړه هغه نیم په کټ او نیم په ځمکـه ولوېـده، دومره طاقت نه و څومره، چې نفرت او انتقام و، هغه بیا را اوچت نه شو
ما بجلۍ مړه کړه او د خلاصې کړکۍ مخې ته ودرېدم دمري یخه شپه وه، دمـري روښنایي زما په مخ کې وه خپل منزل ته رسیدلې وم؛ خو دا منزل نـه و، شراب وو، ما دومره وژړل، چې سلګۍ مې بندې شوې ماته دماضي یوه یوه لمحه لکه دفلـم د پردې په شان له مخې تېرېده، هر انسان مې رایاد شو خپل بچی مې هم رایـاد شـو دا اول وار و، چې ماته خپل بچی رایـاد شـو، زړه مـې غوښـتل،چې لاړه شـم اولـه عیسایانو نه خپل بچی بېرته واخلم اوله سینې سره یې ولګوم، زه په جذباتو کې تللې وم او دکړکۍ په مخ کې مې ژړل اخر زما په مخ کې دمري روښنایې سرچپـه شـوه،

زما سوچونه بند شو، بجلۍ مې ولګوله او دویسکۍ دویم بوتل مې په سر راواړوه او له چرګ څخه مې ګولۍ کولې، هغه بدبخت لا هما غسې نیم په کټ پروت و، هغه تر سبا پورې د اوچتېدو قابل نه شو شراب مې، چې نیم بوتل وڅښل زما هرڅه ډوب شول شکست مې په فتح بدل شو، زه پخپله بدله شوم دماغ مې چېرته لاړل ماته خپل وجود ناپاك ښکاره شو، زما له ډېرو کوښښونو او تجربو وروسته هم زه پاتې راغلم، سوچ مې کاوه چې چېرته لاړه شم هغو څلورو ملګرو به زه تر کومه پټه ساتلم زه اوس هغو ته هم نه ورتلم ما ډېرې دوکې ولېدې، چې دیو له پاسه بلې خوړم.

ماویل: زه ولې خپله ځانه دوکه بازه نه جوړم، چې نور دوکه کړم تر څو به ما خلک دوکه کوي، زه دکومه داسې شریفه وم ماته سکون راغی، زه په نشه کې وم، ځکه عقل راسره یاري نه کوله مانوردا هم معلومول نه غوښتل، چې نوی ژوند څنګه شروع کړم، زما لپاره دیو ټېکې ضرورت و

زه له کوټې بې سر نوشته راووتم، دباندې دهوټل دالان و، لاندې ترې یوه اوږده ترایې وه په دالان کې یوه جوړه شوې انګرېزه ناسته وه، چې په خپلو منځو کې یې مجلس کاوه د شاله خوا یو چا راباندې غږ وکړ چوکۍ درته راوړم ما چې مخ ور واړوه دهوټل منیجر و، هغه نه مې تشکر وکړ، چې نه هسې- لږه ودرېږم؛ خو هغه یوشاګرد ته غږ وکړ او دوه چوکۍ یې راوړې.

هغه ماته وویل ستا صاحب؛ خو بې هوشه پروت دی لکه، چې ډېر یې څښلې دي زه هغلته تېرېدم ماولیده.

ستا خاوند دی؟

ماورته وویل نه دوست مې دی، هغه به دلچسپه خبرې اوریدې اوکولې هغه د هغه سکرتر خبرې کولې.

ویې ویل: لکه چې خوښ دې نه دی

هغه بیاوویل: ته هغه څنګه پیژنې؟

ماوویل: زه له هغه سره په کمپنۍ کې نوکره یم.

ویې ویل: څومره معاش درکوي؟

ما وویل: پینځه سوه.

هغه وویل: زه تاته یوه خبره کوم خپه کېږې؛ خو به نه.

ما وویل: اگر که ته له دغه بدکاره سره ددي لپاره سیل کوي، چې هغه ما له نوکرۍ نه وند شړي دابه تاته گرانه وغورځي هغه زما دخواب نه مخکې وویل: دلته غیر ملکې خلک ډېر راځي ماته ستا په شان جلۍ ته ضرورت دی، ته به دلته دمیاشتې پینځه زره په اسانه پیداکوې او تاته به هوټل کې کومه کوټه هم درکولای شي، ما هم انکار ونه کړ منیجر ماته دهغه رذیل په باره کې وویل: هغه یو بدکرداره اوعیاش سړی دی، هغه دگرمۍ په موسم کې دلته درې څلور وار راځي او یوه جلۍ ضرور ورسره وي.

ما ته یې ځانته کوټه راکړه ما ورته وویل: تر سبا پورې به زه تاته خپله فیصله ښکاره کړم ما ته، چې کومه کوټه راکړل شوه هغه دهوټل یوه ځانګړې پراخه کوټه وه، چې ماته دپانسۍ دکوټې غوندي ډارونکې ښکاره شوه، زه په ډار ډار د هغه بدکار کوټې ته لاړم، خپل کالي اوسامان مې ترې را واخیسته او دا لعنتي همداسې نیم په خمکه او نیم په کټ کې بې هوشه پروت و.

زه خپلې کوټې ته راغلم او په خپله فیصله مې فکر کاوه، چې غلطه ده که سمه ده؛ خو بلکل سمه وه؛ ځکه چې زما په حال اوپه مستقبل دماضي پېران ناست وو، ماته یقین وشو،چې په ټولنه کې زما لپاره کوم داسې سړی نشته،چې ماته دخپلې ښځې نوم راکړي او زما له جسم سره کومې لوبې ونه کړي ما ته دغه لار راپاتې وه کومه، چې منیجر راوښوده.

## زه په مسلسله توګه یوه بدکاره شوم

په سوچ سوچ کې ویده شوم سبا چې منیجر راغی ماخپله فیصله ورته واوروله، چې زه په هوټل کې پاتې کېږم زه خوپېښه وره(عصمت فروشه) نه وم اونه مې داسې پېښه ورې ښځې لېدلې وې، ما چې کله هغه ته خپله فیصله اوروله؛ نو زما داسې کیفیت و، چې زه یې اوس نشم بیانولی، ما باید ژړلي وی، دخوشالۍ؛ خو سوال نه پیداکیده حېرت؛ خو دلته و، چې زه غمگینه هم نه وم ماته په هغه وخت کې هیڅوك یاد ته نه راتله نه مور، نه پلار، نه کور.....

ما ورته وویل: زه یوه دکوټې رنډۍ نه جوړېږم.

هغه راته وویل: څه سوچ کوې په دې هوټل کې به ستا غټ حیثیت وي، ته به د

اوچتو خلکو او غیر ملکي خلکواستقبال کوي، ته دومره ارزانه نه یې، چې دهرچا مخې ته دي واچوم ته به دهوټل په خاصو مراسمو کې ګډون کوې.

دغو خبرو سره ما ته دومره اطمنان وشو، ماته یې څو شرطونه وړاندې کړل ما څه ومنل اوڅه نه، ما له ځانه دهوټل بندی نه جوړوله ماهغه ته وویل: زه به بوقره کې ګرځم اوکه کوم ګاڼ یا دوست به ځان سره راولم.

دا شرطونه هغه ومنل هغه ماته په تفصیل سره وویل، چې دي هوټل ته څنګه څنګه خلک راځي او له هغو سره باید څنګه سلوک وشي.

مخکې به هغه جنکی له بازاره راغوښتي زما لپاره ژړا، خپه کېدل، بې چاره ویل، بې کاره وو.

ماویل: نورو ته د همدردی او مینې لاس به نه غځوم ما د هوټل منیجر ته وویل دا دې په زړه کې راتېر نه شي، چې زه یوه مجبوره او بې څوکه یم.

هغه هم داسي ونه ښوده ماته دخپل قیمت اندازه لګیدله، له دې نه وروسته مې خپل پخواني خوبونه له ذهن څخه ایسته واچول، د واده خیال مې له زړه وویسته او دا مې هم هېر کړل، چې زه د چا لور یاخور یم.

څو ساعته وروسته یې راته وویل، چې ستا دهغه یوې ورځې کوژده کړې تللی دی، ما د هغه محبت له ذهن څخه وویسته دڅو ورځو په تېرېدو ماته دپاکستان ټولنه په مکمله توګه لغړه ښکاره شوه، ماته دپاکستان هغه بزرګ هم راغی، چې دعوي به یې کولې(( چې پاکستان یواسلامې ملک دی اوهغه کسانو هم زما له لاسه شراب وڅښل، چې دپاکستان داسلامې کولو وعدې به یې کولې

که تاکې صیب دومره جرآت وای، چې ته به دهغو سیاسي لیډرانو نومونه پـه دې کتاب کې چاپ کړې؛ نو مابه تاته یو یواوس مخې ته ایښی وای؛ خو زما یقین دی، چې ته به ډېره کوې، ته ماتـه ګرځیـدونکی سړی نـه ښـکارې؛ خـو تـه، چـې هغـه د۱۹٦٤کال اخبارونه وګورې، چې دایوب خان په وخت چاپ کېـدل؛ نـو پـه هـره صفحه کې به وګوري، چې وزیران او سیاسي لیډرانو ویلي( مونږ پـه پاکستان کـې دخلفائي راشیدین نظام قایموو) هغوی به دغه نارې له مري څخه کولې اودلته بـه یې داغړ په خوله وو، چې( تازه مال) غواړم ما به، چې کله دهغو په کوټـو کـې پـه هغوی شرابونه وڅښـل اوهغه به مې.دمستی په سیلاب کې لاهو کړ؛ نو ما بـه هغـوی ته نه ویل: چې دغه ستا دخلفای راشیدینو نظام دی.

که زه تاته ووایم او یو یو درته وښایم؛ نو ته به یقین ونه کړې، یومثال درته وایم ته به یې ومني که نه، چې زما دوه هغه دیني او مذهبې لیډران مستقل ګاکان وو، چې هر وخت به یې خوله په دیني علومو ښوریدله.

زماپه هغو خلکو زړه سوزېده، چې د دوی لپاره به یې دزنده باد چغې وهلې.

ته لږ فکر وکړه، چې د دغو سوسیالیست، او..... لیډرانو نه به پاکستان خنګه د نجات لار ومومي کومو به، چې تازه مال اودسمندر نه اخوا راتلوونکې شراب غوښتل.

دکشمېر د ازادۍ والا، چې به یې ځانونه غازیان ښودل هغو به هم ما سره شپه تېروله؛ بلکې شپې به یې راسره تېر ولې.

غم خواره لیکوالان به هم ماته راتله ما به دهغوي لغړ صورت( لغړضمېر) لیده.

ماته به دقانون محافظین هم راتلل، چې زما په سینه کې ټول دیو تاریخ په شان ثبت دي.

ښځه دپادشاه هم کمزوري ده اودګدا هم. کا میابه جاسوسي دیوې ښځې نه غیر پوه سړي هم نشي کولای.

# حسن د قانون په مخ کې بې وسه شو

اوس، چې کومې خبرې زه تاته کوم هغه به په ډېر احتیاط کوم د سړیو نومونه نه اخلم،د ښارونو نومونه نه اخلم اونه زه له تا سوال کوم؛ ځکه تا سره ددې سوالونوکوم ځواب نشته بهتره ده، چې ته یې سم ولېکې او سم یې واورې زه بیا وایم،چې زه یوه بازارې رنډۍ نه وم، چې په یوه شپه څوڅو وارې خرڅېږي.

زه په هوټل کې اوسېدم او دخپل ملک او دغیر ملکي خلکو استقبال به مې کا وه او په خپله غېږکې به مې لوبول، له هغو سره به مې ناسته په داسې اندازه کې وه هغوی گومان کاوه، چې زه دهوټل دمالک څه یم یا دهوټل له خدمت گاروڅخه یم، مابه په هوټل کې داسې کس خوښاوه، چې ښه به مالداره و.

هیچا داگومان نه کاوه،چې زه په هوټل کې قېده رنډۍ یم، ډېرو به مانه خپل ادرس او دټیلیفون نمبر غوښته؛ خوما به هغوی ته ویل: ډېر وایې،چې چاته نمبر او ادرس مه ورکوه، ډېرو جنکو، چې حال به یې زما په شان و دغه لوبې به یې کولې په دغه هوټل کې به کله کله دډانس پرگرام هم مالداره خلکو جوړاوه او خپل دعیاشۍ ساعت تېري به یې کوله.

دلته به هغو کسانو خپلي ښځي اولوراني ددې لپاره راوستلي،چې کوم ښکار پرې وکړي، هغه لوراني به یې دانگرېزانو خبره ماډرن کړې وې، همدغو پلارانو به ماډرن کړې وې، له کوم ښکار کولو وروسته به یې په عزت کې خپلو مېړوکوروته بیولې او دغې بې حیایې ته به یې نوې تهذیب وایه؛ مگر زه یو عصمت فروشه وم کوم پلارمې نه لاره،کوم کور مې نه لاره او نه مې خاوندلاره، چې زه یې هم له دغه عمل وروسته خپل کورته بیولې وی.

دغه مخفلونه زما په مخ کې وو انگرېزي ښه راتله ناز او اداکاري مې هم ښه زده کړې وه او له ټولو ښه شی زما دمخ او جسم ښایست و، چې هیچا زه نه واپس کولم، چې تازه مال غواړم دا لږې کره زه هروخت تازه مال وم، په دوه میاشتو کې ما خپل مهارت حاصل کړی و.

مهارت مې ترډې حاصل کړی و، چې په درېیمه میاشت کې دهوټل منیجر دیو پولیس افسرخبره راته وکړه، چې دلته راځي مفت اوسېږي، مفت قیمت بیه شراب خوري ،هغه دومره خبیث انسان دی، چې جلی هم مفته غواړي دهغه هر فرمایش

زما په لګښت پوره کېږي هغه نن بیا راغلی ماښام ته ته دهغه کوټې ته ورشه خپل فیس به زه درکړم دغه مفت ګاك دی.
هغه واقعې یو ګنده او خبیث مفت کشه ګاك و؛ مګر هغه، چې کله په سبا ته؛ نـو د هغه اووسوه روپۍ زما په بټوه کې وې ما له هغه نه غوښتې نه وې نـه مې هغـه تـه دمظلومیت اظهارکړی و، صرف دومره مې وکړ، چې له خپل فن نه مې کار واخیسته په ګوتومې وګډاوه هغه ما ته دغه روپۍ دفیس په لحا ظ نه وی راکړې؛ بلکې دایې وویل: زه سبا ته دومره وخت نه لرم، چې تاته کومه تحفه واخلم دغه روپۍ واخلـه ځانته دخپلې خوښې سوغات واخله.
دمري موسم په ختمېدو و.
دغه ماښامونه په رنګېدو وو؛ خو زمونږ په هوټل کې کوم فرق رانغی.
ددېرشتو یاڅلو ښتوکلوترمینځ سړی هوټل ته راغی دکوم ریاست نـواب معلومیـده د ژوندي زړه خاوند و، منېجر زه ورسرمخامخ کړم هغه دمنېجـر سره بلـد و، یـو بـل یې سره پېژندل له ډوډۍ نه وروسته هغه زه خپلې کوټې ته بوتلم ترډېره یـې ګـپ شپ ولګاوه ما هغه ته کتل دهغه انـداز لـه نـورو سـړیو جـدا و هغـه لـه مـاسره لـږه دلچسپې ونه ښوده، چې زه یوه ښایسته جلۍ یم ما هم دا اشاره ونه کړه، چې ما زر رخصت کړه، زما دهغه له خبرو سره دلچسپي پیدا شوه هغه دوخت اړولـو لپـاره یـو ښه ملګری و کوم دوه ساعته وروسته دمطلب خبرې ته راغی.
ماته منیجر وویل ته نوي نوي راغلې یې؛ اوما ته ددې مقصدلپاره دلته کوټې ته نه یې راغوښتې زه تا له ځان سره ځـو ورځـو لپـاره بیـایم تـه، چـې هرځـومره روپـۍ غواړې زه به یې درکړم، زه تا دیو برمته کړې غوندې نه ساتم په مـوټر کـې دې وړم او په موټر کې دې راوړم ښکاره وه، چې زه له هغه سره فورا تلو ته تیاره نشوم.
ما ورته وویل، چې چېرته او ولې مې ځان سره وړې.
هغه ټول تفصیل راته وکړ او دا یې هم وویل اګر که په ما دې یقین نه راځي؛ نو زه به ستا په نوم یو لک یادوه لکه روپۍ په بینک کې جمع کړم.
زه دهغه په ضرورت پوه وم ما بغېرلـه څـه ضـمانته هغـه تـه دتلـو ښـه وکـړه، دهغـه کارمختصر دا و، چې هغه یو قاچاقبر و، د هغه مال نیول شوی و، چـې قیمـت یـې پینځه ویشت لکه و؛ خو پاکستان ته په راتلو سره دهغه قیمت پینځه څلویښت کېده هغه نیول شوی هم نه و، یو ځای کې دیو پولیس افسر لخوا ایسـار شـوی و، ما تـه

معلومه شوه، چې قاچاق یوازې دافسرانو په تعاون سره نه؛ بلکې دهغوی شاته دغټو وزیرانو لاس هم موجود وي، کله کله د دوی په خپلو برخو سره لانجې وې او ان مرګ ته پرې رسېږي هغه یو مجرم وي دنیول کیدو ډار ورسره وي؛ نوځکه هغوی له لوی افسرانو سره لاس یو کوي په غټه برخه یې خوشاله ساتي، ددغه قاچاقبرهم همدغه مشکل و، لانجه داوه، چې هغه مال دهندوستان په سرحد کې پروت و؛ مګر دپاکستان یو افسر، چې ده ویل هغه مې شریک دی راته وایې،چې مال په هندوستان کې نیول شوی دوکه راکوي قاچاقبر وویل، چې هغه دپولیسو لوی افسر دی هغه ماته دمکي راکړې، چې مال په مینځ نیم کړه او د هغه پیسي- اول دلته راکړه کنه مال به له سرحدڅخه را وا نړوي، مال په خطرناك ځای کې پروت دی، دغه قاچاقبر زه هغه افسر ته درشوت په طور استولم.

هغه ما ته وویل: دهغه غټه کمزوري ښځه ده؛ مګر هغه یوه ښځه هم نشي- رام کولای، زه تاله ځو ورځو راهیسي ځارم زه په تاکې هغه جادو وینم کوم، چې دغه شیطان په پنجره کې بند ولی شي.

هغه ماته وویل: ځنګه به هغه رام کړې دا زه په تا پورې پرېږدم اوګورم، چې ته څومره تجربه کاره یې.

ما هغه ته وویل: زه درسره تلو ته تیاره یم دشپې دوه بجې مونږ مجلس سره ختم کړ ماویل: چې اوس به راته وایې، چې راځه له ماسره ځمله؛ خو هغه وویل ته اوس خپلې کوټې ته لاړه شه او ارام وکړه.

سبا دهوټل منیجر راته وویل:ته د همېشه لپاره ځې بیا لږ غلی شو او ویې ویل زه؛ خو په تا کوم احسان نه باروم؛ خو دومره وایم، چې ما دومره برنامې ته نه یې ورکړې که به چا پوښتنه هم رانه وکړه ما به هم دومره ورته ویل بس هغه یو ازاد خیاله جلۍ ده د چا شک هم درباندې نه دی راغلی، چې ته دیوه کال عصمت فروشه یې.

هغه، چې څه ویل دهغه احساس ماسره و زه دهغه نه خوشاله وم، هغه سره مې وعده وکړه، چې زه به ضرور بېرته راځم اوله هغه نه مې د نوي کال سلاح وغوښته کومه خرابي؛ خو زه په کې نه وینم

دهوټل له ژوند څخه ښه ده له اوچتو خلکو سره به ملاوشې؛ مګر دغه دقاچاق کار یو خطرناکه کار هم دی، چې ډېر وخت قتلونه په کې کېږي، زندګي یې له خطره

خالي نه ده؛ خو شاهانه ده، هغلته به تاته څوک عصمت فروشه هم ونه وايي او څه نور هدايات يې راکړه، دشپې په تياره کې مونږ دهغه په يو عصري توروشيشو لرونکې موټر کې له مري څخه ووتو قاچاقبر زما سره وروسته او دوه ملګري يې مخته ناست وو.

هغه ماته وويل: چې کله خوب درته ماته وايه ستاپه ذهن به قاچاقبران دعياشي او دشرابو په نشه کې مست وي دابې ځايه خبره او دهټلر بازي به په نظر درځي؛ خو هغه داسې نه و هغه ماته لاس قدري هم نه و راوړی، هغه ماسره بياادب ګپ شپ لګاوه لکه څنګه، چې دکورنۍ غړي بو دبل سره لګوي ماته خوب له اول نه راته.
هغه ته مي وويل: ماته خوب راځي هغه دچوکۍ بر سر ته کېناست او ماته يې وويل: پښې دې په چوکۍ واچوه زما سر دهغه په ورانه راغې زما اوس دا تمه وه، چې هغه به ويښتو کې ګوتي وهي زما په جسم به لاس وهي او راتيتيږي به اوخوله به رانه اخلي؛ خوهغه داسې حرکت هم ونه کړ د هغه اندازه داسې وه، لکه يودوست، چې دهغه په ورانه سر لړولی وي،که هغه داسې حرکت کړی هم وای؛ نو ماته پرې څه اعتراض نه و؛ ځکه زه کومه شريفه جلۍ نه وم اونه هغه کوم شريف سړی و؛ خو هغه زه ديو بل چا لپاره دبل خدمت لپاره روانه کړې وم، زه نوره ويده شوې وم او کله، چې زما سترګې خلاصې شوې؛ نو زه دهغه خطره ډکې دنيا ته رارسيدلې وم
دسهار څلور بجې وې له موټر يې رابښکته کړم او يوې بنګلې ته يې ننوستم هغلته يې راته ارکنډيشن چالان کړ.
او ويې ويل: ويده شه، چې کله دې زړه غواړي را اوچته شه! بجلي يې مړه کړه او لاړ.
زه بې خوبۍ بې حاله کړې وم په ذهن کې مې کوم ډار او وهم ځای نه لاره، د ښځې دغه يوه ويره وي، چې هسې نه څوک مې په عزت تيری ونه کړي، هغه ښځه وي، چې په خپل عصمت ډاريږي ما؛خو ډېر مخکې خپل عصمت دسپو مخې ته اچولی و په کټ کې بې له ډاره بې غمه څملاستم په سبا يولس بجې زه راويښه شوم له لمبا او ناشتي نه وروسته هغه راغی.
ماته يې کتل او ويې ويل: زما د دوه خبرو ډېر خيال ساته ستا اوږده ويښتان ډېر ښه ښکاري، مه يې لنډوه او کله تېل هم مه ورکوه، ستا ويښته قدرتي غوړ دي، بيا

هغه د خپل کار خبره وکړه که چېرې چا په تا توپانچه هم ونیوله ته ورته دخپل ځای او نور معلومات ور نه کړې، هغه پسې زیاته کړه څوک په تا توپانچه نشي نیولای؛ ځکه ستا د سترګو مسکا هم زده ده همدغه مسکا دتوپانچې خوله بلې خواته کوي او هم داسې وشول.

په دویمه ورځ مې له تېرې موم جوړکړل، څنګه مې جوړکړل، چیري مې جوړکړل، هیڅ نه وایم، صرف دومره به درته ووایم، چې زمامسکا وړونکو سترګو دهغه د توپانچې خوله ځمکې ته ټیټه کړه او د دواړو دښمنانو د دښمن سرحد مې ورته ختم کړه، دتلیفون په یوه بلنه زه ټوله شپه له هغه سره وم د لکاوو روپو مال له سرحد څخه راواوښت او غیب شو دا د شرابو او د ښځې تاثېر و، چې دومره غټ خنډ له مینځه ولاړ.

هغه ته به له یوه وار نه بل وارته ښایسته جنکۍ دغه قاچاقبر وراستولې؛ مګر معلومه وه، چې هغه ټولې پیشه ورې وې؛ خو زما انداز له هغو څخه بېل و، ماهغه ته خان په بل ډول وړاندې کړ داسې مې ونه ښوده، چې زه هم یو پیشه وره یم کله، چې زه هغه ته ورغلم؛ نوهغه ماته وویل: تا ما ته د فلانې سفارش راوړی په داسې حال کې، چې هغه ستا په شان څلور جنکۍ ماته را استولې دي؛ خو زه بیا هم په خپله خبره کلک ولاړیم هغه ته زه بې‌ایمانه ښکارم ما د رنډیو په جال کې ایسارول غواړي او اوس ته راغلې!

ما لږ په غوسه هغه ته وویل: زه تاته یوه رنډۍ ښکارم؛ اګرکه زه تاته خپل خان دروپېژنم، چې زه څوک یم؛ نوته به زما پښې ونیسې او ښښه به وغواړې، ما دهغه څهرې ته کتل، چې تغیر په کې راغی؛ نو دخپل ځان په اړه یې هم وویل: تاسو هم فکر وکړئ زه هم څوك یم او دا فکر هم وکړه، چې تاسو دیو ګناهګار قوم سفارش راوړی هغه څوك، چې دملک جرړې ورځ په ورځ غوځوي ما ورته وویل: اګر که هغه دملک جرړې پرې کوي؛ نوستاپه صلاح او ستا په مرسته یې پرې کوي، پدې هر څوك پوهېږي زما پلار هم همدا ویني او پري پو هېږي او ته له دومره غټ منصب سره سره بیا هم دهغه په شان ګناهګار یې که هغه یوازې مجرم وای؛ نو بیا سمه وه، د هغه په خبره کې ساعت په ساعت تبدیلۍ راتلې ستا پلار څوک دی؟

ما ورته وویل دا؛ خو درته نشم ویلی له اول نه زمونږ خبرې ترخې وې؛ خو سړی

وار په وار رانرمېده، ما به اکثره خبرې په انګرېزي کولې، چې ټولې له مهارته ډکې وې؛ مګر ټول کار په دغه خبرو نه کېده، نه دغې اداکارۍ کار بشپړولی شو، هغه د ښځو لیونی و، د هغه هم یقین راغلی و، چې زه یوه رنډۍ نه یم؛ خو په دې هم پوه و، چې کومه پاکه هم نه یم بس؛ نو هغه به حملې کولې او ما به دعزت دبچ کولو اداکاري کوله

په دې مینځ کې ویسکي راوړل شوې لنډه دا، چې شپه مې ټوله له هغه پولیس افسر سره تېره کړه، باید دملک دمفاداتو لپاره دهغه دماغ د ا وسپنې په شان کلك وای او ایمان یې د اوسپنې نه هم پسې کلك وای؛ مګرهغه دیو جلۍ په مخکې دشګو د ډېري په شان ونړید، له دې کامیابۍ نه وروسته زما حوصله دومره لوړه شوه، ما غوښتل چې همدغه سمګلر سره همېشه ووسم، هغه ما ته دومره درجه راکړه، چې هر څه یې راته نوي کړه، دژوند ټولې اسانتیاوې یې راته برابرې کړې، ژوند مې ټول شاهانه شو، یو په نوم خاوند یې هم راته پیداکړ، چې دهغه په نوم به یادیدم لکه میرمن دپلاني.

داسې ډېرې جنکۍ وې، چې داسې په نوم میړونه یې وو اوس؛ نو زه هره شپه حواله کېدم، اوس به په لوړو لوړو مجلسونو کې هغه په نوم مېړه سره ګرځېدم له غټوغټو خلکو سره به مې ملاقات کېده مونږ ټولې جنکۍ به په همداسې نومونو یادیدو، چې اوس هم داسلسله روانه ده، جنکۍ د شرابو او شوګېرو دخپل وخت نه مخکې له کاره ایستلې او د هغوی په ځای نوې جنکۍ راتلې، چې دمخکینیو ځایونه به یې ډکول، زما اوس ډېر وخت وتلی و، چې زه له هغوي نه بېله شوی یم؛ مګر زما یقین دی، چې په هغه خلا کې به کوم فرق نه وي راغلی زما نه به ښایسته جنکۍ زما ځای نیولی وي

# دغه جینکۍ څنګه منځئته راځي؟

ما ځان دهغه قاچاقبر په قیضه کې نه ورکاوه هغه سره هم داسې جنکۍ وې، چې له کاره وتلې وې زما له هغوی نه دجدائي ډېره موده شوې، کېدای شي هغه به د صوبې داسمبلۍ ممبر جوړشوی وي؛ نور زه دهغه تفصیل نه وایم، چې هغوی څنګه قاچاقبري کوله، چېرته به یې کوله او جنکۍ به یې څنګه استعمالولې، ما درته خپله کیسه وکړه باید هرڅه په هغې کې واضحه ووینې.

له دغو قاچاقبرانو سره دملک غټ غټ خلک شریک دي کنه یو کس هم داسې نه شي کولی او نه به یې وکړي، ډېر ځله داسې هم شوي، چې د یو قاچاقبر مال نیول شوی وي؛ خو دیو وزیر یا د لوی افسرپه ټلیفون نه دا، چې پرېښودل شي؛ بلکې په ډېر احترام خپل ځای ته رسېږي کوم تانه دار دا جرآت نه شي کولی، چې دقاچاقبر ګریوان ته لاس واچوي هغوی دخپلې وظیفې په غم کې وي، چې له لاسه یې ونه وځي

قاچاقبر کوم پیر یا کوم روح نه دی، چې څوک یې ونه ویني هغه زما او ستا په شان انسان دی دهغوي ټول قوت او دولت زمونږ په شان جنکو دی، همدغه شی دی، چې له کاڼي موم جوړوي ته لږ تصور وکړه صیب، چې ته په کورکې ناست یې دشلو زرو چك سره دې یوه جلۍ تاته ملاو شي؛ نو ته به څه وکړې، ستا له ذهن څخه بغیر له څه ویلو دین او ایمان وځي او بله که څوک تاته دعربو له سرو زرو یو هار او تاته یو ساعت او دهوټل دیوې شپې دعوت هم ور پسې درکړي؛ نو ته به څه وکړې، ته به یې ټول د سر په سترګو قبلوې او هغه څه، چې هغه غواړي باید ته یې وکړې وزیران او دمحکمو افسران څه ملایکې نه دي او نه څه کاڼي دي، قاچاقبران ددوی په کمزورۍ پوه شوي دي او همدغه قاچاقبران قوتمن دي.

ما تاته وویل، چې دغه جنکۍ څنګه راځي او بیا ددوی په لاس څنګه لوېږي او څنګه کاڼي پرې موم کوي ددې به لږ تفصیل درته وکړم؛ ځکه زما دکیس د اوریدو نه مقصد دادی، چې د والدینو او ټولنې دغو ټکو ته پام راوګرځي، چې مجرمان څوك دي؛ خو اصلي مجرم هغه نه دی، چې جرم کوي مجرم هغه دی، چې جرم پیداکوي او دغه جرم والدین او ټولنه پیداکوي ما؛ خو خپل پس منظر درته وړاندې کړ؛ خو په هغو جنکو کې داسې جنکۍ هم وي، چې جاسوسی لپاره به

ترې کار اخيستل کېده، دښمنو خلکو به پرې خپله جاسوسي کوله پدې کې( هندوستان،روس،اوامريکا) د ذکر وړدي دامريکا، سي،آی،آی ته به پا کستانيو جنکيو کارکاوه، روس ته به هم همدغو جنکيوکارکاوه؛ خو ټولونه دشرم اولعنت خبره او کار دا و، چې هندوستان ته به هم همدغو جنکيو کار کاوه او لا کوي يې. دپاکسنان په انتخاباتو کې هم همدغه جنکۍ استعمالېږي، دغه ټولې زما دپس منظر پيداوار دي، له دغه قاچاقبر سره يوه ښايسته جلۍ وه، جلۍ د درميانه کورنۍ څخه وه او لسم پاس وه، مور اوپلار يې د پينځو زرو روپو په بدل کې يو مالداره شپيته کلن بوډا ته واده کړې وه، جلۍ دځوانۍ له نشي ډکه د زوړ مور او پلار له کوره د زوړ بوډا خاوند کورته ځي، بوډا سره هر څه وي دولت موټر او ښه کور او په مزاج کې يو عياش؛ مگر په جسم کې هيڅ نه وي ورپاتې، جلۍ هلته خبرېږي، چې زه يې درېيمه ښځه يم، يوه مړه، بله طلاقه او بله زه، دهغه دوه لوراني هم واده شوې وې، په دغه چلۍ څه تېرېږي، هغه يې ښه بيانولای شي، د ورځې لکه شهزادگۍ داسې؛ مگردشپې يې دجهنم شپه وي، بوډا د شرابو عادتي راخېژي او په خپله نشه کې عرق وي جلۍ بيا هم پيغله وي، بياهم د شرم او پردې لمن نه پرېږدي په خپلو خواهشاتو پښه ږدي؛ مگر د ځوانۍ جوش يې نه پرېږدي ددې کورته دبوډا يو زوم تگ راتگ شروع کوي، هغه ځوان وي هغه سره دوخت په تېرېدوگوتې خوږوي او له شرم او حيا سره مخه ښه کوي...

کومه تنده، چې بوډا ورته پيداکړې وه هغه اوس دهغه زوم ورماتوي، جلۍ دناسپړل شوي راز په شان وسپړل شي د بوډا زوم يې په موټر کې سيل پرې وکړي، چکرې ورکړي، هغه دغسې له يو بل سره تار غځوي بيا دغه سلسله غځېږي، په دغه سلسله کې ورته يو مين پيداکېږي مين د واده وعده ورسره کوي، جلۍ د فرار په طرف سوچ کوي دواړه راتښتي او کراچۍ ته راځي. جلۍ دخپل خاوند له کوره ښه دولت راوړي، هلک ورسره په کراچۍ کې عيش وکړي شراب پرې وڅښي يو سهار، چې جلۍ له خوبه پاځېږي هلک نه وي، په خپله مخه تللي وي، د هغې کوټې ته يو په ساټ باټ روغ سړی ورځي دې ته وايي؛ بلکې په جادو يې خبرو وايي خپل دوست دوکه درکړې او که ته اوس خپل کورته لاړه شې؛ نو خاوند به دې پوليسو ته حواله کړي، چې له کوره دې غلاکړي ده او د تېښتي شرم؛ خوعليده دی

جلۍ ډېره ډارېږي؛ خو دغه سړی پنا ورکوي او دهوټل بل لـه خانه اداکوي او جلۍ له ځان سره بيايي، جلۍ له ډېرو سره دوستي کړي وي د ډار احساس نه کوي، مختصره به درته ووايم هغه سړی يې داسې راولي لکه څنګه، چې يې زه دې دنيا ته راوستلم د هغې له جسم سره هيڅ علاقه ونه ښايې؛ مګر په زړه يې قبضه ورته کړي وي ما به چې اوس هغې جلۍ ته وکتل؛ نوهغه دعمر پاخه پړاو تـه رسيدلې وه، اوس به يې هم له دغې تيرې څخه د شودو ايستلو کوښښ کاوه.

يوه بله جلۍ وه، چې مور او پلارته ګرانه وه؛ خو په يولس کلنۍ کې يـې مـور مړه کېږي او پلار يې بله ښځه کوي، د جلۍ يو وړوکـی ورور هـم وي پـلار تـه دواړه ګران وي؛ خو دمېرنۍ مور لـه راتـګ سره دپـلار مينـه کـراره پـه کـراره کمېـږي، ديولس کلنې جلۍ نه خپله نوکره جوړوي او دخپل خاوند غوږونه د شپې له خوا د هغوی په خلاف دخبرو ډکوي هغه پلار، چې دخپلو او لادو سره بـده رويـه شروع کوي، يو نيم کال وروسته دمېرنۍ مور اولاد پيداکېږي او د دوی اهميت له مينځه ځي

دوی، چې له اول نه د نوکرانو په شان وي اوس دشپې هم ماشـوم تـه ناسـت وي، چې ماشوم په ژړانه شي بيا مېره خپل ماشوم ته د بوتل شېدې شروع کوي او جلۍ ته يې ورکوي، چې دشپې له خوا يې ماشوم ته ورکړي

هغه خپله ماشومه وي بعضې وخت دجلۍ سترګې سره ورغلـې وي او ماشـوم ژاړي مېره يې راځي او د وهلو شروع پرې کوي او ورته يـې راويښـوي او همدغـه حشر- دهغه د ورور هم وي په تېرو ورځوکې، چـې کلـه د دوي مـور ژونـدۍ وه هغـوی روحاني سکون ليدلی و، هغه ژوند ديو خوب په شان ښکاره کېږي کوم پـلار، چـې دوی ته له مينې ډک ښکاريده هغه اوس د دوی دښمن وي، دورځې دمېرې ظلـم وينې اوماښام بيا دپلار لخوا وهل وي دواړه مينه او شفقت غواړي؛ خـو مېـره پـلار بلې خواته کشوي دپينځو کلونو په موده کې د مېرې مور بل ماشـوم پيـداکېږي او په دوی بيا قيامت وي وروريې ښه وي دباندې وځي؛ خو خـور دمېـرې رحـم تـه يوازې پاتې کېږي، دهغې دکور له چارديوال نه نفرت پيداکېږي هلک دپـلار د نـه پاملرنې له امله لوفرۍ ته مخه کوي، ښوونځی پرېږدي په پينځه لسم کـال لـه کـوره تښتي او په خپله مخه ځي

جلۍ په ديارلس کلنۍ کې له خپل ګاونډي سره په چت د مېره اوښـځې اداکـاري

شروع کوي هغلته دمحبت لوبې کوي هغه ځانته مېړه کوي او ځان ورته ښځه کوي، جلۍ ته د لږ لذت خوند په نصيبېږي، دمېړي مور جهنم او د هغې د خوند لوبې، چې کله سره غرمه وي او مېره موريې ويده وي دهغه په خوندکې دا جهنم دلږساعت لپاره هېروي د وخت په تېرېدو سره جلۍ خوانۍ ته رسېږي پلار يې دواده خبره کوي؛ خو مېره يې مخالفت کوي او دا دليل وړاندي کوي، چې لا وړه ده

هغه د نولس کالو جلۍ ته؛ ځکه وړه وايي، چې خدای مفته خدمتگاره ورکړې وه او د ټول کور کار ورته کوي، په جلۍ تشدد زيات وي، جلۍ مېرې ته خواب ورکوي، مېره بيگاته مېړه ته شکايت کوي، پلار يې په کنځاو لمانځي، جلۍ له مېري سره خوله وهي، مېره يې په نيم سوي لرگې وهي پلار يې لکه بت ورته ولاړ وي، جلۍ يو ځه زړوربږي مېره وهي بيا له هغه گاونډي سره هماغه دمېړه او ښځې لوبه شروع کوي

په لږه خبره له مېري سره نښلي دکور کار پرېږدي او دباندي تگ شروع کوي گاونډی يې په پټه بازار ته وړي فلمونه پرې گوري او جلۍ له حيا ځخه وباسي، هغلته ورته نور ښکاريان پيداکېږي هغه، چې جلۍ دومره ازاده ووينې؛ نو په خپل جال کې يې راگېره کړي د جلۍ څه کردار پاتي نشي هغه اتلس کاله دکور په بند ماحول کې تېروي د هغې نه يې نفرت وي هغه ديوه ورك محبت په پيداکولو کې وي او د دروغو محبت يې اخېر هاغه ځای ته رارسوي کوم، چې زه په کې ولاړه يم.

زما خيال دی، چې دغسې کيسې به تاسي ډېرې او ريدلي وي، کيسه ليکونکي په دغه موضوع ډېرې کيسې ليکې؛ خو فرق شته، چې هغوی په کورکې ناست وي او ليکې يې هغوی ته دغه علم نه وي، چې د دغو کيسو پای کوم ځای ته رسېږي؛ خو ما له پای وروسته هم وکړې

دا خو تاسو ته معلومه ده، چې دپاکستان دکراچۍ ترټولو لوی رنډي خاني بندې شوي دعصمت فروشو غټ بازار و، هغلته هرقسم ښځې پيداکېږي تاسو يقين وکړئ، چې هلته به دپاکو کورو جنکۍ د پيسو پيداکولو لپاره راتلې او دلال ته به يې ويل، چې گاك بايد ښايسته او مالداره وي کله، چې دغه بازار بندشو دعصمت فروشۍ دغه وايروس په ټول ښار کې تيت شو، کلو او محلو ته ورسېد لږه موده وروسته په

لاهور کې هېرا منډئي هم بنده شوه، هغلته هم دغه بدکارې ښځې په ټـول ښارکې خورې شوې وې.
پدې کې داسې هوښیارې بدکارې هم وې، چې ځانونو ته یې کورونه کرایه کړه او د چاګومان هم نه پرې راته، چې دلته بدکاري کېږي دپاکستان حکومـت دکمبـود پرځای یې اضافه ګري پکې راوستله.
له مونږ سره یو بله جلۍ وه، چې دتعلیم یافته کورنۍ ځخه وه، دهغوی په کـورنۍ کې تعلیم ضرورګڼل کېده او د واده طریقه یې هم دا ضرور ښوده،چې بایدمالـداره او تعلیم لرونکی وي، دغې جلۍ ته داسې رشتې نه پیداکېږي، جلۍ په کالج کـې له خپلو دوستانوسره په موټر کې ګرځې او دماغ یې اسمان ته الـوځې ملګـري یـې هوټلو ته دعوت کوي مور او پلار ترې پوښتنه نه کوي ګویا زما په لار داهـم اخېـرد قاچاقبرانو لاسو ته لوېږي.
یوې بلې خپله کیسه داسې راته وکړه،چې په ښه او بد پوه شوم؛ نو مـور او پـلار بـه مې همېشه په جنګ لیدل زه دهغوی اولنی اولاد وم بعضې وخت به، چـې هغـوی یوبل ته په غوسه وو؛ نو هغه غوسه یې په ما سړ وله، په کور کې دهیڅ شي کمی نه و، ددې جګړو لامل دغه و چـې دغـه هلـک( یـاني پلارمـې) بـل ځـای واده کـول غوښتل؛ خو مور او پلار ورته په خپله خوښه واده کـړی و، ددې لپـاره یـې دموراو پلارسره زیاتی او جنګ کاوه د جلۍ مـور بـه خـواب ورسره کـاوه، جلـۍ دمـور او پلارله مینې محرومه پاتې کېده، چې لویه شوه زیات وخت به له کوره دباندې وته، جلۍ په کالج کې داخله شوه
د پلار له شا یې درې نور ماشومان هم پیداشول عجیبه خبره؛ خـو دا وه، چـې لـه ډېرو جنګونو سره سره به بیـاهم دهغـوی اولادونـه پیداکېـدل، جلۍپـه کـالج کـې ملګرې پیداکوي او وخت ناوخت به دهغه کورته تله، دهغې جلۍ پلار وینې، چې کورېې له سکون ځخه ډک وي، ټوله کورنۍ په یـوه مېـز ډوډۍ خـوري خوشـالې وي، دې ته هلته په ورتګ سره سکون ملاوېږي او ګیله ورتـه درېږي، چـې دهغـې جلۍپلار ځومره مینه ناک دی او خپل پلاریې ولې دا دخپلې مینې نـه بـې برخـې کړې
ورځې تېرېږي یوه ورځ یې ملګرې کالج ته رانه شي؛ نو درخصتۍ نـه بعـد دهغـې کورته پوښتنې ته ورشي ګورې، چې هغه نه شته یوازې پلاریـې پـه کـور کـې دی،

دملګرې پلار یې ورته وائي، چې ټول دخلورو ورځو لپاره ملتـان تـه تللي، جلی دهغې له پلارسره کېني هغه ته دخپل کور او پلارکیسي کوي او ورتـه ژاړي، جلی ښایسته وي او د پلار دمینې تږې وي دملګرې پلار ورته په سر لاس ږدي او بیا یې په څنګ کېنوي، جلی هغه ځانته نزدې کوي له مینې یې ټنډه مـوچې کـوي لـږ وروسته یې شونډې پر شونډو ږدي.

جلی ماته وویل، چې پلار زه ښخي نه یم موچي کړې، خپل پـلار مـې لـه پامـه بـد راغی او دا د ملګرې پلارمې خوښ شو هغه په دغه مینه مینـه کـې زه لـه ځـان سره څملوم، ما دا فکر کاوه، چې دا مې دپلار پرځای دی او هغه هم دا هېرکړي و، چې دامې دلور پرځای اود هغې همصنفی ده، جلی داسې لذت محسوسوي او داسې په نشه کې ډوبېږي، دکور تریخ او دوزخي ماحول هېروي، دا ګنـاه هـم دهغـوی دکورنی‌ده درې ورځو پورې په ملتان کې وي او دا هم درې ورځې هلته ددغې لوبې لپاره ورتله، بیـا دهغـې کـورنی راځـي او دا ځـای پـرې درېږي، وروسـته د کوځې یوهلك سره ځان جوړوي، له هاغه ځایـه د دوسـتانو سلسـله شروع کېـږي، بیایې یو دوست فلمي کمپنی ته ولېږي هلته له نورو بدکاریو سره مخ کېږي له هغه ځایه سوچه بدکاره راوځي همداسې یې سرترقاچاقبرانو رسېږي او د ددي تعلیم په سم ځای کې استعمالوي دغه جلی سیاسي خلکو ته ډېره استعمال شوې وه.

دهغې په وینا، چې ویل یې زه دایوب خان دحکومـت یـو وزیرتـه هـم پـه رشـوت استول شوې وم، دوه ورځې ورسره وم او چې کله واپس تـرې راتلـم؛ نـو یـې راتـه وویل که دامریکې د( سي،آی،ای) لپاره کارکوي؛ هغې نه و منلي؛ خو زه په یقـین سره درته وایم، چې هغـې بـه دغـه بلنـه نـه وي رد کـړې؛ ځکـه، چـې شپږمیاشـتې وروسته هغه ما بیا ونه لیده

دغه یواځې د څو جنکو کیسې وې؛ خو داسې په زرونو کیسـې شـته، چـې لا پټـې دي په دغو کیسو تاسو قضاوت وکړئ، چې دا دځه قسم ذهـن جنکـی دي؛ ځکـه دغه جنکی ذمه وارې نه دي د دوی والدین ددې ټولو جرمونو ذمه وار دي

هغه جنکی ډېري بدقسمته وي، چې پـه بـوه غېـره ذمـه واره کـورنی کـې ښایسـته پیداکېږي، هغوی خپله ټولنه مکمله بې حیـاکوي او خپـل ښایسـت یـې دتبـاهی کندې ته اچوي

# ماضي مې مخې ته راغله

صیب! زه له تاڅخه ښنه غواړم ته زما کیسې لیکلو ته راغلی یې او ما درته فلسفه شروع کړه دکیسې له اورولونه زما مقصد دادی، چې خلک ترې څه درس واخلې، زه خپله کیسه دعبرت لپاره تاسو ته کوم او موراوپلار، ټولني اوحکومت ته هاغه ځایونه ور په ګوته کوم کوم ځای کې، چې جرم پیداکېږي.

دیوقاچاقبر په ګرفتارولو او دیوځو فاحشو په نیولو زموږ ټولنه نه پاکېږي؛ مګر هاغه ځایونه باید بندکړل شي له کومه ځایه، چې جرم پیداکېږي او په ډېر زور سره په ټولنه کې خورېږي.

زه له هغه قاچاقبرسره دوه کاله واوسیدم، هغه زه دیو شهزادګۍ په شان ساتلم یو په نوم خاوند یې هم راته پیداکړی و موټر، کور د وزیرانو په محفل کې ناسته ولاړه......او هر قسم سهولتونه یې راته برابرکړي وو.

زموږ قاچاقبري ښه په درز کې روانه وه، زموږ لپاره کوم قانون نه و، نه کوم سرحد و، د قانون محافظین زموږ په موټي کې وو، ښځو او شرابو دولت مجبوره کړی و، چې موږ ازاد پرېږدي.

همدغه وزیران به دقاچاقبر شاته ولاړ وو؛ خوکله به، چې تقرېر ته جګ شو مخدره مواد به یې داسې غندل تابه ویل، چې دپلار دښمنان یې دي، تاسو به په اخبارو کې هم کله لیدلې وي، چې په فلاني ځای کې مال سره قاچاقبرنیول شوی دا دټیټې درجې قاچاقبران وي، چې نیول کېږي، لوی خلک په دومره زیاتو پیسو نشي مړولی او بل پولیس هم خپل دپوزیشن ساتلو لپاره کله ناکله داسې کوي او بیا داخبر په ټولو اخبارو وویشې، غټ قاچاقبر ته څوك لاس

هم نشي وروړی.

زه ډېره ستومانه شوې وم؛ نو خپل بادشا ته مې وویل هغه د یوې میاشتې لپاره د مري دتلو مشوره راکړه هغه ورځې دګرمۍ وې دپیسو کمي نه و، زما په نوم خاوند هم تګ ته ځان جوړکړ؛ خو ما یې تمه ور پرې کړه، چې له ماڅخه ازاد ګرځه څه حقیقې مېړه؛ خو مې نه یې، چې کلک راپسې یې او اختار مې ور کړ، چې تعقیب مې هم نه کړي.

یوازې مري ته راغلم ځان مې بیا په بوقره کې ونغښت او په هاغه هوټل کې ډېره

شوم له کومه، چې تللې وم.
زما په لیدو دهوټل منیجرډېرخوشاله شو هغه ته مې وویل، چې څوک راته رامعرفي نه کړي؛ ځکه زه دارام لپاره راغلې یم.
له اوږدې مودې وروسته ماته فراعت په نصیب شوی و مانه هغه ښځه جوړه شوې وه، چې احساس یې مړ وي، کومه جذبه نه وي ورپاتې؛ مگر دا زما خام خیال و؛ ځکه چې ما په اوله ورځ دکوټې کړکۍ خلاصه کړه او د مري ښایسته منظر راته په نظر راغی؛ نو زماماضي یې مخ ته راته کېښوده هر څه یې راته راپه یاد کړل، ماته یې هغه لمحې را یادې کړې، چې زه له هغه سکرتر سره، چې ما ورسره خپل ژوند تاړه؛ مگر هغه جادو ډېر په بې رحمۍ مات شو کوم، چې ماته خپل منزل ښکاریده؛ خو هغه خراب را ووت
زما دسترگو په وړاندې دغه منظرتت ښکاره شو سترگې مې له اوښکو ډکې شوې، نه مې غوښتل، چې پاکې یې کړم او یوځل بیا دغه منزل په رڼو سترگو وگورم، زما ذهن ډېرلرې لاړ د هندوستان هاغه زوړ ښوونځی یې راپه زړه کاوه کوم کې، چې مونږ دیني اوخپله مورنۍ ژبه یادوله خپل کور یې رایادو لو.
ددې هوټل کوټه کې، چې ډېر پیسه داره پکې اوسېدای شي، زما زړه پکې تنگ شو او کور ته دتگ او اوسېدلو بې تابه شوم، ما ته دهغه عظمت احساس ایله اوس وشو کله، چې مانه هر څه لوټ شوي ؤ او په منډه منډه ډېره لرې راغلې یم، دپاکستان کور راته رایاد شو دکور ټول غړي راته سترگو ته ودریدل پلار، چې زما په بربادۍ کې یې غټ لاس و، د هغه یاد ځورولم ماته هغه مور یاده شوه کومې، چې زه دې دنیا ته پاکه سپیځلې راوړې وم، دهغوی به هغه وخت کې داگومان کې هم نه راتله، چې دغه سپیځلې جلۍ به په ځوانۍ کې خپله ټولنه بدکارۍ ته کشوې او دیوې فاحشې ښایسته نشان به ترې جوړېږي او بیا به له کوره تښتي او ټول خاندان به په رسوائي کې اچوي.
بیا مې خپل زوی، چې ما یې مخ هم نه و لیدلی دهغه ژړا راته سترگوته ودریده، چې دیو عیسوي نرسې په لاس له کوټې راوویستل شو زه یې هیڅ بیانولی نه شم، چې په هاغه وخت کې زما حالت څنگه و، په اول وار ماته خپل بچی دمري په هوټل کې په یاد راغی، چې سخته یې ځورولم او زړه مې غوښتل، چې لاړه شم، دعیسویانو له منگلو یې ازاد کړم او خپلې سینې ته یې جوښت کړم او چېرته لرې

لاړه شم همدغه خواهش زه سمه دمه لیونی کړم د زوی په یادمې دجذبو او احساساتو شغلې اوچتې شوې او دامې حس کړ، چې زما یوحس هم نه دی مړ، زما دننه اوس هم هاغه ښځه ژوندۍ ده کومه، چې دمحبت تږې وي، دمینې تږې وي، ساعت په ساعت مې ژوند راباندې تریخ معلومېده

زه دومره ویرجنه او پریشانه شوم، چې له کړکۍ لرې شوم، دټلیفون غوږۍ مې اوچته کړه او دهوټل خانګړې نمره مې ووهله او څلور پیکه ویسکې مې وغوښتله، ما خپله ماضي په شرابو شاته پورې وهله او بل علاج یې هم نه راته؛ مګر دڅلورو پیکو په څښلو لکه په اور، چې تېل واچوي ماضي یې نوره هم راته واضحه سترګو ته ودروله، ما دخپل زوی ژړا اوریده، چې په زوره زوره یې ژړل، ما په خپلوسینو کې دشېدو ویښېده محسوس کړل، ماته هیڅ علم نه و، چې دمور له سینې څخه پۍ تویېږي دهغې په زړه کې څه تېریږي او کله، چې یوه مور خپل ماشوم ته شېدې ورکړي څه احساس کوي زما په هاغه وخت کې پۍ تویېدي؛ خو د څلورو ورځو په موده کې مې د دوایې په زور وچې کړې؛ مګر نن چې زما په سینه کې څړیکې شوې؛ نو نه پوهېږم، چې دا د شیدو جوش و که دجذباتي وینې جوش و، هغه که هر څه و؛ خو ماته یې خپل بچې نېغ سترګوته ودارووه ما؛ خو خپل بچې لیدلی هم نه و د هغه مې یواځې ژړا اورېدلې وه، ما ته خپل بچی دومره هیڅکله نه و یاد شوی زما خواهش و،کاش چې بچی راسره وی او خپله سینه مې ورکړی وی؛ خو دا یو فطري خواهش و

جنسي اسودګي دفطرت ټولې تقاضاوې نه شي پوره کولای، ښځه دفطرت دغه تقاضا نشي پټولای دکومې، چې اولاد وي. مادغه تقاضا په شېدو کې محسوسوله او دپټېدوکوښښ مې کاوه؛ لیکن ساعت په ساعت راباندې دماشوم غلبه زیاتېده آن تر دې مې اراده وکړه، چې دخپلې خو ښې کوم سړی پیداکړم او دیوهلک غوښتنه ترې وکړم؛ مګر زما دپېش حقیقت داسې و، چې څوك دې ته نه تیارېده او نه داسې څوك پیداکیده، چې ما سره واده وکړي ما ته دغه فطري خلا د ډکېدو په نظر نه راتله او زه یې نوره هم پسې پرېشانه کولم

مانور درې بوتله شراب له ستوني تېر کړل؛ خو دپخوا په شان یې لا زیاته پرېشانه کړم اخیر دهوټل منیجرته ورغلم هغه ماته امریکایې( ګانجا)( مارجوانا) راکړه او خان مې پرې بې هوښه کړ.

کله، چې زما سترګې خلاصې شوې د ورځې لس بجې وې، سر راباندې درونډ و او په زړه مې وېره پرته وه، غسل خانې ته لاړم ښه ډېرې اوبه مې په ځان توې کړې، مګر بیامې هم طبیعت سم نه شو د تنهائي احساس مې زیاتېده ما ته دیوه ملګري ضرورت و د داسې ملګري ضرورت، چې زما له جسم سره یې کار نه لرلای او زما جذبات یې درک کولای.

دمحبت نه بغېر څوك ژوند نشي کولای، ما دا اراده هم وکړه، چې راځه بېرته سمګلرته ورشه او په خپله پېشه کې غرقه شه.

هغلته زما جذبات هیڅکله نه راپورته کېدل، نه مې خپل بچی یاد ته راته دګناه شپې او ورځې دا خلا ډکولای شوه مادغه اراده په دې سوچ شاته کړه که دوه ورځې زما طبیعت همداسې و؛ نو بېرته به ځم او که ښه شوم یو څوورځې وروسته به لاړه شم.

# کاش!! چې هغه سره مې نه وی لیدلای

په دویمه ورځ مې بوقره په سرکړه د ورځې اولنی پار و خرمانه خرمانه دمال روډ په طرف روانه وم، په مال روډ دومره رش نه و ما د بوقري نقاب پورته کړ، یوازې سترګې اود اننګوسرونه مې لږ ښکاره کړي و، ما چې په آئینه کې ځانته وکتل؛ نو دغسې نیم لوڅ او نیم پټ مخ ډېر راښکونکی راته ښکاره شو، همداسې دمال روډ وړونظرونوخارلم او په کرار کرار دپوست افس له چوك نه مخکې لاړم، لږه وړاندې، چې کومه لار په خوړنده تللې وه په هغې دکوزېدو په حال کې وم محسوسه مې کړه، چې له شا راپسې څوك راروان دي، چې کتل مې زما په عمر یو ځوان هلک دی او لاندې راکوزېږي هغه، چې زما له څنګ نه تېریده؛ نو په ژور نظر یې راته وکتل ما هم هغه له نظره تېرکړ، د هغه په څهره کې، چې کوم معصومیت ما لېده هغه مې خوښ شو، دهغه په سترګوکې دمردانګی چمک و، دهغه دسر وېښته واړه واړه ؤ ما ته په ټول مري کې همدایوهلك په نظر راغی، چې وېښته یې په طریقه اصلاح کړي و، دمال روډ مصنوعي حسن یې پرېښی و او دلته راغلی و، هلته چې مصنوعې حسن نه و هغلته دقدرت حسن او تنهائي وي؛ مګر هلته دیوه ملګري خواهش سري ته په زړه کې راوچتېږي.

هغه له ما نه مخکې کوز شو زه په کراره لاندې ور روانه وم اوداسې ځای ته ورسېدم، چې لوی میدان و، له تېرې جوړې شوې څوکۍ پرتې وې اوشاوخوا لوړې ونې د جنډو په شان ولاړې وې، زه هغلته کېناستم؛ مگردهغه څه درك نه و، چې په کومه لاړ، لږ وروسته یودم له مخامخ لوري راپیداشو ما هغه ته او هغه ماته کتل را روان و دهغه په شونډو تبسم و هغه لکه، چې دبوقرې دباریک نقاب شاته له مسکا ډکې شونډې لیدلې وې، زما پېشه همداوه، چې خلک په دې بازاري مسکا غلط کړم؛ ځکه چې په ما کې کومه حیانه وه پاتې، چې دپردي سړي په لېدو مې ځان راټول کړای وای هغه، چې مې خواته راورسید؛ نو په کرار اواز یې وویل: د چاانتظار کوې که یوازې سېل ته راوتلې یې؟

ماورته وویل: نه نه زه یوازې یم دچا انتظار نه کوم.

هغه وویل: ښښه غواړم نه پوهېږم، چې ولې مې له تا پوښتنه وکړه په ما بدگومانه نه شې.

ماوویل: نه څه خبره نه ده په پوښتنه کې؛ خو کوم غیب نه شته؛ خو سړیو ته زه همېشه په غلط گومان گورم.

دهغه غاښوته مې، چې ولیدل په ترتیب او پاک و او پاکوالې یې گواهې ورکوله، چې سگرټ نه څښې په هر څهره کې یې صحت او رونق معلومیده ماچې یوڅه څښرې ورسره وکړې؛ نو په ډېر ترور نظر یې یوه او بله خوا ځارله لکه ډارشوی، چې وي او یا به له دې ډاریده، چې څوك یې ماسره ونه ویني.

زه حیرانه شوم چا چې زه ځان ته مخاطب کړم ولې ډارېږي.

هغه ډېر ناکراره شو او ویې ویل: ښه ته سېل کوه زه درځخه لاړم.

ما هغه ته وویل: که څه کار نه لري او ضروري نه وي؛ نو راځه لږکېنه.

هغه لږ سوچ وکړ او بیا یې غمه کېناست.

زما له هغه نه اولنۍ پوښتنه دا وه، چې دکوم ځای یې او څه کار کوې؟

هغه خپل ځای راوښود؛ خو دایې ونه ویل، چې څه کار کوم دځو ورځو لپاره مري ته راغلی یم.

ماوویل واده دې کړې؟

ویل یې: نه!

هغه وویل:لږ دځان په اړه هم څه ووایه؟

ما خپل فرضي نوم وروښود او ورته مې وویل: زه هم دخو ورخو لپاره مري تـه راغلې یم.

هغه وویل: واده دې کړی؟ ښکاري محصله یې دهغه نظر ته قایله وم؛ خو تجربه یې محدوده وه هغه زما له شکل دا هم معلومه نه کړه، چې ما څومره ودونه کړي، چې ما ته یې شمېر هم نه دی معلوم او زما په رګو کې دومره وینه نشته څومره، چې شراب وو دا دهاغه قاچاقبر دښه خوراك نتیجه وه، چې دغو ښو زه دومره خرابه نکړم په هرحال په هغه وخت کې زما عمر څلور ویشت کاله و له شکل نه زه کم عمره ښکاریدم.

ما هغه ته وویل: چې داسږ کال مې د(بې، ای) امتحان ورکړ.

هغه مانه دځای پوښتنه وکړه او د چا لور یم.

ما هغه ته د دروغو ځوابونه ورکړه او نور دمري په ښکلا وغږېدو ډېر خند مو دغه خبرې وکړې.

ما ویل، چې په خبرو کې به دهوټل دعوت راکوي؛ خو کتل مې چې خبرې او رویه یې دملګری وه، چې یودبل زړونه سره تړي په خبرو کې یې وویل: یوازې راغلې یې که نور څوك هم درسره راغلي؟

ما ورته وویل: نه یوازې یم.

چېرته اوسې؟

ما، چې دخپل هوټل نوم ورته واخیسته، نو هغه ګبراو شو او په شکې نظر یې راته وکتل، د هغه شکل کې بدلون راغی یو څل بیایې دتلو اجازه وغوښته؛ خو ما بیا کېناوه او زه ورته په خبرو شروع شوم؛ خو چې هر څومره خبرې مې وکړې کتل مې، چې هاغسي دخبروجوش نه و ورپاتې بیا تلو ته تیار شو.

ما ورته وویل: تاته لګه، چې کوم ضروري کار در په یاد شو که څنګه؟

هغه وویل: نه کوم ضروري کار؛ خو نه دی رایاد؛ خو خبره داده که زه چا ولیدم شك راباندې کوي.

ما ورته وویل ودي کړي څه کېږي، یوه مصنوعی خندا مې برې ولوروله او بیا مې د ډوډۍ دعوت ورکړ.

هغه لنډ ځواب راکړ، نه!!

ما ویل: ولې؟

هغه باندي لکه، چې دکمترۍ احساس راغلی وي.
ویې ویل: زه یو وړوکی سړی یم او دا سې هوټل ته تګ؛ خو ما په خوب کې هم نه وکتلی.
ما ورته وویل: زه دي وروړم؛ خو هغه ویل زه خپل دماغ نه خرابوم زه؛ خو کوم داسې غریب هم نه یم؛ خو نه مې خوښېږي، چې لاړشم.
هغه زما رنګ او شکل نه معلومه کړې وه، چې زه دکوم امیر لور یم دامېر؛ خو څه شک نه و؛ مګر هغه نه پوهیده، چې زه څومره غریبه او بې وسه یم او څومره مختاجي محسوسوم زما دغه هلک ډېرخوښ شوی و د یو ملګري په خاطر زه نه پوهېدم، چې دغه هلک ته مې ولې دومره زر زړه کې ځای ورکړی و.
ما هغه ته وویل، چې هر څنګه وي زه تا وروړم حال دا چې ته انکار هم وکړې د هغه ناکراري زیاته شوه او بې له انکاره له هغه ځایه راسره را روان شو
هغه له مانه درې څلور قدمه مخکې ته، چې هرڅه کوښښ مې کاوه، چې وروړسېږم؛ خو نه مې شو کولای په پورته ختو سړك ته را ووتو دا د غروب مهال و، زما ساه په درېدو وه په سړك دخلکوهجوم و، له مخامخ نه دوه هلکان را روان وو او زما ملګري ته یې د لاس په اشاره دا الفاظ ادا کړه( پخیر کپتانه) ده هم اشاره ورته وکړه کله، چې د ه ته ورخواته شوم؛ نو پوښتنه مې ترې وکړه ته په پوځ کې یې( کپتان یې)؟
هغه ځان ناګاره واچوه نه دومره قسمت چېري دی، زه په راولپینډۍ کې دهاکي دټیم کپتان یم او دغه دواړه هلکان ما پېژني.ماهغه خپلې کوټې ته بوته برقه مې له ځانه لرې کړه.
ده راته وویل: زه په تا هیڅ ونه پوهیدم ته یوه ازاد خیاله جلۍ یې او له پاسه دې برقه هم په ځان کړې وي.
ما ورته وویل: خپل ځان له خلکو پټوم.
هغه ولې؟
ماورته وویل: دا به بیا درته ووایم او خبره مې واړوله، بیامې ډوډۍ راوغوښته او له دې څخه مې پوښتنې کولې؛ خو ده څه معقول جواب نه راکاوه په بله ژبه مې هم معلوم کړ ما ځان ورسره بې تکلفه کاوه؛ خو هغه به په ادب خواب راکاوه دهغه دغه خوی مې زیات خوښ شو، چې بې شرمه خبره به یې په ادب خوابوله.

ډوډۍ شاهانه وه هغه ته د ډوډۍ خوړلو سلیقه زده وه د خبرو په فن کې هم ښه و له هر څه معلومېده، چې دومره غریب نه دی څومره، چې ده ویل.
د ډوډۍ نه وروسته هغه دتلو اجازه وغوښته ما وویل تر یوه ځایه به زه درسره ولاړه شم؛ خو هغه نه غوښتل زه په خپل ضد ورسره روانه شوم، چې دهوټل نه یو څه اندازه وړاندې شو هغه ماته د واپس تلو وویل.
ما ورته وویل دخدای(ج) لپاره په ما غلط گومانه نه شي سبا بیا له ماسره په هماغه ځای کې ووینه هغه هم وعده وکړه او لاړ.
د هغه له تلونه وروسته زما هغه پخوانې زخمونه بیا تازه شول په خدای(ج) قسم ما دا محسوسوله لکه زمونږ ترمینځ، چې کومه زوره وره رشته وه، دهغه دباادبه خبرو انداز مې خوښېده، هغه زما له جسم سره کومه دلچسپې نه ښودله دغه !دا یې زما ډېره خوښه شوه ما ډېر داسې سړي لیدلي وو، چې اول به یې زما په جسم سترگې خښولي؛ خو دا له هغوی نه جدا و.
د هغه نظر له نوروڅخه بېل و زما د سترگو په مخامخ کېدو به یې نظر بلې خواته اړا وه په هغه شپه زه ډېره پرېشانه او بې کراره وم او همدغه ځوان مې سترگو سترگو ته کېده، نه پوهېږم ولې مې یقین راغی، چې دا له هغو خلکو مختلف دی دچا چې راسره مخه ده دغه یقین ماته سکون راباښه؛ مگر هغه خطرې، چې ما مخکې بیان کړې یو څه بې کراره کولم او په همدې کې مې سترگې سره ورغلې وې
ماخوب لېده، په خوب کې مې د فطرت تقاضې په تکمیلېدوکې لېدې هغه لکه ماشوم چې جوړ وي ما په غېږ کې اخیستی وي او دهسك په وریځو کې دده سره لوبې کوم، په دې لوبو کې سترگې پټې کړم؛ خو چې بیایې وغړوم، هغه نه وي، زه چغې وهم، منډې وهم، پدې منډه کې راوېښه شوم په کوټه کې اسمانې رنگه خف گروف لگېدلی وي دباندې باران په دومره زور وریده لکه د پل لاندې، چې ولاړ یې او په سر یې اورگاډی روان وي، په زړه مې وېره وه خوبونه !خو مې ډېر لېدلي وو، خو دغه خوب په وېره کې واچولم ما ویل، چې هغه په کوم مشکل کې دی دا خوب دخدای(ج) له طرفه اشاره ده
باران ښه تند و او دتنهایې احساس مې لا وېره زیاته کړه زما په زړه کې دمینې داسې یو توپان راوچت شو زړه مې غوښتل، چې همدا اوس پدې باران کې دهغه پوښتنې ته ورشم؛ مگر ماته دهغه ځای هم لانه و معلوم هغه؛ خو زه دلارې په سر

رخصت کړم په ډېر مشکل مې زړه صبراوه لیکن هغه مې له سترګو نه اخواکېده معلومه نه وه، چې څه وخت مې سترګې سره ورغلې وې؛ خو چې کله راویښه شوم دسبا لس بجې وې د خوب اثر مې لا اوس هم په زړه او دماغ و او له دې سره په ډېرې بې تابۍ تیاره شوم، چې هاغه ځای ته لاړه شم.

## د هغه ګومان و، چې زه جاسوسه یم؟!

هغه ورځ زما دژوند دټولو اوږده ورځ وه دا اول وار و، چې زه دیو سړي لپاره په جذباتي لحاظ بې کراره وم یو هاغه د جاګېردار زوی و، چې ما ته یې په هاغه وخت کې، چې زه له کوره راتښتېدلې وم پنا یې راکړې وه، له هغه سره زما دومره محبت نه و هسې په اول کې مې دواده دکوښښ لپاره محبت کاوه داتفاق خبره وه ښه سړی وخوت، چې زه یې داحسان پوروړې یم، بل هاغه سکرتر و؛ خودغه هلك، چې ماته په مري کې پیداشو زما دروح زرو ته کوز شوی و او دهغه انتظار راته دمنلو نه و ډېر راباندې اوږد تېریده زه دوخت نه مخکې هغلته رسېدلې وم دا، چې هاغه ځای په ژور و؛ نو ساعت په ساعت مې پاس کتل له ډېر انتظار نه وروسته په نظر راغی ما ورمنډکړه او لږه پاس ور وختم هغه هم، چې زما دغه تلوسه ولېده؛ نو په خلاصو قدمونو زر راکوز شو ما دهغه لاسونه په لاس کې واخېستل او دده په کټلولګیاشوم لکه ولېدلی ماشوم، چې مورته د راپورته کېدو په حال کې ګوري، چې کوم ځای؛ خو نه یې نه وي زخمي شوی.

هغه وویل: څه ګورې؟

ماوویل: راځه لاندې یې درته وایم ته ؛ خو روغ یې؟

هغه وویل: تر اوسه؛ خو روغ یم.

چې لاندې لاړو ما دبېګاني خوب کیسه ورته تېره کړه ما ورته وویل: که تراوسه مونږ یو بل نه سره پېژنو؛ خو زما زړه راته وائي، چې ته ورته ننوتلی یې.

هغه دخوشالۍ پرځای ما ته نصیحت شروع کړ، چې دخوب اثر د قبلولو نه وي بیا هغه ما ته خپل څو داروئکې خوبونه تېرکړل، چې په ده یې څه اغېز نه وښکاره کړی؛ خو زه بیا ددغه خوب په تعبیر ډېره وروسته پوه شوم

په خبرو کې آن تر غروبه مونږ هلته دزړه خواله کوله ما هغه ته دهوټل د تلو وویل

هغه نه تلو؛ خو له ځان سره مې روان کړ مابه، چې هغه لېده يو قسم سکون به را په برخه کېده، چې زه ترې بې برخې وم ما ويل که له دغه سره دواده تاروغزوم.
ايا قبوله به مې کړي؟.....
نه نه زه به هغه ته دوکه نه ورکوم هرڅه به ورته وايم، چې زه څوك يم او څه کاره يم، هغه له ماسره يوځای نه تلو درې قدمه فاصله موپه مينځ کې وه زمونږ له څنګ سره خلک اومونږ له خلکوتېريدو له مخامخ لوري دوه پوځيان په وردی کې په مخه راغلل او ما ولېدل، چې هغوی دواړو زما ملګري ته سلامې وکړه او ده هم په داسې حال کې ځواب ورکړه، چې زه پرې پوه نه شوم؛ خو ما هرڅه لېدلي وو دمال روډ له نمايش څخه راووتو او پورته هوټل ته په ختو شو زه، چې ستړي وم دغه مټ مې ونيوه او دهغه په مرسته وختم ما په خپل خيال کې هغه داسې راګېراوه لکه يو سړی، چې کومه ښځه په قبضه کې راولي مونږ په کوټه کې کېناستو.
په خبرو خبرو کې مې ورته وويل: کپتانه ستا دنده په کومه څانګه کې ده.
هغه ماته دسر نه تر پښو پورې وکتل راغی او زما مخې ته ودريد او ويې ويل ته؛ خو يا لېونی يې يا کومه جاسوسه يې کومه دې خوښه ده؟
دلېونيو روغتون او که پوځې جېل، چې د جاسوسی لپاره وي.
زه يوه بدکرداره وم، زما کوم کردار نه و، زه دځمکې د دوو ورځو شهزادګی وم؛ مګر د باعزتې ټولنې يوه لېدلې ښځه وم، زه هاغه رنډی وم، چې خلک يې په بدوکنځاو کې يادوي، زما وجود له هغه کنځاو نه هم بربنډ و؛ ليکن دجاسوسی لفظ زما له برداشت څخه وتلی و، له جاسوسی نه دهغه مراد د هندوستان و ما سوچ نه کاوه، چې دهند اوپاکستان تعلقات څنګه دي په اخبارو کې هم همدا راتلل، چې په سرحد به کله کله دسرحدي پوليسو لانجې راتلې، چې دجنګ بڼه به يې واخيسته ما داهم په اخبارو کې کتلي و، چې دهند وزيراغظم شاسطرې ويلې و، مونږ به په ملک کې ديوې خپلې خوښې محاذ خلاصوو؛ ليکن ما کومه توجو نه ورکوله دغو جنګونواو خبرونو به په مونږ دومره اغېزه کوله، چې ديو څه وخت لپاره به مونږ قاچاق ودرول او د خلاصې لارې انتظار به مو کاوه؛ مګر کله، چې دغه کپتان ماته دجاسوسی خطاب وکړ ديوې لمحې لپاره زما ذهن اتلس کلنې وروستنې ژوند ته لاړ کوم وخت، چې زه يو وړه ماشومه وم او پياده په ډېرو

تکلیفوپاکسنان ته راغلو کومې شغلې، چې زمونږ له کلې اوچتېدې اوس هغه زما په زړه را اوچتې شوې، زما شونډې له ژړا څخه ورپېدې زه په یو جوش ودرېدم.

# هغه د پاکستان د پوځ کپتان و

ماورته وویل: ای دپاک پوځ کپتانه! زماپه اواز کې یوڅه بدلون راغلی و او په مشکله مې خپله ژړا بند وله مخکې تردې، چې زه ستا په مخ لاړې توکړم له ما سره وعده وکړه، چې بیا به ما ته جاسوسه نه وایې، ستا شک څنګه شو، چې زه جاسوسه یم.

هغه زر ځواب راکړ تاته چا وویل، چې زه دپوځ کپتان یم او زماصحې نوم چا دروښود بیا تاپه ما کې ښایست ولېد، چې له ما سره دومره پرې او بې حیا شوې ته یوه امېره جلۍ یې.

ولې دیو عام سړي د ورخواته کېدو کوښښ کوې؟

ته یوازې ولې یې؟

زه به دټولو سوالونو ځوابونه درکړم.

هغه بیاوویل: خو اول راته دا ووایه، چې ته د چالور یې؟

ماپه زوره ورته وویل: زه د چا لور نه یم اوپه دواړو لاسو مي سر ونیو او ښه په زوره مې وژړل، یو دم مې اوښکې ودرېدې، چې سر مې پورته کړ هغه کړکۍ ته ولاړ و او د باندې یې کتل شاید زما په اړه به یې سوچ کاوه.

ما ورته وویل زماخواته راشه، چې دټولو سوالونوځوابونه زه درکړم.

هغه راتاو شو او ویې ویل وایه زه یې اورم.

دهغه په څهره کې وقار و، چې ما دده په عمر په نورو سړیو کې کم لېده زما ژبې ته دغه الفاظ راتلل، چې ورته ووایم، چې لاړشه خپل پوځ ته دې زه ګورم، چې ته ما څنګه نیسې له ما سره هم دومره قدرت شته، چې کوم سړی ماته لاس راوړي زه به یې له وظیفې لرې کړم؛ لیکن کله، چې هغه راتاو شو او ماته یې وکتل دهغه له جمال نه ډکې څهرې زما په اعصابو قبضه وکړه ما ته معلومه شوه، چې هلته له ماسره هرڅه کولی شي وجه دغه وه، چې هغه زما په شحصیت غوړېدلی و.

ماورته وویل ما ته داسې معلومه شوه، په هغه ماښام، چې هغو دوه کسانو تاته

دکپتان اواز وکړ او تا وویل، چې زه دهاکي دټیم کپتان یم؛ نو ما ومنله اوکله، چې نن ماښام تاته هغو دوه پوځیانو سلامي وکړه او تاهم په سلامي خواب ورکړ؛ نو زما شک په یقین بدل شو او کله، چې ته له ماځخه درې قدمه مخکې تلې او هوټل ته راختو؛ نو دو کسانو، چې زمونږ په څنګ تېر شول؛ نو په خپل مینځ کې یې وویل، چې داهاغه پلانی کپتان دی، زه وپوهېدم، چې تا ماته غلط نوم راښودلی و او بل ستا ډول او ډیل ماته دا روښانه کوي، چې ته یو پوځي یې.

هغه ویل: تردې ځایه به زه دا ومنم ما ته دباقې سوالونو ځوابونه راکړه زه ستا شک په دې ویلو رفع کوم، چې دانډیا سره زمونږ جګړې ختمې دي؛ خو دسرحد او کشمېرلادوام لري او که زه وغواړم؛ نو دغه هوټل به په پینځلسو دقیقو کې ګېرکړم او که ته د انډیا جاسوسه یې؛ نو انډیا ته به روغه لاړه نشي.

اوس زما ردعمل ښېل و په اصل کې زه د نارمل ذهن جلی نه وم زما په اند دغه دنیاکې هیڅ یو جلی، ښځه او سړی دنارمل ذهن خاوند نه وي همدا زماحال و هغه، جې ماته دانډ یا جاسوسه وویله.

نوما د غم او درد سره مل په یو اواز کې وویل زه دانډیا جاسوسه نه یم زه دانډیا مهاجره یم زه پنا غوښتوونکې یم، اتلس کاله وتلي ماته پنا نه ده راکړل شوې ما ته، چې کوم منزل ښکارېده هغه خراب راوخوت، ددې کیسې داورېدو نه مخکې زه تاته وایم، چې ته په پینځلسودقیقو کې دغه هوټل قبضه کولای شې؛ نو زه هم په لسو دقیقو کې ستا دغه قبضه ماتولی شم په کوم ملک کې، چې ستاغوندې پوځیان اوځوانان ځانونه قربانوي دهغه ملک حکمرانان زما په موټې کې دي تاسو په سرحدونو وینې توېیوئ اوستاحکمرانان دښار په مینځ کې شراب څښي.

هغه راته وویل: سمې سمې خبرې کوه دلته دکوم فلم شوټینګ نه دی شروع.

ما ورته وویل راشه زما خواته کېنه، چې زه دې پوه کړم، چې ما ستاغوندې یوعام سړي ته ولې ځان ورخواته کاده دا له هغه وخت شروع کول غواړم، چې ما په اول خل په پاکستان کې قدم کېښود

هغه راغی او زما مخې ته کېناست.

ما له وړوکوالي څخه تردغه وخته پورې ټوله کیسه ټکي په ټکي ورته تېره کړه، یو خبره مې هم له هغه نه پټه نه کړه په اورېدو کې ډېر ځله په ژړا شوم او چې کله ما کیسه ختمه کړه؛ نو د شپې یولس بجې وې دهغې تېرې شپې کیفیت مې هم ورته

تېرکړ، چې زه دتنهائي احساس لېونۍ کړې وم، په دغه لېونتوب کې د باندې وتلې وم او زما ددغه جذباتي کیفیت له برکته هغه ما ته پیداشوی و

هغه یوسوړاوسېلی وکښ اوله صوفې اوچت شو په کوټه کې په ګرځېدو شو ما هغه ته کتل، چې هغه په یو ژور سوچ کې تللی و

تاسو په خپله دخپل ځان په تعلق سوچ وکړئ صیب! زما دکیسې داورېدو په دوران کې ماتا ته کتل، چې څو وارې دې په سترګوکې اوښکې راغلې تاسو د پاخه عمرانسان اوحساس لیکوال یاست ځکه تاسوخپلې اوښکې تمې نه کړې هغه دپاکستان پوځې و د پوځ ټریننګ له هغه نه سخت بدنه جوړکړی و؛ ځکه یې سترګو ته اوښکې نه راپرېښودې؛ مګر هغه له ماځخه نشوې پټولی څو وارې یې سترګې سرې شوې ما اورېدلي و، چې کومې جاسوسي ښځې ګېرې شې بیا؛ نو هغه دخپل مظلومیت کیسې کوي زه نه پوهېږم، چې څوک به متاثره کوي کنه؛ لیکن زما کیسه دځان مظلوم یا دخلاصې لپاره نه وه دازما دسینې لیک و، چې ما هغه ته واوراوه او هغه یې بې قراره کړ.

ماهغه ته وویل: ته یو پوځې یې یوه سخته تېره یې که ته موم شوې؛ نو بیاته دملک دفاع نشې کولائ، زما د پرونۍ شپې جذبات ته نشي درک کولائ هغه بې قراره په کوټه کې تاوېده ما پسې زیاته کړه ما تاته په زړورتیا وویل، چې زه له هغو قاچاقبرانوسره یم کوم، چې دملک دښمنان دي ما ستادکپتانۍ دوېرې دغه د جرم اقرارنه دی کړی کوم اغزي، چې ما یو یو له خپل ضمېراوروح څخه وویستل او ستاپه مخ کې مې واچول د ځان دخلاصۍ لپاره نه و زه اوس هم ستاپه شان کپتانان په بیه اخیستلی شم ما په دغه هوټل کې په ډېر شمېراخیستې هم دي، ستا درأرسولو؛ خوکوم ضرورت هم نه پیداکېږي لیکن کله، چې ته ما دغه هوټل ته رادعوت کولې؛ نو تا ویل چې زه یې تصور هم نه شم کولائ، چې هلته لاړشم لایې ستا قیمت په ما لوړکړ، چې زه یې پوره کولی نه شم ماته ته دهغه سرې په نظر راغلې کوم کې، چې ماته خپل منزل ښکارېده؛ مګرهغه دمنزل فرېب راوخوت هغه زما دجذباتو سره یو لوبه وه د هغه لاره جدا وه یوته یې، چې زما جذبات به د پوځې بوټونو لاندې میده میده کړې، زه دانډیا جاسوسه نه یم زه دانډیا دښمنه یم او زه اوس هم خاضره یم، چې ما ته ټرېننګ راکړې او انډیاته مې ولېږ ې زما روح به خوشاله وي.

هغه وویل: پاکستان دومره بې غیرته نه دی، چې اوس به ښځې لېږي مونږ لا ژوندي یو
زه پوهېدم، چې ښځې دخپل عصمت په واسطه جاسوسي کوي؛ خو لا مونږ ژوندي یو.
بیایې وویل هسې تافکرکاوه، چې زه به واده درسره وکړم.
ماخواب ورکړ بیا هم زما په وجودکې دننه هغه سړی په دې امید ژوندی دی، چې یوځوک به راځې، مابه له دې جهنم څخه وباسي او اوس چې ماتاته ټول واضح کړه، چې زما ماضي څنګه تېره ده او زه څوک یم اوس؛ نو زه څنګه فکروکړم، چې ته به له ما سره واده وکړې کنه.
هغه په پوځې ژبه په لنډه توګه وویل وبه یې کړم) هغه کرار کرار زما په خوا راغی، په دواړو لاسو یې زما مخ ونیوه اوځانته یې مخامخ کړ کله، چې مې دهغه سترګو ته کتل په سترګو کې یې اوښکې ډنډ وې دیوې لمحې لپاره زه هغه په لاسو کې نیولې وم دهغه ګرفت کې، چې کوم سکون ما ولېد زه یې نه شم بیانولای، زه دسړي دجسم له یوې حصې نه هم ناآشنانه وم سړیو زما جسم په ډېرې بې دردۍ په خپل لاس کې اخیستی و؛ خو دغه یوازینی سړی و، چې په ګرفت کې یې سکون او دمینې شدت و بیا داسې وشو، چې زه په صوفه ناسته وم او دی پروت و او خبرې مو سره کولې په عصابو مې، چې کوم بوج و هغه ختم و او زما ډېر وروسته یاد شول، چې مونږ ډوډۍ نده خوړلې.
ما پوښتنه وکړه، چې که څه څښې راویې غواړم.
هغه وویل ما؛ خو لا سګرټ هم نه دي څښلي او که ته ځانته څه راغواړې؛ نو نه دې منع کوم.
هغه؛ ځکه ماته وویل، چې نه دې منع کوم هغه ته زه یو عادتي شراب خوره ښکارېدم؛ ځکه ما په خپله کیسه کې ټکي په ټکي ویلې و، چې څنګه څنګه نېشې مې کړې وې.
ماورته وویل: ښه دا وه، چې زه تامنع کړی وای؛ خو خیر له دې ځایه له شرابو توبه ده، ډوډۍ راغله، د ډوډۍ په سر هغه جدي ښکارېده وجه یې دا وه، هغه د ژوند تر ټولو همدا فیصله کړې وه، چې ډېره خطرناکه هم کېدای شوه زه پوه شوم، هغه د دوو لارو په مینځ کې ولاړ دی او سوچ کوي، چې کومه لاره دې انتخاب کړي،

سهي ده اوکه نه ما هغه ته ديقين ورکولوکوښښ ونه کړ او نه مې ورتـه د وفـادارۍ سينه وډبوله زه پوهېدم، چې زما اوښکې هغه ته هرڅه و.

ما وويل: ته واپس ځې اوس؛ خو د شپې دوه بجې دي؟

هغه ځواب راکړ: نه زه په روخصتۍ راغلی يم.

ما وويل: ښه؛ نو بيا دلته وېده شه هغه هم ومنله ما سره دهغه دلنګ وهلو لپاره څـه نه وو خپل يو ورېښمين ټکری مي ورکـړ دهغـه نـه يـې لنـګ وواهـه او پـه صـوفه څملاست؛ خو ما له لاسه ونيوه او په خپل کټ کې مې څملاو.

هغه وويل: ته په صوفه څملې؟

زه دهغه دځواب په ځای له هغه سره څملاستم هغه ډېر ضد وکړ، چې ځانته څملو؛ خونه مې پرېښوده.

هغه ماته په خندا دغه کيسه تېره کړه هغه وويل معلومه نه ده، چې دغه کيسه ريښتيا ده که افسانه ده په هرحال ښه لګېږي وايې نيپولين، چې کله په روس حمله وکـړه؛ نو د پوځ يو کنډک په يو ځنګل کې واړول له ماښامه وروسته يوه ځوانه، چې ډېره ښايسته روسۍ وه دکنډک دقوموندان په خيمه ورننوتله هغه کليواله معلومېده.

هغې له ځانه يوه مظلومه ښځه جوړه کړه په فرياد يې کې قوموندان ته وويل، چې جنګ هرڅه ور تبا کړي د هغې خاوند او بچيان اوځاروي ټول په جنګ کې مـړه شوي، دقوموندان په لاس کې دمرستې لپاره نور څه نه و دهمدردۍ پـه خـاطر يـې خان سره کېنوله او دهغې دلجو يې کوله.

ښځه له قوموندان سره فري کېږي او دا قسم پوښتنې کوي، چې له دې ځايه به پوځ چېري ځي او اوس نيپولين څه اراده لري دکنډک قومندان پـوهېږي، چـې هغـه کليواله ښځه نه؛ بلکې يوه تربيه شوې جاسوسه ده.

قوموندان صفا ورته وويل، چې ته جاسوسه يې زه دې په خپله توپانچه ولم، ښځه په منتو او زاريو شروع کوي، چې په شک کې ما ونه ولې او وايې زه؛ خو مخکې لا تبا شوې يم، وروسته قوموندان ورته وای له يو کال راهېسي په ځنګلو او غرو ګرځم او مسلسل جنګېږم، اعصاب مې ګنګس شوي اوپه دغه يوکال کې ما ښځې ذات تـه لا لاس هم نه دی ور وړی، زه تا په دغه شرط پرېږدم، چې شپه به له ماسره تېروې.

ښځه ورته وايې په يوه شرط به يې ومنم ديوي پرځـای بـه دوه شـپې درسره تـېرې کړم؛ خو ته به دنيپولين دحملې نقشه اوټول پلان زما په واک کې راکوي، قوموندان

هغې ته نقشه ورکوي او ټول پلان ورته واې، دغه روسۍ په رېښتيا جاسوسه وي او دغه معلومول يې غوښتل، چې قوماندان ورکړل، ددې په بدل کې هغه له قوماندان سره شپه کوي سبا ته، چې هغه دتلو اجازه غواړې قوماندان خپله توپانچه راوباسي او ښځې ته واې ما ويل په دې شرط دې پرېږدم، چې له ماسره شپه تېره کړې اونه دې پرېږدم او نه دې وژنم؛ مګر تا زما خواهش پدې راپوره کړ، چې دنيپولين نقشه مې درکړه او اوس، چې له تاسره زمونږ پوځي راز دی اود دښمن ښځه يې ددې لپاره زه تا وژنم او له دې سره روسۍ ولي او مړه کوي يې.
هغه دغه کيسه په ټوکه ټوکه کې کوله.
ما هغه ته وويل: زه له تا څخه کوم راز نه اخلم او نه ته دنيپولين دخواهش اظهار کوي بيا به؛ نو ولې ما په ګولۍ ولې بيا؛ نو مونږ دګپ شپ په موډکې راغلو تاسويقين وکړئ، چې مونږ په هاغه شپه داسې پراته وو تابه ويل، چې دشپږو اووکالوماشومان يو، لږ وروسته ويده شو؛ خو چې کله راوېښ شو دورځې يولس بجې وې.
ما ومنله دا هغه سړی دی، چې زه يې په لټه کې يم تاسو ماته اوس کوم داسې ځوان ښودلی شئ، چې ټوله شپه دې له يوې ښايسته جلۍ سره تېره کړي او کوم بې ډوله حرکت دې ونه کړي هغه ولامبل ناشته يې وکړه او لاړ هغه ماته دهاغه ځې بلنه راکړه په کوم ځای کې، چې مونږ اول ځل سره لېدلي وو.
هغه وويل: بيابه هلته سره وينو.

# څو ورځې له کپتان سره

دهغه له تګ نه وروسته مادهغه په باره کې سوچ کاوه کله به مې يقين راغی، چې قبوله کړي به يې او کله به دا فکر راولويده، چې نه هغه له ما سره هسې يوه لوبه کوي د روخصتۍ ورځې اړوي او بيا په خپل مخ ځي او کله به دغه خيال راغی، چې هسې دمحبت لوبه يې راسره شروع کړې او ما معلوموي، چې زه جاسوسه يم که نه

دغه وهم يو څه راپاندې اغېز هم کاوه مانه منله، چې هغه کپتان دې په يو بدکرداره اعتماد وکړي ليکن کله، چې هغه کيسه واورېده؛ نو اوښکې روانې وې

دهغه اوښکو به یوځه اطمنان راکاوه په دغه سم او سرچپه فکرونوکې دغه ورځ هم تېره شوه.
برقه مې په سرکړه هاغه ځای ته لاړم په کوم ځای کې، چې مونږ اول سره لېدلي وو، هغه قدم واهه مونږ کېناستوما دټولو خبرو نه مخکې هغه ته دیاد شوو فکرونوپه اړه وویل، چې څنګه زه په دغو فکرونو اخته یم زما له سترګو بې اختیاره اوښکې روانې وې هغه ته مې وویل ریښتیا وایه ته؛ خوما سره کومه لوبه نه کوې دوکه؛ خو به نه راکوي اوکه ته ماپه ګولۍ هم ولې؛ نو دخدای(ج)لپاره زر مې وولـه کـه مې زړه ماتول غواړې هم زرکوه.
هغه وویل په خدای(ج) قسم، چې ستا زړه به ساتم نـه بـه یې ماتوم، دغه کوم وهمونه، چې ته کوې په کاروه،چې ما کولی زه هم همدغو سوچونو په سر اخیستی یم، چې څنګه په تا اعتباري شوی یم، چې ته بـه ماتـه دوکـه نـه راکـوې اوبـل تـه خوښه یې، چې زه تاته( زیبې) ووایم.
ماوویل: ولی زیبې په څه خاطر؟
هغه وویل هسې دغه زما خوښېږي ډېروخت نه مې ارمان و، چې واده وکړم خپلې ښځې ته به زیبې نوم اخلم، اوره زیبې زه پوځې یم زمونږ ترېننـګ تـردې انـدازې وي، چې زمونږ عادتونه ورر ره بدلېږي، پوځې په هره برخه یا هرکارکوي؛ نو دهغـه هرپلو فکر وي غور پرې کوي خوش باوري زمونږ لـه عادتوڅخـه وځـي مـونږ پـه خطرو زیات نظرساتو یاعمل کوو دپلان جوړولو له هرې زاوئي څخه یې ګورو مونږ له جذباتونه لاندې کېږو تاته هغه ترېننګ نه دی درکړل شوی تا له جذباتو مجبوره دغه فیصله کړی په خپله فیصله به پېښمانه شې زما تنخوا محـدوده ده زمـا د ژونـد بل حقیقت دادی، چې ستاغوندې ازادخیاله جلۍ نه خوښوي نن شپه ته ښه سوچ وکړه او دغه فیصله مخې ته کېده کېدای شي ته خپله فیصله بدله کړې.
مابیاهغه ته هاغه خبرې وکړې کومې، چې مې مخکې شپه ورته کړې وې ماهغه تـه داهم وویل، چې ماته بیا دسوچ مه وایه هسـې نـه زه تېـره نـه وزم زمـا مـاضي مـړه کېدوکې ده پرېږده دهغه په مړه کېدوکې مرسته راسره وکړه، دغسې ډېرې خـبرې مې هغه ته وکړې او هغه ته مـې یقـین ورکـړ، چـې یـا بـه واده درسره کـوم او یابـه خانوژنه کوم، لمر ولېدلی و شپې خپلې تیارې کرار کرار راغوړولې او مونږ دواړه لا ناست وو او خبرې موسره کولې

بیاماخپل سر دهغه په زنگون اېښی و هغه زما په وېښتوکې گوتې وهلې ماتـه داسې سکون ملاوېده لکه کـوم سـتړي لاروي تـه خپـل منـزل مـلاو شي، ماتـه دیـو اوږد اوستړي مزل وروسته خپل منزل په لاس راغلی و، ما ته دغه حالت خـوب راوسـت هغه ماته کومه خبره کوله ماته داسې ښکاره شوه لکه په خوب کې یې، چې اورم.
اخېر هغه وویل: راځه اوس چوټې کوو زه رابېداره شوم پـه هغـه شـپه هغـه مـاسره هوټل ته نه ته، ویل یې بده راته ښکاري، چې تـه دا څـو ورځـې ډوډی رابانـدې خورې.

ماهغه په زور روان کړ ماهغه ته هم نه ویل، چې زه په هوټل کې مفته اوسېږم او د ډوډی بل هم نه ورکوم دپیسوهم څه کمی راسره نه و؛ خو لـه هغـو پیسـوزما نفـرت کېده، اوس زماخواهش دغه و، چې خپل کور جوړ کړم او دخپل اصلیت په طرف روانه شم.

## د هغه کیسه

دشپې له ډوډی نه بعد ماهغه ته وویل: ته له خپل موراوپلارځخه د واده اجازه اخلـې او زما په باره کې به ورته وای.
هغه راته ووېل زماوالدېن نشته ما وویل مړه دي هغه له یو سوړ اوسیلي سره وویل مـور مـې مړه ده او پلار مې ژوندی دی لیکن زه وایم، چې هغه هم مړ دی.
هغه زما نه مخ واړاوه او دجیب نه یې دسمال راوویسته زه پـوه شـوم چـې دهغـه اوښـکې راغلې او پاکوي یې دهغه اوښکې زما له برداشت څخه وتلې وې نـه مـې شـوې لیـدلی زه ورغلم او دهمدردی نه مې دهغه سترگې په خپل ټیکري پاکې کـړې او سـترگې مـې ورتـه مچې کړې آخر هغه سړی و خان یې یوځه راټینگ کړ ما ورته وویل ته خو هم زما په شان په ژړا شوې ته خو سړی یې.
هغه وویل کلونه کلونه وروسته زما اوښکې تویې شوې ما کله هم له چاسره همدردي نـه ده کړې او نه مې غوښتي دي، خوک دې له ماسره همدري وکړي. دمحبت او مینې نوم مـې اوریدلی نه دی او نه مې له چا سره مینه کړې ده. مگـر زمـا مینـه دپاکسـتان لپـاره او ددې خړې وردی لپاره ده. دخپلې وسلې لپاره، خپلو پـوځي ملگـرو لپـاره، زمـا د ژونـد مقصـد دادی چې دپاکستان دفاع وکړم او چیرته په سرحد کې خپل سر د وطن لپاره قربـان کـړم؛ اگر که دغه جذبه او مقصد زما په زړه کې ځای نه وی نیولی؛ نو زه به اوس یاپه جېـل کـې وی، یابه مې دخلکو جېبونه وهل، یابه له کوم لېډر سره وم او هغه ته به مې کوتـک مـاري

کوله دملک د ولېدلو ماشومانو مستقبل همدا شان راوزي.

زه دهغه په کيسه پوه شوم دظالم پلارد زوی ذهنې کيفيت همداسې وي کوم، چې هغه بياناوه، هلک له نارمل حالت څخه وځي، زه هم دنارمل ذهن خاونده نه وم، يوڅه ورته خوشاله شوم، چې دي هم زما په شان ذهنې کيفيت لري دا جدا خبره وه، چې هغه خپل کردار روښانه کړی و هغه ويل او ما اورېدل دهغه د زړه غمجنې خبرې راوتلې ما په خاموشۍ سره اورېدې په مينځ کې مې کوم سوال نه ترې کاوه، چې دهغه کيسه ونه درېږي، دهغه وخت کوم اته کاله وتلې؛ خو ما ته اوس هم دهغه يويولفظ ياد دی اوماته داهم ياد دي، چې کوم لفظ کې دهغه اوښکې توېي شوي دي، زه تاته دهغه کيسه دهغه په الفاظوکې وايم صيب ته يې هم دهغه په الفاظو کې وليکه.

هغه وويل، چې تاماته مينه نه وی راکړې؛ نو نن به زما اوښکې نه راتللې له سرې سره او ښکې خوند نه کوي زه تاته يوه خبره واضح کول غوارم، چې ستا ښکلا او ځواني زه متاثره نه کړم، زه ستامينې او محبت متاثره کړې يم، ما په اولې ورځې تانه پوښتنه وکړه، چې ته يوازې سيل ته راغلې يې که څوک درسره شته؛ نوستا به گومان راغلی وي، چې زه دملک دځوانانوپه شان تاسره ددوستۍ په نوم هسې يوه لوبه کوم؛ خو نه تاسره زما خبرې د دوستۍ لپاره نه وې، زه چې تاته درخواته شوم؛ نو وجه دا وه، چې ستاپه شان يوه ښايسته جلۍ څنګه دمري دمال روډ دمصنوعې حسن نه دلته راغلې او يوازې ناسته ده، زه هم له دغه مصنوعي حسن نه په تنګ شوم او هاغه ځای ته راغلم کوم ځای کې، چې دځښتن حقيقي حسن دی دا زما تجربه وه، چې ته به يوازې يې او چې پوښتنه مې وکړه دا زما د زړه اواز و غوښتل مې له تانه پوښتنه وکړم، چې ته يوازې يې او ولې يوازې يې؟

ما پوښتنه کول غوښت هغه کوم غم دی، چې ته يې دغه تنها ځای ته راکش کړې يې زما فکر صحيح راووت؛ ليکن زه يو پوځې يم کله، چې زه ديو عام انسان په شکل راځم؛ نو ماخپل جذبات پرېشانه کوي؛ کله چې زه د يو پوځې په شکل کې يم؛ نو خپل جذبات له ښو لاندې کوم او وخت نه ورکوم، چې سر راپورته نه کړې، تا زما دواړه شکلونه ولېدل تا چې ماته خپله دفطرت خلا ښکاره کړه همدغه خلا زما په ژوندکې هم موجوده ده، ستا مينه به زما يقين راډکه کړي زما يقين دی دغه يوه خلا زما د ژوند غټه کمزوري ده دغه خلا کمزوري، تنګ لاسي دغه ټولې زما دمورمرګ نه وروسته ماته پيداشوي دي، زما عمر په هغه وخت کې يولس کاله و زما نه مې مشر ورور هم و، چې د پينځلسوکالو و هغه بې چاره د مور له مرګ نه اووه مياشتې وروسته مړشو هغه دښه قسمت خاوند و، چې ډېر زر د مورخواته لاړه او زه يې يوازې پرېښودم دغه زماپه ژوند کې زما لپاره دوهمه صدمه وه، چې ما برداشت کړه.

زمونږ کور له مينې اومحبت څخه ډک و هرلور خوشالي وه، پلار مې ديو ژوندي زړه

خاوند و، ما دمینې او محبت په ماحول کې سترګې غړولې وې او لوی شوی وم زه نه پوهېږم، چې په کومو کورو کې مینه نه وي؛ نو هغلته واړه ماشومان څنګه ژوندي پاتې کېږي زما له سبق سره مینه وه په پینځه کلنۍ کې پلار په مکتب کې داخل کړی وم.
پاکستان، چې کله جوړېده زه په دوهم صنف کې وم زمونږ په کوڅه کې دهندوانو کوم اته لس کورونه وو هغه ټول انډیا ته لاړل، دکوڅې خلکو دهغوی ټول سامانونه راوویستل او خپلوکورو ته یې وړل، په لږو ورځوکې هماغه کورونه بېرته ابادشول ددوهم صنف دماشوم هلک شعور دومره بېدار نه وي؛ لیکن کله، چې د هندوانوکورونه له مسلمانانو څخه ډک شول په هغه وخت کې زما شعور بیدارشو ماته اوس هم یاد دي اوبیا به یې هم په یاد ساتم، چې هغه خلک څنګه زمونږ په محله کې را داخل شول دغه دانډیا مهاجر ول هغه سره دمسلم لیګ اودنشنل ساتوونکي او یوڅو پوځې او یوڅو دمحلې مخور خلک وو او دوی ته یې د هندوانو خالي کورونه ورکړل، په کوڅه کې یو شور و زه دباندې راووتم کتل مې، چې یوه قافله راروانه ده مخکې سرې راروان وو، چې داکترو په سرو باندې پټۍ لګېدلې وې، سرونو یې دهندوانو دظلم ګواهې ورکوله دچا لاسونه زخمي وو، دچا پښې؛ خو چې ما ورته کتل سرونه دټولو زخمي وو د هغوی شاته ماشومان او ښځې وې دماشومانو هم کالي شکېدلي وو او په سترګو کې یې وېره له لرې ښکارېده
د ښځو په مینځ کې یوه ښځه وه، چې په غېږ کې یو وړوکې ماشوم و سکهانو وژلی و مور یې په مړینې پاکستان ته په خپله غېږه کې راوړی و د هغې ښځې دهای های ژړا اوس هم ماته یاده ده په هغوی کې زاړه خلک هم وو، چې یو د بل په مرسته رارسېدلي وو، دغه قافله دمېړتون په مزل له کوڅې نه دهندوانوکورو ته ختمه شوه، ماته وروسته معلومه شوه، چې دغه مهاجر څوک وو او له کوم ځای څخه راغلي که له هر ځایه راغلي وو؛ خو ماته مظلوم ښکارېدل، ظالمانو یاکېدای شي ډاکوانو به دغه قافله لوټلي وي، ماته په هغه عمر کې ظالم خلک ډاکوان ښکارېدل زه وړوکی وم ذهن مې کچه و؛ خو زما په بدن کې یوه جذبه پیداشوه زه یې بې قراره کړم د هغوماشومانو زخمونو زه په زړه زخمي کړم.
ما له ځان سره په هغه وخت کې وویل، چې غټ شم؛ نو په ځان کې به طاقت پیداکوم او ډاکوان به ختموم کله، چې ما له خپل پلار نه دهغو مهاجرو په هکله پوښتنې کولې؛ نوهغه زیات خورېده؛ خوماته به یې خواب راکاوه.
هغه ماته وویل په کوم ځای کې، چې مونږ اوسېږو دې ته پاکستان وای او پاکستان د خدای(ج) او رسول اسلامي ملک دی.
مونږ به هم چې کله لوبې کولې؛ نو مونږ به شنې ورې جنډې په لاسوکې نیولې او دا نارې به موکولې، چې پاکستان زنده باد، دا به مونږ دلویانو نقل کاوه مونږ په هغه وخت کې د پاکستان په اهمیت نه پوهېدو.

زما پلار ماته ویل، چې دانډیا هندوانو او سکهانو دمسلمانانو کورونه اوعزتونه ورلوټ کړي وو، څوک یې قتل کړي اوچاسره یې څه او څه کړي وو اوکوم خلک، چې زمونږ محلې ته راغلل هغوی ایله ځانونه راویستلي دي، له دې خبرې سره مامحسوس کړه، چې زما په سینه کې یو د اور شغله پورته شوه.

هغه په ویلو ویلو کې غلی شو او غوسه یې زیاتېده ماهغه ته کتل صوفي ته یې سوک ورکړ.

ماته یې وویل: زیبې سکهانو او هندوانو دمسلمانانو واړه تیخوري ماشومان وژلي، ژوندي یې سوزولي، پیغلې یې بې عزته کړي، وگوره زیبې زمونږ دملک نه سکهان څومره په ارام ووتل چا هیڅ بدسلوک ورسره ونه کړ او هندوانو ټول مسلمانان بې عزته پاکستان راوشړل.

هغه ما ته کومه نوې خبره نه کوله؛ ځکه دا هر څه ماپه خپلو سترگو لېدلي وو، چې د هندوانو ښکارشوي وو هغه داکیسه په چیچلو غاښونو کوله هغه وویل کوم خلک، چې زمونږکوځې ته راغلي وو دگاونډ خلکو ورسره مرسته کوله، چا لوښي ورکول، چابستري، دچا چې څه د وسه کېدل نه یې منع کول، ترډېره وخته ډوډۍ هم گاونډیانو وروړه، دهغوی ماشومان له مونږ سره په مکتب کې داخل شول مونږ به، چې دهغوی نه د انډیا دحالاتو پوښتنې کولې او چې هغوی به کومې کیسې کولې؛ نو مونږ به ډېر وېریدو اخېر به مونږ ورته ویل بس دی نور یې مه وایه مونږه وېریږو.

ته هم زیبې په وړوکوالي کې له انډیاڅخه راغلې یې؟

تا، چې کومي کیسي دسکهانو کولې هغه کیسې مونږ ته هم ماشومانو کړي.

یوهلک کیسه کوله، چې مونږ نه وړاندې پیغله خور ترې سکهانو بیوولې، زیبې هغوی تیخوري ماشومان ا ور ته ژوندي اچولي، چې زمابه هیڅ هېرنه شي په امرتسرکې سکهانو د مسلمانانو ښځې او پېغلې دجلوس په شکل لغړې ودرولې وې.

کپتان په خبروکې دومره جذباتي شو، چې سمې چغې یې وهلې زه وډار شوم، چې هسې نه څوک رانه شي خبرې داسې وې ته به وای، چې له مخامخ سړي سره لاس په لاس په جنگ دی هغه خپله مهاجر نه و؛ مهاجرو سم لېونی کړی و، دهغه جذبات مې چې ولېدل بې اختیاره مې اوښکې روانې وې، دهغه روښانه سترگې له غوسې سرې اوښتي وې ماته په ډېرشدت خپل هجرت رایاد شو،

هغه وویل: په هماغه عمر ماسره دانتقام جذبه پیداشوې زه دهغې جذبې په بنیاد لوی شوم مونږ ته یو هلک په مکتب کې کیسه کوله دهغوی په قافله سکهانو حمله کړې وه او بې شمېره مسلمانان یې شهیدان کړي وو، ماشومان ترې په فصلوکې پټ شوي وو، په ښځویې هماغلته بې عزتې شروع کړې وه.

هغه هلک وویل، چې ناڅاپه پرې دپاکستان پوځیان راوښتي وو او په سکهانو یې گولۍ چلولې، دوی یې له مرگ څخه بچ کړي وو او په حفاظت یې پاکستان ته را اړولي وو، ماته

وروسته معلومه شوه، چې هغه پوځې گروپ دپاک پوځ بلوڅوگروپ و، چې بیا وروسته دغه گروپ ډېرمشهور شو په هاغه وخت کې زه پوه شوم، چې زمونږ پوځیانو د مهاجرو مرسته کړې او دهغوی دوینې انتقام یې اخیستی و؛ نو له هاغه وخت نه مې ځان په پوځې وردی کې لېده، درس ته مې لا متوجه شوم پلار زیاته مرسته راسره کوله.

هغه به ویل، چې کله ته سبق ووائې؛ نو هلته به پوځې جوړېږې، د پلار زما سره ډېره مینه وه هغه زما په ذهن کې دا خبره کېنولې وه، چې هندوان او سکهان زمونږ ابدي دښمنان دي زمونږ فتح کول غواړي په انډیاکې شاملول غواړي، ما هغه وخت کې هندوانو ته دسپیودرجه ورکړې وه.

مګرزیبې دغه مینه ناکه پلار به، چې ماته ویل: هندوان زمونږ دښمنان دي هغه به په خپله زما دښمن شو دغه انقلاب داسې مینځ ته راغی، چې مور مې ناروغه شوه اود مرض په شلمه ورځ مړه شوه، زما ماشومتوب مړشو، مابه په خلاو کې خپله مور لټوله، ژړل به مې سلګی به مې وهلې پلار به سینې سره نیولم؛ لیکن هغه زما دمور تشه نه شوه ډکولی هغه پوره کوښښ کاوه؛ لیکن دمور مینه هیچانه شوه راکولی

زما نه مشر ورور باندې نه پوهېږم څه چل وشو دمورغم هره شوخي ترې ویسته غلی به ناست و ژړل به یې نه، مابه چې کله ژړل هغه به زه په غېږ کې نیولم؛ مگر غږ یې له خولې نه خوت دهغه دغه خاموشي ترشېږومیاشتووغزېده هغه په ژوندون یومړي ته ورته و، پلار ډېر دطاقت درمل ورکړل په ډېرو ډاکترانو یې وګرځاو؛ خو دمور غم وهلي یو ډاکتر هم علاج ونه کړ.

یو سهار هغه له کټ نه اوچت نشو سترګې یې خلاصي وې او یوطرف ته یې کتل پلارمې ډېر د اوچتېدو کوښښ وکړ؛ مگر هغه اوچت نه شو ډاکتر ورته ستن ووهله هم څه تاثېر ونه کړ مازیګر مهال دمحلې ښځې زمونږ کورته راتللې اوژړل به یې زه په هغه وخت کې دومره نه پوهېدم، چې زما ورور له دنیاڅخه تللی و.

دهغه سترګې له اوښکو ډکې شوې هغه دومره غریو ونیو، چې نوره کیسه یې په مخ نه شوه وړلای، وړې وړې سلګی یې وکړې، په کرار له صوفي اوچت شو او دکړکی مخې ته ودرېده دباندې تیاره وه او په تیاره کې یې کتل سترګې یې په رومال پاکې کړې، ماته یې مخ راواړوه او ویې ویل: زه نه غواړم، چې دیوې ښځې په مخکې دې اوښکې توی کړم؛ خو زیبې تاماته مینه راکړه شاید دهغې مینې تاثر و، چې اوښکو مې بندونه مات کړل اوراووتي.

ماورته وویل: پرېږده اوښکې، چې اوبهېږي مادغه اوښکې بندي کړې وې، چې وروسته راته د اورشغلې جوړې شوې او زه یې وسوزولم.

هغه ویل: زما ژوند په درېیو شیانو پورې محدود شو، کور، مکتب، او هدېره، په کورکې یو ډار راولوید پلار به زه یواځې نه پرېښودم؛ خو بیاهم دهغه کوښښ ناکام و مور او وروروم نه

هېريدل مابه ژړل او زه په دې نه پوهېدم، چې صبرځه ته وای او جبر څه ته وای؟...

# زه د چا زوی نه یم

دمور له مرګ څخه شپږ اووه میاشتې وروسته پلارمې بل واده وکړ د واده نه وروسته زمونږ په کورکې هغه ډرامه شروع شوه کومه، چې به تا هزاربار اورېدلي وي، دمېرې موردکردار نه زمونږ په ټولنه کې څوک ناخبره نه دي، په هغې کې دومره ښایست هم نه و، چې څوک دې ورته ښایسته ووایې، یوه ساده عامه جلۍ وه؛ لیکن خاننه په خپل ښایست به نازېده دغه یې اوله خرابې وه دوهمه یې داوه، چې په پلار باندې یې داهم ښکاره کوله، چې زه یوه شل کلنه اوته دپاخه عمر نه هم اوښتی یې پلار هم دهغې داغېزې نه لاندې و.

پلارمې، چې کله ماته وویل: زویه وګوره تاته مې بله مورپیداکړه زما زړه په اوله ورځ قبوله نکړه ما دهر ماشوم په څېرخپله مور ښه پرې بلله، مېرې مور به دبیګانه په شان زما په سرلاس راتېراوه او په ټول کور یې قبضه ولړوله.

په لږو ورځو کې یې پلار هم په قبضه کې راوست هغه پلار، چې زه به یې سینې سره لږولم هغه به، چې اوس دباندې نه راغی؛ نو سیده به دمېرې خنګ ته ته زه به، چې خواته ورغلم؛ نو دعادت سره به یې رسمې مینه راسره کوله؛ خو چې وخت تېرېده هغه مینه یې هم ختمه شوه

یوه ورځ زه ددوی کوټې ته ورغلم دواړه په کوټه کې ناست او انګور یې خوړل، مېرې مور مې لږ انګور په لاس کې راکړل.

او راته یې وویل: څه دباندې لوبې کوه

زیبې! ته پوهېږې، چې هغه وخت کې زما په زړه سره ماانګورنه اخیستل او هلته ولاړ وم پلارهم راته وویل: څه لاړشه لوبې کوه زه دانګورو له اخیستلوبغېرله کوټې دباندې را ووتم دماغ مې له لاسه وتلي و او په کرارکرار روان شوم، په زړه مې یوغم راغورځېدلی و، چې هیڅ یوسوچ مې نه شوکولی دومره ګیله راته درېدلي وه، چې ژړلی مې نه شو په ستونې کې مې یوخه ولاړ و، په تلوتلوکې دمورقبرته رسېدلی وم هغلته ایله زما ذهن بېداره شو، هلته مې بې اختیاره وژړل او په ژړاکې دمور په قبر پروت وم او همدغسې ویده شوې وم، چې راوچت شوم دماښام تیاره لږېدلې وه تردومره ناوخته زه له کوره نه وم وتلی په یوه منډه کورته راغلم.

پلارمې په غوسه پوښتنه وکړه، چې چېرته وې؟

ماورته ویل: دمور قبر ته تللی وم.

پلارمې نور څه ونه ویل البته مېرې ورته ویلي و، چې تردومره دې دمورقبرته قرآن وایه.

بیایې پلارته مخ راواړوه ماتاته پرون هم وویل، چې هلک بې لارې شوې دی دروغ وایې ماته د دروغو تکي خوند رانه کړ؛ ځکه، چې ماکوم دروغ نه ویل زه ماشوم وم دتحمل

ماده مې کمه وه.
په غوسه مې هغې ته وویل دروغ ته وائي ماکله دروغ ویلي.......
مېرې مې ځان خپه واچوه او پلارته مې وویل: وګوره کنه ته، چې له کوره ووځې دی زما سره بد وضیعت کوي.
پلارمې وپوهېده، چې زه دومره بدتمېزه نه یم؛ خو بیایې هم یوه ښه څپېړه راکړه دا زما دپلار اولنۍ څپېړه وه، چې وروسته د روزمره معمول جوړ شو
زه نه پوهېدم، چې ولې مېره زماسره دا سلوک کوي ؛ خو چې لوی شوم؛ نو دهغه سوال په ځواب ورسېدم، دپلار لږ جایداد او کور یې دخان او خپلوپیداکوونکو بچیانولپاره خانته کاوه، ددې لپاره یې کور راباندې جهنم کړی و، چې له کوره وتښتم یامې له جایدادځخه عاق( حک) کړي دهغې دغه ډارامه ښه په کامیابۍ سرته ورسېده.
په جهنم کې شاید څه سکون وي؛ لیکن زما په کور کې سکون نه پیداکېده، مېره زما په دماغو غوړیدلې وه، هغې زمانه دکورخدمت ګار جوړکړی و تردې، چې دهغې داولنې ماشوم ګنده کالي به هم مامینځل؛ اګر که زه یې له خپلې مینې نه•وای محروم کړای؛ نو ما به دا ټول کارونه په مینه کول؛ لیکن هغې ماته دهغه نوکر درجه راکړې وه، چې له کاره ځان پټوي او مالک له خبرو سره سره په کنځاو کار پرې کوي
زماپه ذهن ورځ په ورځ دموریادونه تازه کېده او دمور تنده مې زیاتېده زه بیاهم دخدای شکر کوم، چې له دې سره سره بیاهم ددرس مینه مې نه کمېده ښه په شوق ښوونځي ته تلم ما دځان په رقم هلکان ډېر لېدلي، چې دمېرې دظلم له لاسه عادي مجرمان جوړدي؛ لیکن مابه دښوونځي په کتابونوکې پنا لټوله په ډېرکړاو مې ترلسمه پورې ښوونځی ولوست که زه تاته دغه ناخوالې بیان کړم؛ نو زما کیسه به اخېر ته ونه رسېږي.
ماغوښتل، چې کالج کې داخله واخلم؛ لیکن مېرې اجازه نه راکوله پلارمې هم ځواب راکړ، چې چېرته وظیفه درته پیداکړم ماله دغوحکمونو انکار وکړ نتیجه ظاهره ده.
پلار زه ووهلم مېرې هم د دانشمندې غوندې نصیحتونه راته شروع کړل، چې ګوره اوس دې پلار زوړ شو له پلارسره دې لږ لاس کوه، هغوی دا سوچ نه کاوه، چې یو شپاړس کلن ته څوک وظیفه ورکوي په دغه هم په کور کې ښه لړه وشوه.
یوه ورځ مېره مې په کورکې یوازې وه ماته یې د وظیفې دپیداکېدو وویل.
ما هم په دوو ټکوکې ورختمه کړه په خلاصوغوږو واوره ته به په ماحکم نه کوې زما اوستاکومه رشته نه شته زه به دې له کوره ولاړشم ماته، چې کوم سړی ته پلارکوې هغه زما پلار نه دی هغه ستاخاوند دی نن ماښام، چې ته دغه شکایت ورته کوې؛ نو ورته ووایه، چې دغه هلک اوس ځوان شوی په هغه لاس مه اوچتوه کنه لاس به یې ورمات کړم.......
هغه کمبخته لکه اېریدلې وه.

ماورته وویل مامه مجبوروه کنه ددوا ړوپه حق به مې ښه ایښي وي، تا زما دمور هرڅه قبضه کړ، دهغې جامې اوځای دې ونیوه، دهغې دګانې مالکه شوې او له پاسه په ما زور زیاتی هم کوې نوره مې په داسي پرېشانه حالت کې پرېښوده او زه ترې روان شوم.

زما یوه ترور وه ډېره غظیمه ښځه وه هغې ماته خو واړې ویلې وو، چې کله هم تنګ شوې؛ نو د لته راځه زه له هغې کره لاړم.

هغې ماته دخان سره د اوسېدو وویل یوڅه حوصله راته پیداشوه د هغوی له کورسره دسپورت یوکلب و، چې بې شمېره ورزشي سامانونه پکې پراته وو زما په ذهن کې بیا دوړوکوالي جذبې راپیداشوې دپوځیتوب اراده مې وکړه

کوم یوکال مې دغه ورزش وکړ زما عمر اوولس کاله وو او څومیاشتې دپلار اومېرې سره مې هماغسې اړیکې وې؛ خو په ترور ډاډه وم دمېري له حکمونو اوس خلاص شوم؛ لیکن له خپلو فسادي خبرو نه اوښته په کورکې کارکول او له پلارسره خبرې مې ختمې کړې وې که به مې خبرې ورسره کولې؛ نو جنګ به جوړ و.

یوه ورځ مې له مېري څخه پینځه روپۍ وغوښتې هغې دپیسو پر ځای پیغور راکول شروع کړل ماهم دهغې پیغور ته بترځواب ورکړ، مېري په ژړا شروع وکړه پلارمې په بله کوټه کې ناست و پلارمې په یوه منډه رااووت.

مېرې په درواغو ورته وویل، چې زوی دې ماته لغړې کنځاوې وکړې ماته یې غوسه راوسته زماپه جسم کې ورته طاقت پیداشو دومره په زوره څپېړه مې ووهله، چې آن دروازې سره ولړیده او په ځمکه راولویده

پلارمې زه دشاله خوا له ویښتو ونیولم اویوښه سوک یې په خوله ووهلم مادا له یاده وویستل، چې دا زما پلاردی.

ځنګه، چې تاوویل زه دچالور نه یم دغه شان زه هم له خپل زړه وایم زه دچا زوی نه یم.

ماهم په ښه طاقت سره پلارته په خوله سوک ورکړ په دغه سوک اوڅپېړه کې دپینځوکالو د غوسې اوانتقام طاقت پټ و.

مېره لاپرته وه، چې دمېره حال یې ولېد چغې یې شروع کړې.

پلارمې ویل زه به دې اوس په حوالات کې بندکړم زه چوپ چاپ وم لاسونه اوټول بدن مې رېږده په خبرو خبرو کې هغه غریو ونیوه اواز یې ټیټ شو.

هغه په ژړغونې اواز وویل: ماخپل پلار وواهه! زیبې ماخپل پلار په سوک وواهه! دغسې-یې زه په خپل خان احساسوم، چې زه هم داسې وهل کېږم.

کله کله ددغې ګناه احساس دومره راباندې زیات شي، چې حال مې خراب شي په پلارلاس اوچتول څومره غټه ګناه ده؛ خوکله، چې زه د خپل پلارهغه وخت سلوک رایادکړم؛ نو وایم، چې ماهر څه وکړل کړهغه مې ښه و کړل

هغه په خپل رومال خپلي لندې سترګي پاکې کړې اوس؛ نو زما دپلارپه کورکې اوسېدل ناممکن و، له کوره راووتم ترلرې پورې دمېرې چغې او کنځاوې مې اورېدې دګاونډ ښځې مې هم ولېدي، چې زمونږ دکور په طرف رواني وې، زه په اوچتو ګامونودکور له سرحد څخه واوښتم. له ترورکره لاړم او ورته مې وویل، چې څه مې وکړل، هغې ته مې دا هم وویل، چې څه پیسي راکړه، چې زه خپل ځانته نوکري وګورم ترور مې په دې تنګار کاوه، چې نه ځم او له دې سره پاتې شم؛ خومانه منله، هغې د پینځو روپو او له یوه کمیس سره دهمیشه لپاره رخصت راکړ.

زما ددماغوحالت زما له قابونه بهرو دجذباتو لت مې د اور شغلو ته ورته و کله به مې اوښکي توېيولې اوکله به مې په ځان غوسه راتله په هاغه وخت کې دایوب خان مار شالي وه.

ما اورېدلي و، چې پوځې حکومت له هرچا سره انصاف کوي ماهم په دغه اراده دراولپینډۍ ټکټ واخیست او ومې ویل سیخ به ایوب خان ته ورځم او ورته به وایم، چې ستاپه حکومت کې یوې مېرې زه له خپل جایداد اوله خپل پلاراو د پلار له مینې بې برخې کړم، زه تعلیم کول غواړم؛ مانه دکور نوکر جوړوي

په هاغه وخت کې دغه اراده جاهلانه وه په هاغه وخت کې به هر دووکسانو دغه سوچ کاوه ماهم دغه سوچ وکړ او دراولپینډۍ ټکټ مې واخیست، په کومه ډبه کې، چې زه ناست وم په هغه کې څلورپوځیان هم ناست وو ورغلم اوله هغوی سره کېناستم زما ذهن فوراً دوړکتوب په طرف لاړه، چې په زړه کې به مې جذبه وه، چې لوی شوم پوځې به جوړېږم او له هندوانواو سکهانو به انتقام اخلم، ذهن ته مې لړسکون راغی ما له هغوی سره مجلس شروع کړ ماپه خبروکې هغوی ته یاده کړه، چې غواړم په پوځ کې داخل شم، د خپل وړوکوالي دخپلې جذبې خبرې مې ورته تېرې کړې، په هغو پوځیانو کې دوه دانډیا مهاجر وو زما له خبرو ډېرمتاثره شول ماته هغوی د پوځ دداخلېدو لارې راوښودې ویې ویل، چې امتحان ورکول غواړې اوکه کوم سفارش لرې هم په کارېږي.

ماهغوی ته وویل، چې زه له کوره راتښتېدلی یم نه کوم سفارش لرم اونه کومه تېکانه، ما هغوی ته ټولې خبرې وکړې ماهغوي ته داهم وویل؛ چې زه به سیده صدرایوب خان ته ورځم.

هغوی راپورې ښه وخندل اوبیایې وویل، چې ساده! ایوب خان ته ستا ورتګ لرې خبره ده.

تر پېښنډۍ پورې هغوي راسره ښه ملګري شول، دې اتفاق ته ګوره په هغوی کې یو اوس هم له ماسره حوالداردی.

په پینډۍ کې مې هغوی ته وویل، چې زما کوم شناخته نشته.

هغوی ماته وویل، چې دلته دستېشن خواته کټ بیستره پیداکېږي ته شپه دلته تېره کړه

سبا له ماسره وګوره هغه ماته خپله پته راکړه او لاړل، زه لاړم هغه هوټل ته هوټل څه و دنانوائي یو دوکان و، چې مخې ته یې کتونه اچولي وو، شپه مې هغلته پکې تېره کړه سبا زه دهغه په پته چونۍ ته ورغلم زیبې! تـه پوځیان نـه پېژنې هغه ډېرمیلمه دوسته خلک دي او د ژبې ډېر کلک دي هغه زه صوبدار میجرته وروستم، چې دهغه لرې خپلوان وهغه زه د داخلې دفتر ته معرفې کړم

هغه له مانه امتحان اخیسته شروع کړه، دلته زما محنت و، چې نور په ماکې څومره قابلیت دی په درېیمه ورځ یې زه معاینې ته وغوښتم بیایومیجر زماسره مرکه وکړه هغه له مانه هغه سوالونه کول، چې دده امید ترې کېده ما د هغه دسوال خلاف دسینې غبار ورته وویست دهغه هغه یوه خبر، چې اوس مې هم په یاد ده، چې ویل یې ګوره هلکه ما ستا ټولې خبرې واورېدې؛ لیکن په خپله رویه کې به تبدیلي راولې ستاپه رویه کې جذبات ډېر دي د پوځ له لخاظه دغه خامي ده زمونږ لپاره جذبه پکارده دجذابیت نه ډکه رویه زمونږ نه ده پکار، خپل خان، خپل دماغ په خپل واک کې ساته څه ته چې مونږ ډسپلین وایو، پوځ ته دغسې سړی نقصاني دی، چې کوم کوهې مخې ته راشي او دی د فرض په خاطر کوهې ته ټوپ کړي؛ خو پوځ هغه کس خوښوي، چې له کوهي اخوا ټوپ کړي او خپل مقصدته خان ورسوي

دهغه نصیحت ماسره ډېرمدد وکړ په امتحان کې؛ خو دمنتخب کېدو کې راباندې ډېرې ورځې په پینډۍ کې تېرې شوې، چې زیات په تکلیف وم په لنډه به یې درته ووایم، چې په څلورویشت کسانو کې درې کسان منتخب شوي وو، چې یو په کې زه وم.

دټریننګ اکاډمۍ ته لاړم بیا زما لپاره کوم مشکل نه و ټریننګ تردې اندازې سخت و، چې دمالداره کورنیو، چې کوم هلکان راغلي وو هغوی به ژړل؛ لیکن ماته په دغه ټریننګ کې روحانې سکون رسېده، مطالعه مې هم نه پرېښوده او دجسمانې لخاظه مې هم خان اس او شادي ته ورته کړی و.

نور مې له څه سره دلچسپي نه وه، پوځیتوب مې خپل منزل ګڼلی و د ټریننګ په دوران کې مې پلارسخت په یاد کې راته؛ هره لمحه مې ذهن کې و یوه ورځ مې پلار ته خط ولیکه اود پوځیتوب دافسرۍ زېرۍ مې پرې وکړ او دامې په کې لیکلې و که زه دې معاف کړی یم؛ له ټریننګ وروسته کور ته درځم هغه ډېرترېخ خواب لیکلې و.

دهغه د خواب لیکل زما د مېرې مور خبرې وې، هغه لیکلي و، چې په کور کې ستا لپاره کوم خای نشته اوخط یې په دې خبره پای ته رسولې و، چې زما لپاره ته مړ یې هغه سهې لیکلې وو دهغه زوی مړ و اوس زه د ټول قام زوی وم؛ مګر زیبې! دغه صرف جذبه وه ما په تنهایي کې څو وارې محسوس کړه، چې صرف جذبه انسان ژوندی ساتلی شي؛ مګر بیاهم دمینې او محبت نه بغېر ژوند څه ژوند نه وي

په دغه دوران کې به پوځې هلکانوته مورګانې او پلرونه پوښتنې ته راتلل؛ لیکن ماته څوک نه راتلل زما دننه پیداکېده او لوېیده همدغه خلا کومه، چې تا په خپل فطرت کې محسوس کړې خدای(ج) هغه ورځې هم تېرې کړې له هغه ځایه بیاکوم کوم ځای ته لاړم څه فایده نه کوي، په هاغه وخت کې دپاکستان له انډیاسره جنګ و؛ خوکله، چې مونږ له هر څه خلاص شو؛ نو جنګ ختم و مونږ ته وویل شول، چې زمونږ جنګ به دوام لري تاسو تیاراوسئ اوس زه تیار یم.

هغه دخپل لاس ساعت ته کتل او ویې ویل یوه بجه ده ماکله هم له چاسره دومره خبرې نه دي کړي.

# واده او فرض

ده، چې دغه ټولې وویلې؛ نوما په سکون سره ساه واخیسته او ورته مې وویل: ښه؛ نو مطلب زمونږ په واده کې کوم رکاوټ راتلو والا نه دی که ته خوښوي؛ نو باید زر واده وکړو.

هغه وویل: وبه یې کم؛ لیکن زر نه، تاسره په واده کولوکې ماته مخې ته څوک نه شي ودریدی؛ لیکن زما یومشن دی هغه به پوره کړم بیابه واده کوم.

ماورته وویل: څنګه میشن؟

هغه وویل: دادرته نه شم ویلی.

ماورته وویل، چې کله دې دغه خپل مشن سرته ورساوه؛ نو بیا به راځې زه به څومره انتظارکوم.

هغه وویل: ټول عمر، زما مشن داسې دی، چې کېدای شي زر راشم او یا ډېروخت ونیسي؛ لیکن، چې ته ژوندۍ یې زما انتظارکوه.

ماورته وویل: ټول عمربه انتظار راباندې کوي!

- چې ژوندی وم راځم؛ مګر زه دومره توقع نه لرم.

هغه وویل: ته به ډېرانتظارونکړې، زه تا نه قیدوم، وعده ضرور کوم، چې ژوندی وم ضرور به تاته راځم ته، چې هر چېرې لاړه شې زه به تا پیداکوم، تاته دوکه نه درکوم، که زه رانه غلم؛ نو زما له طرفه به خبر درکول شي، چې زه چېرې یم.

زه دهغه په جذبه یوڅه پوه شومه او یوڅه یې په مشن هم؛ خو پوښتنه مې ترې ونکړه، زه پوهېدم هغه یو پوځي و دمرګ امکان یې زیات و داهم په دې خاطر و، چې کېدای شي ټول عمر انتظار وکړې ماته خپل عقل واضحه کړه، چې داهاغه کس دی، چې زه دکوم په لټه کې وم او زه به یې ټول عمر انتظارکوم.

ما بیا هم ورته وویل، چې نور هیڅ مه وایه بس لږ په اشاري سره ووایه، چې ته دجنګ لپاره
ځې؟
هغه وویل؛ نور دخه لپاره داندیا له پوځ سره دفوټبال میچ کولو لپاره؛ خو مې نه لېږي
هغه په غوسه وویل نه پوهېږم، چې زمونږ قوت ولې انتظار کوي ددغو سیاسي لیډرانو له
لاسه همېشه پوځ ذلیله وي.
هغه په یقین سره دښه عقل څښتن و، هغه معمولي پوځي نه و، هغه زما په همدې خوښ و،
چې د انډیا په خلاف و ما فخرکاوه، چې له دغسې سړي سره مې محبت دی هغه
ددښمنانو خبرې کولې او په ماکې یې جذبه را اوچتوله.
مخکې کله هم زما دغه جذبه نه را اوچتېده، زه دشرابو په دنیاکې ډوبه وم هغې دنیاکې
کوم ملک کوم سرحد نه و اونه کومه جذبه وه؛ مګر په دغه خبرو زه سوچ مجبورولم، هغه
دیوځوجنګیو کیسې وکړې خبروخبروکې وېده شو سبا دغرمې ډوډۍ یې له ماسره وخوړه
اولاړ ما له ځان سره غوټه کړه، چې ددې سړي به ټول عمر انتظارکوم.
څه حقیقتونه وو، چې ماسوچ پرې نه و کړي، مثال هغه، چې لاړشي زه به چېري اوسم،
په هغه هوټل کې هم منیجر په دې لالچ مفته پرېښې وم، چې دهغه ګاک خوشاله وساتم؛
مګر زړه مې نه غوښتل، چې بیا دګناه دنیاته لاړه شم په هرحال دهغې خبرې هم څه غم
نه راته؛ ځکه، چې اوس زما په بینک کې ډېري پیسې وې.
په بله ورځ هغه بیا راغی او ویل یې سبامې د رخصتی ورځې ختمېږي اوپه غرمه به
روانېږم، هغه دا ونه ویل، چې چېري ځم صرف دومره یې وویل، چې په میاشت کې به
دوه ورځې ضرور راځم بیایې جیب ته لاس کړاو دسلو یوبنډل یې راوویست او زما په مخ
کې یې کېښود، ویې ویل دغه زما دټول عمر ګټه ده دا امانت نه دی تاته یې ددې لپاره
درکوم که ضرورت شو؛ نو لګوه یې.
ما دغه پیسې نه اخیستلې؛ ځکه زما دجسم او دپیسو ډېره نېږدې رشته وه، پیسه ماته
هروخت د جسم ګټه ښکارېده.
په دې هم پوهېدم، چې هغه ماته پیسې دجسم په بدل کې نه راکوي هغه ماځپله کوږده
کړې جوړول غواړې.
ماورته وویل: واخله دا پیسې نفرت مې ترېنه کېږي.
هغه وویل: ښه؛ نو نور یې چاته ورکړم ته ددې روپیو مالکه جوړېدل نه غواړې؟
ماځان راقابوکړاو صفامې ورته وویل، چې ما څه محسوس کړه، ولې مې انکار وکړ خیر دهغه
په خاطرمې واخیستې.
نه پوهېږم، چې څه وجه وه ښه په زوره زوره مې وژړل، زه نه پوهېدم، چې دامې دښې
وسی اوښکې دي.

هغه زه پخلاکولم اوله سینې سره یې نېږدې کولم دغه اولنی سړی و، چې زما له جسم سره یې کومه دلچسپي نه ښوده.
ترډېره زه دهغه په سینې پورې لکه ماشومه نښتې وم، دسکون احساس مې کاوه بیا وروسته دباندې راووتو اودکشمېر دواورو ډکو غرونو ننداره مو کولې.
زما په سترګوکې دمرې ښکلا واپس راغله دپاکستان دغه خط ماته دجنت ننداره راپه زړه پورې کولې هغه غلی ناست و او نظر یې په غروکې و.
ماورته وویل: چېرته ورک شوې؟
هغه وویل: دکشمېرپه غروکې.
ماورته وویل دسپینو واورو غرونه له شین اسمان سره ډېرښکلي ښکاري.
هغه وویل:نه سپین نه دغه غرونه لا دانسانانو په وینو رنګ شوي دي، دا به زه له نېږدې نه ګورم بیا لکه په خپله خبره چې پښېمانه شوی وي ویې ویل: هسې وایم هلته تګ کومه اسانه خبره نه ده دهغې له لهجې نه داسې معلومېده، چې کومه خبره پټول غواړي او یا ماته رانښایي، چې له دېنه نور مخکې نشم ویلی؛ خو دغه راز بیا دوه میاشتې وروسته افشا شو، چې ولې هغه په دومره بې خودۍ هغه غرونو ته کتل.
اوس، چې کله زه دغه په واورو پوښل شوو غرونو ته ګورم؛ نو له مانه څوک پوښتنه نه کوي، چې ولې زه په دومره ژور نظر دغو غرونو ته ګورم.

# هغه لاړ

هغه شپه یې هم له ماسره تېره کړه په سهار هغه ډېروختې پورته شواو زه یې پاڅولم، دسهارناشته مې پرې وکړه او دتګ تابیه یې ونیوله، په هغه مې دده په غېږ کې ښه ډېروژړل لکه پوهېدم، چې بیانه راځي، نه مې خوشې کاوه له خپل ګرفت نه مې نه ازادوه په وچ زور یې خان راخخه بیل کړ او په یوه منډه له کوټې ووت
دا چې هوټل په جګ غره کې جوړ و ولاړه وم او دکړکۍ خواته مې دهغه له شا لاندې کتل کله، چې ونو ته ورسېد؛ نو یې پورته راوکتل اولاس مې ورته وښوراوه هغه هم لاس راته اوچت کړ نور مې د اوښکو په ډنډکې دهغه تصویر ورک کړ، چې اوښکې مې پاکې کړې هغلته لوی لوی ونې وې هغه نه و.
دهغه جدائي زما له برداشت څخه وتلې وه، زړه به مې په دې صبراوه دا هاغه کس دی، چې ماته به دوکه نه راکوي، هغه تول مینه مینه و، هغه ماسره شپې تېرې کړې؛ لیکن هغه په توکه کې هم ماسره یې هوده خبرې ندي کړي زه له هغه سره دمستقبل په تصورکې ورکه وم اوپه دغه تصورکې مې زړه خوشاله ساته.

خو ورځې وروسته دقاچاقبر پیغام راورسېد، چې د زر راتلو یې ویلې و او د هوټل میجر بېل نښتی و، چې مه څه او په هوټل کې اوسه، ماهم په درواغو غلطاوه، چې زه نوره نه خم او دلته اوسېدل غواړم په دغه صورتحال کې یوه میاشت ووته، هغه بیا ناڅاپه راغی زه په کوټه کې وم مونږ په ډېره بې تابی سره ولېدل هغه صرف دیوې شپې لپاره راغلی و. هغه دخپل کارنه دومره راته وویل، چې دمشن وخت رانېزدې شوی هغه خوشاله و ناڅاپه جذباتي شو په هغه شپه یې راته وویل: که زه چېرته په جنګ کې مړشوم ته به څه کوې؟ ما به هېروې؟

ما د ژوند په دغه اړخ هیڅ غور نه وکړی، چې کېدای شي هغه شهید شي، یایې یولاس، یایې یوه پښه یایې سترګې دهمیشه لپاره له مینځه ولاړې شي کله، چې ده وویل: که زه مړشوم؛ نو ته به څه کوې؟

نو ماپه ډېره بې صبری په غېږ کې ونیوه.

ماپه ژړا هغه ته وویل: دخدای(ج) لپاره داسې مه وایه ته نشې مړکېدای.

هغه ماته وویل: زیبې! له جذباتو نه راووځه زه مرګ ته نه ځم؛ خو حقیقت دی دمرګ اوسپاهې په منځ کې غټه رشته او یارانه روانه ده کېدای شي زه بیا له تاسره ونه وینم او زما دمرګ پیغام تاته ورسېږي او داهم کېدای شي، چې خپل مشن پوره کړم اوتاته راشم؛ لیکن دا تاته صفا وایم، چې که ملک زمانه خپل ځان هم وغواړي؛ نو زه ترې انکار نشم کولای، زه به دغه سوچ ونکړم، چې زیبې! زما انتظارکوي زه دې رانشم.

ما یو سوړ اوسیلی وویست او چپ شوم هغه په وار وار زما سترګې مچې کولې، لږ وروسته هغه ځملاست هغه دیومضبوت کردار خوان و زر وېده شو، زه ویښه وم، زه کرار دهغه نه پاځېدم هغه په خوب کې زما لاس نیولی و زه ناسته وم په کوټه کې اسماني رنګه ګروپ بلېده، په دغه اسماني رنګه رنګ کې دهغه شکل یومعصوم ماشوم ته ورته و دهغه په څهره کې معصومیت پروت و.

هغه ماته ویل: که ملک زما نه دځان( سر) وغواړي هم به انکار ونه کړم.

که په مینځ کې دملک خبره نه وای مابه هغه هیڅ له ځانه جداکړی نه وای، ز ما له ملک سره مینه وه؛ خو دپاکستان نوم مې له ذهن څخه پاک کړی و، ماته هغه رایادکړه، چې پاکستان زمونږ ملک دی، هندو زمونږ دښمن دی اومونږ دسیلاب په شان په وینو دغه خطر پیداکړی زما په خیال کې دغه تریخ خیال ضرور راغی، چې پاکستان ته دغه معصوم خپله نذرانه ورنه کړي؛ نو دغه ملک به قایم پاتې نشي؛ خو بیا ماهم په زړه کې له خدای(ج)څخه داغوښتنه کوله خدایه(ج) که تاته دقرباني دیوځان ضرورت وي زما ځان واخله؛ مګر زما ځان شاید دومره ناپاکه وي، چې خدای یې هم قبول نکړي، ماهغه ته کتل لایې اوس هم زما لاس په خوب کې کلک نیولی و، دهغه ماشومتوب مې سترګوته ودرید

بې اختیاره مې اوښکې ورته روانې وې.
ما ویل، چې څومره په سختوکې لوی شوی او په دغه ځوانۍ کې کومه جذبه ورسره ده، ماته دهغه په څهره کې کومه دوکه اوفریب نه ښکارېده ماسوچ کاوه، چې دهغه مشن به څه وي، چې ماته یې ویل نه غواړې یوخیال مې سوچ ته راغی، چې کېدای شي انډیا تـه بـه یې دجاسوس په توګه لېږي؛ ځکه هغه ماته دیوې جاسوسې په نظر کتل، کېدای شي دی به دپاکستان تربیه شوی جاسوس وي، بیا مې د هغـه د مشـن پـه بـاره کـې سـوچ پرېښـود اودامې له ځان سره غوټه کړه، چې دده په زړه کې کوم پوځې راز دی هغه بـه همـداسي ناسپړلې پرېږدم نه پوهېږم، چې تر څه وخته پورې ویښه وم او په سوچونو کې تللې وم؛ خو کله، چې مې بیاسترګې خلاصې شوې هغه مې په غېږ کې پروت و او وېده و هغـه، چې کله راویښ شو په ښه موډ کې و، نه پوهېږم ولې مې ترې دغه سوال وکړ: ستا ملګرو ته دغه معلومه ده، چې ستا تېرشوی ژوند څنګه و او له کوره تښتېدلی یې؟
هغه وویل نه؛ خو مخکې افسرانو ته دا معلومه ده، چې زه د..... ښاراوسـېدونکی یـم او لـه ښې کورنۍ څخه یم
زمونږ په ټولنه دي لعنت وي، چې مونږ دجذبې او دایمان له طرفه نه پېژندل کېږو؛ بلکې د اوچتو کورنیو په نوم پېژندل کېږو ددي لپاره ما؛ ځکه ځان ندی پېژندلی.
دغرمې ډوډۍ یې راسره وخوړه او لاړ؛ خو داځل مې محسوس کړه لکه له ځان سره یـې، چې زما له سینې زړه هم وړی وي.

# وروستی دیدن

هغه وویل شل پینځه ویشت ورځې وروسته به راځم ماهم کله په یوه او کله په بلـه بانـه لـه منیجرڅخه ځان ساته، دهوټل په محفلو کې مې برخه اخیسته، منیجر دهغه کپتان پـه بـاره کې سوالونه کول او ما په درواغوځوابول هغه ته مې وویل، چې زمونږ په مینځ کـې څنګـه رشته ده
یوه ورځ دایـوب خـان د دور یوغـټ صاحب پـه هوټـل کـې ولېـدم هغـه ډېرخـوښ شـو دقاچاقبرۍ په وخت کې زه هغه ته درې ځلې وراستول شوې وم هغه غوښتل، چې شپه له هغه سره تېره کړم؛ لیکن ما دمرض بهانه وکړه؛ خو هغه د پرېښودو نه و هغه احسـانونه بـارول شروع کړه بیا هم زه ورته نه تیارېدم؛ نو ډاروونکې اختارونه یې شروع کړه او په غوسه لاړه.
دا نو دګرمۍ موسم و دمري داوسېدو ورځې وې دملک افسران سیاسي لیـډران بـه مـري ته راتلل او په دغو هوټلو کې به یې اړول مابه دېټېدو کوښښ کاوه؛ خو بیا به هم کله ناکله یونیم لیدم، مابه دځېلې ښځینه ناروغۍ بهانـه کولـه او دابـه مـې ورسره زیاتـه کـړه، چې

ډاکترانو دمکمل ارام راته ویلي؛ خو زه پوهېدم، چې به ما ترهغو پورې پرېښودې ترڅو، چې زما ښایست ژوندی وي زه پردې خوشاله وم، چې هغه کپتان ته مې ټول حال صفا ویلی و

شل ورځې وروسته هغه بیا ناڅاپه راغی اوس؛ نو هغه خبرې پرېږده، چې مونږ څنګه سره ملاو شو.

هغه له ډوډۍ وروسته زه دځان خواته کېنولم اودایې راته وویل: زیبې(( ۱۹٤۷)) اګست یې یاد کړه او خپل هجرت یې یادکړ زه غلې ناسته وم.

ماته یې وویل: سترګې دې زما په سترګوکې خښې کړه زه دهغو معصومو شهېدانو د وینې انتقام اخیستوته روان یم کوم، چې په((۱۹٤۷)) کې په بې رحمانه ډول ووژل شول ماته پکار ندي تاته ووایم، چې زه چېرې روان یم؛ خو ماته چې تاکوم حیثیت راکړی او زه دې په تیاره کې نه یم ساتلی مجبور یم درته ووایم زه یو پوځې قومندان یم او اشغال شوي کشمیرته دانتقام لپاره ځم.

زما ایله اوس پام شو، له څو ورځو نه په اخباروکې دغه خبرونه راتلل، چې کشمیرته دپاکستان پوځي ځوانان په ناقانونه را اوړي او بمونه الوزوي او پاکستان به دغه خبرونه بې بنیاده بلل کله، چې ده وویل زه کشمېر ته ځم؛ نو دا خبرونه مې په ذهن کې تازه شول، دغه پوځیان په پټه کشمېرته داخلېدل زه خپل کپتان ته دومره متوجه وم، چې مې ترې ونه پوښتل، دا څه سلسله ده.

هغه ویل زه دې مشن ته ترډېره منتظر وم اوس زما انتظارختم شو سبا به ځم.

ماوویل زما انتظار به کله ختمېږي.

هغه وویل ډېر زر یا به زه راځم اویابه زماله طرفه خبر راشي هغه د یو پوځي میجر نوم واخیست، چې زه اوس تاته دهغه نوم نشم اخیستلای دغه میجر به زما پیغام تاته رسوي.

ماهغه ته ډېرووېل، چې اخېر ستامیشن څه دی کشمېرته څنګه داخلېږې او راوزې به څنګه؟

هغه وویل زه مجبور یم دانشم ویلی بیا؛ نو ما یوڅه جذباتي خبرې وکړې.

هغه غلې کړم ویل له جذباتو څخه راوځه په حقیقت وغږېږه زما په سترګوکې اوښکې ډنډ وې هغه زه په مزاحیه خبرو ډاډه کولم ناڅاپه جذباتي شو د هغه په جذباتي رنګ کې هم حقیقت و، بیایې زما څخه تشکر وکړ، چې ماکومه مینه ورکړې وه، دکومې مینې تندې، چې زما سینه سوځوله، زه دومره بې قابو شوم په غېږ کې مې ونیوه او دماشومانو په شان مې ښه ډېروژړل

دماښام شپږ بجې وې، چې هغه له ما رخصت اخیسته ماهم ځان په برقه کې ونغښت او ورسره روانه شوم هغه ډېر په تېزۍ سره روان و اخیرمونږ هغه د خدای(ج) پاماني ځای ته

ورسېدو، هغه ونه درېد او نه يې په څټ راوکتل هغه شايد له دې ډارېده، چې زما اوښکې د هغه مشن ناکام نه کړي په ځودقيقوکې هغه لرې ورسېد له لرې يې خالي لاس راته اوچت کړ او نورمې له سترګو پنا شو لمر په لوېدو و زه د مري په تياره کې ډوبه ولاړه وم.
له هغې ورځې وروسته به ما همېشه دکشمير له واورو ډکوغرونو ته کتل زما مانښامونه وران شول شپې مې لاپسي تيپې تېارې شوې او هر وخت به مې دهغه دسلامتی دعاوې کولې، زما حالت اخېر دې ته ورته شو، چې دچا دپښو اواز به مې واورېده؛ نو مابه ويل زما کپتان راغی يا هغه ميجر راغی کوم، چې هغه راښودلی و، چې زما خبر به درته راوړي
دغو دقدمونو اوازونو به زه زياته ډارولم زړه به مې دربېده نه پوهېدم، چې زړه ته مې ولې داخيال راته، چې دکپتان په ځای به ميجر راځي او ښه خبر به نه راوړي
په هغو ورځو کې((١٩٦٥)) اګست دهندوستان اخبار به هم هلته رارسيده، چې په هغه کې يو انګرېزي اخبار( ستېټمين) و تردې هوټل به رارسېده مابه هغه اخبار روزانه لېده په دغه اخبارکې به دهغو پوځيانو نومونه راتلل کوم به، چې کشمېر ته په پټه راتلل يوه ورځ په هغه اخبارکې دپاکستان او د ازاد کشمېر د درېيو پوځيانو عکسونه چاپ وو، چې سترګې يې پرې تړلې وې، دغه پوځيان يې په اشغال شوي کشمير کې نيولي وو، ددغو پوځيانو په تصوېروکې زه دهغه کپتان په تصوېرکې ورکه وم ماکې اوس دومره تبديلي راغلې وه، چې دکپتان او دپاکستان دواړو سلامتي مې غوښته ؛ خو زه نه پوهېدم، چې خپل کپتان به په پاکستان قربانوم.

# د کپتان خبر میجر راوړ

اخېر یوه ورځ دغه دقدمو اواز، چې به ما هره ورځ اورېده زما دکوټې تر وره پورې راورسېده له دروازې نه کرار ټک ټک راغی په یوه منډه مې دروازه خلاصه کړه دمضبوت جسم میجر په دریشی کې ولاړ و

هغه په کرار وویل: زیبې!

ماوویل: بلې وایه تاسو د هغه خبر راوړی.

هغه په کرار زما کوټې ته راننوت، دروازه یې بنده کړه او ویې ویل کېنه! هغه ولاړ و سترګې یې وچې وې، چې څه خپګان ترې نه ښکارېده په څهره کې یې د جدیتوب رونق و، چې د هر پوځي په څهره کې وي؛ خو بیاهم دهغه په مخ کې هغه لیک و، چې ده نه ویلو، هغه ماته کتل او چپ و زما په جسم لړزه راغله په تېزی مې هغه له مټه ونیوه د صبر لمن نیول رانه هېر و.

ورته مې وویل: ووایه، چې شهیدشو، ووایه زه دې خبري ته تیاره یم.

هغه زما په سر لاس کېښوده او ویې ویل: دهغه اخېري پیغام دا و: زیبې ته ووایه چې ژاړي به نه.

ماوویل: نه ژاړم، نه ژاړم او له دې سره مې له خولې ښې په زوره چغې وختې په ځان مې بې وسه وم هیڅ مې ځان په خپل واک کې نشو راوستلی اونه هغه زما دچپ کېدوکوښښ کاوه نه پوهېږم، چې ترڅو پورې مې سلګی وهلې.

میجر ته مې وویل دهغه لاش چېرې دی.

هغه وویل دداسې اتلانو لاشونه په لاس نه راځي سېده ـ خدای(ج) پورې رسېږي، په کرار کرار زما خواته راغی د هغه عمر به له دېرشوکلو ښکته و ځوان هلک و.

ویې ویل: زه هم دیوچا څه کېږم اوس وار زما دی؛ اګرکه زمونږ میندي، پلرونه، ورونه او خویندې زمونږ په شهادت ژړا ته کېني؛ نو یوه ورځ به ددې قوم سره د ژړا نه سېوا بل څه نه وې ورسره ته دغسې قوم، چې په زنګنو یې سر ایښی وي او ژړا یې خوښوي دهغه په خبرو کې دومره اثر و، چې زما د سینې غم یو څه کم کړ.

هغه وویل، چې له کپتان سره نور لس کسان اشغال شوي کشمېرته ولېږل شول د هغوی مشن دېرخطرناک و د هغوی د واپس راتلوامېد نه کېده، چې ژوندي به

راشي په بدقمستی سره هغه ددښمن په نشانه کې راغلل اوټول پرته له دووکسانو شهیدان شول، په هغو دووکې یو رارسېدلی او بل لا نادرکه دی؛ لیکن بیاهم هغوی خپل مشن پوره کړی دی.
ماپه ډېرې بې صبری وویل: ما له هغه پوځي سره مخامخ کړه کوم، چې ژوندی راغلی.
دهغه ځواب منفي و.
ماویل زه دهغه له خولې دکپتان داخېري خبرې اورېدل غواړم او معلوموم، چې هغه په څرنگه بهادری شهیدشوی کېدای شي زما غم په فخر بدل شي.
هغه وویل: پوځې احکام دغه اجازه نه راکوي، چې زه تاته تفصیل ووایم کوم تفصیل، چې ته غواړې هغه زه هم ویلی شم؛ خو مجبوره یم نشم ویلی، چې دهغه مشن څه و، څنگه لاړ، څنگه کشمېرته داخل شو، زیبې ځان لړ پوه کړه! باید دغه راز هر پوځې په خپله سینه کې وساتي بیا هغه دپتلون له جیبه یوه خط راوویست او ماته یې ونیو داد هغه اخېري پیغام دی، چې دمشن له پوره کولو یې لړ مخکې لیکلی
ماکاغذ خلاص کړمیجر وویل: دغه خط هم یوه کیسه ده کوم ځوان، چې واپس راغلی هغه ویل، چې کپتان دحملې دشپې نه مخکې ولیکه او په خپل جیب کې یې کېښود او مونږ ټولو ته یې وویل که چېرې زه شهېد شوم؛ نو دا به زما له جیب څخه وباسئ او ترمیجره به یې ورسوئ کله، چې کپتان دجنگ مخې ته ورته؛ نو دغه خط یې یو حولدار ته ورکړی و لا دهغه په لاس کې و، چې گولۍ د حولدار له مرۍ ووته او لیک ددغه هلک لاسته ورغی، چې ژوندی راغلی و.

( دغه دکپتان دلاس لیک دی سم نه ښکارېده کوښښ کوم، چې سم یې راوژباړم. م ـ د)

**د کپتان لیک**

*زما زیبې!*

*زما محبت اوسلام قبول کړه!*

*د دښمن په سر ولاړ دغه خط درته لیکم خپلو پوځیانو تـه مې ویلـې کـه زه شهېدشوم؛ نو دغه لیک به تر تا در ورسوي معلومه نه ده، چې کله به تاته در ورسېږي که نه، زه یو پوځي یم زما سره الفاظ نشته سېده سېده خـبره کـوم، په دغو ښه ځان پوه کړه، چې ژاړي به بلکل نه*

*دغه اخېري وخت کې مې په زړه کې خدای(ج) یاد دی او ته.*

*لږ وروسته به زه لـه خپلوځوانـانو سره پـه دښـمن لکـه دبجلـی ورغورځـو پـه اشغال شوي کشمېرکې به دغسي دماکې ووینې، چې غږ به یې په نوي ډهلي پورته شي*

*زه ددغه مشن لپاره ژوندی وم او ستا لپاره به هم ځان ژوندی پرېږدم؛ لیکن په دغه وخت کې ستا نه دغه مشن راته ګران دی، که زه در ونه ګرځېـدم؛ نـو ژاړه مه او ماهېرکړه خپل ځان زما له یادونوڅخه ازادکړه، کـه دې لـه چـاسره واده وکړ لا به ښه شي.*

*زه به په خپل مشن کـې ضرور کامیـابېږم ستامینې ماتـه حوصله راکـړې پـه کشـمېرکې، چـې زمـا وینـه تـوېږي لـه هغـې بـه هـم ستا دمینـې خوشـبوی اوچتېږي*

*داسې وښایه، چې تاخپل محبت په کشمېرقربان کړ.*

*دخدای(ج) پامان*

*صرف ستا...*

میجر له لږ ځنډ وروسته لاړ ما دخط ویلوکوښښ کاوه، چې به مې دوه کرښې نه وې ویلې نور به د اوښکو په ډنډکې رانه ورک شو زما د ټولې زندګی حاصل دغه ځوالفاظ و، چې یو د مینې تږي دخپل مرګ نه مخکې ماته لیکلي وکله، چې مېجر لاړه زما ذهن هغه کنډر ته ورته شو، چې هرڅه پرې یرغل راوړي هغه سوچونه اوس هم زما په ذهن کې تاوېږي اوس؛ خو سم زهرجن شوي ؤ زه اوس هم سوچ کوم، چې ځومره ځوانان، ځومره جنګی او ځومره مینې دکشمېراو پاکستان په نوم قربان شول.

ولې صرف ددې لپاره، چې له مونږ څخه دښمن خپل نیم ملک جداکړی؟

هغه میجر بیا ما ونه لېده هغه ویل اوس زما وار دی، کېدای شي هغه هم شهېد شوی وي اودکپتان په لار تللی وي؛ مګر زه دخپلو لېدرانوڅخه ددې سوال د پوښتنې حق نه لرم؛ ځکه چې زه یوه رنډۍ یوه فاحشه یم

په ټولنه کې زما مقام نشته؛ خو ما هیڅوک له دې نشي منع کولی، چې په هغې ولې ژاړې دهغه د شهادت له اطلاع وروسته ما ډېر وژړل، د هغه وخت ذهني حالت به مختصر درته ووایم، چې زه یوې منتلې ته ورته وم کله کله مې غوښتل، چې ځان دلیونیو په روغتون کې داخله کړم دغه حالت مې تریوې میاشتې پورې وغځیده، یو میاشت وروسته حقیقت ته راغلم د واده سوال نه پیداکیده زما سره کافې پیسې وې ترعمره مې ښه ګذاره پرې کولای شوه

دهوټل منیجر ته مې هم وویل، چې نور زه دکارکولو نه یم ته له ماڅخه بیل وصول کولای شې، زه نوره نه له تا سره کار کوم اونه له هغه قاچاقبر سره؛ خو منیجر ښه سړی و هغه ته مې ټوله کیسه تېره کړه، چې هغه څوک و، چې ماته راته او په کومه لار لاړه

منیجرزما دتسلی لپاره ډېرې خبرې وکړې بیا به په بله واوښت او زه به یې خپل کار ته متوجه کولم؛ خوما نه منله کله، چې ما بیا دباعزتې وظیفې پیداکولو اراده وکړه؛ نو مخکې تېرې تجربې مې سترګو ته ودرېدې دلته زه هم له حقیقت سره مخ شوم زما امېدونه په اوبو لاهو شول او مستقبل مې بیا په تیاره کې پاتې شو.

هغه داسې، چې قاچاقبر بیابیا دغوښتواحوالونه رالېږل او ماټال کول.

یوه ورځ هغه په خپله راغی ویل یې ته ولې دهوټل ژوند خوښول غواړې؟ ماته صفاځواب راکړه!

ماهغه ته خواب ورکړ او ورته مې وویل، چې زه دیوې حادثې ښکارشوې یم اودا مې هم ورته وویل، چې زه اوس د ذهن او د دماغو له لحاظه بیکاره شوې یم زه نور تا ته پکار نه شم درتلای

په حقیقت کې هم زه دهغه دکار نه وم؛ خومشکل دلته و، چې دهغه راز زما په سینه کې و د قاچاقبرۍ په نظام کې دغه قانون دی، چې څوک له میدانه وتښتي او راز ورسره وي دهغه سزامرګ دی زما سره همدغسې کارکېدای شو؛ لیکن هغه په ما اعتماد وکړ.

البته دغه یې هم وویل که دې حال ووایه سزا دې مرګ دی.

ما د فاحیشې ددنیا نه د وتو فیصله کړې وه دغه احساس ماته ډېر زر وشو، چې زه یو خوب وینم، څکه کوم افسرصاحبانو، چې زه پېژندم هغوی زمانه نه کرارېدل او ما به په دې بهانه ټال کول، چې زما مرض دی په هغوکې یوداسې و، چې زماپه کوټه کې راته دېره شو.

ماهغه ته دهغه کپتان په باره کې وویل اوهغه ته مې واضحه کړه، چې زه به د یوشهېدمینه ناپاکه نه کړم؛ لیکن په هغه یې هیڅ اثرنه کاوه اونه یې کوم اهمیت ورکاوه.

هغه وویل: څنګه شهېد هغه دقوم حدمتګار و، هغه ته معاش ورکول کېده، هغه یې دخپلې دندې لپاره بیولی اومړشوی بس خبره یې ختمه شوه

ما لکه دیوې شیشکې په څېر په هغه شوکارې ولګولې ګریوان ته مې لاس ور واچاوه او چې څه مې خولې ته راتلل هغه مې ورته وویل هغه خندل اوکله، چې زه چوپ شوم.

هغه وویل: نن سبا که هرچاته اشاره وکړم او ورته ووایم، چې دا جاسوسه ده؛ نو ومنه، چې بغېرله قضیې به جیل ته ځې، په هروخت کې زه په تا دغه الزام لګولی شم سوچ وکړه او لاړه.

په دوهمه ورځ د هغو دوو نورو اختارونه هم راته وشول، زما ذهني حالت له مخکې نه هم خراب و، چې دوی لاپسې خراب کړ، سمه دمه لیونۍ جوړه شوم.

په دغه لیونتوب کې مایوخپلې کوټې ته راوغوښت او ورته مې وویل: زه اوس له هغه قاچاقبر سره نه یم اول زما فیس راکړه زه په دغسې جال کې نیول کېدم، چې ماهیڅ خان نشو ترې ویستلی

اوس تاته دا نشم ویلی، چې له هغه ځایه کـوم ځـای تـه لاړم، لـه هغـه ځایـه مـې بیاچېري قیام وکړ، ما دځان دخلاصولواو ددې جال نه وتلو ته ډېر لاس او پښې ووهلې؛ خو زه یوازې وم لکه د یو وړوکې مـاهي پـه شـان، چـې د لویـو ماهیـانو خوراک کېږي، زه له دغه ډوبیدو نه ونه ژغورل شوم او نه زه اوس ژغورل غـواړم، امیدونه مې مړه شول، ارادي مې مړې شوې، دخپل شـهید زیبـې مـړه شـوه، یـوه فاحیشه ژوندی پاتې شوه دکومې، چې وروړ هم غوښتوونکی شو.

زه د چا خورنه یم

زه د چالور نه یم.

پای

۲۰۰٦/۱۲/۵ اکوړه ختک

د قاسم حجره